# خرمړی

## د عزيز نسين د سياسي او ټولنيزو طنزونو ټولګه



آريان پښتو کتابتون
2022
+971501455350
ARYAN PASHTO LIBRARY

ليکونکی: عزيز نسين

ژباړن: ډاکټر محمد فريد بزګر

ختیځ د بیا رغونې اداره ، دخپرولو څانګه، خپرنی لړۍ-۲۳

راځئ ملګرو زموږ په دې شاته پاته ټولنه کې ، کتاب لوستل عام کړو تر څو مو آینده نسل آزاد ، ارام او سوکاله ژوند ولري .!

# خرمړی

په درنښت | آریان پښتو کتابتون

د ترکي لیکوال عزیز نسین لیکنه
ژباړن: ډاکټر محمد فرید بزګر

دا کتاب ( خرمړی ) د آریان پښتو کتابتون
لخوا ټولو مسلمانانو ورونو او خویندو ته
دي ډالۍ وي ...!
او ما آریان په خپلو نیکو دعاګانو کې یاد
ساتئ ..!

آریان پښتو کتابتون
2022
ARYAN PASHTO LIBRARY
+971501455350

د کتاب پېژندنه:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | : خرمړی |
| لیکوال | : عزیز نسین |
| ژباړن | : ډاکټر محمد فرید بزګر |
| خپرونکی | : د کور د خپرونو څانګه |
| تمویلونکی | : د ختیځ د بیا رغونې اداره (کور) |
| ټایپ او کمپوز | : م. ف. بزګر، د کور د خپرونو څانګه |
| د ژباړې نېټه | : ۱۹۹۲ |
| د چاپ نېټه او ځای | : وږی ۱۳۷۹، سپتمبر ۲۰۰۰، پېښور |

# بسم الله الرحمن الرحيم

## یو څو خبرې

دا د ترکي لیکوال عزیز نسین د طنزونو ټولګه چې د محترم لوستونکي په لاس کې ده، د ترکي ټولنې ښکارندویي کوي، چې زموږ د سوچه اسلامي ټولنې سره د هغې فرق او توپیر له ورایه څرګندیږي.

د نوموړي لیکلوال دا سیاسي ټولګه چې د خرمرې په نوم نومول شوې نړیوال شهرت لري، او د نړۍ په اکثرو ژوندیو ژبو ژباړل شوې ده، چې د دې له خپریدو وروسته نوموړی ۱۵ کال سیاسي بندي شو.

نوموړي لیکوال په خپلو ټولو لیکنو کې ټولنیزې ناخوالې په ډیر ښه شکل څرګندې کړي دي، په ډیرو ځایونو کې د خندا پر ځای ژړا پکار ده، خو هغه ژړا له هم د خندا رنګ ورکړی دی، د خلکو تظاهر او ځان په بل ډول څرګندول د عزیز نسین د لیکنو ډیره برخه جوړوي.

د انسانانو له خلوص او ساده ګۍ څخه ګټه پورته کول او یوازې د ځان په هکله فکر کول هغه څه دي چې د نوموړي په لیکنو کې ورته ډیر ځای ورکړل شوی دی. هغه دیو صفته انسانان چې د انسانیت نوم په شرمیږي په ډیر ښه ډول بربنډ کړي دي.

کاشکې یو عزیز نسین د افغاني ټولنې په اوسني پیر کې هم وای، چې نړیوالو ته یې د افغانانو معصومیت څرګند کړی وای او د بې رحمه ظالمانو د څرګند ظلم، چې موږ یې د نوم په یادولو په وینو کې لمبول کیږو، اصلي څیره نړیوالو ته بربنډه کړې وای.

ما دا ټولګه ډیر پخوا (۱۹۹۲ع) ژباړلې وه، یو ځل ټایپ شوه، خو چاپ یې ښه نتیجه نه ورکوله، یو ځل په ناروې کې په کمپیوټر ولیکل شوه، خو بیا د هغې سایز یا اندازه برابره نه وه، او یو ځل محترم صافي صاحب په ښکلو

ګوتو خطاطي کړه، خو بیا هم په کې څه ستونزې وې. قسمت به همداسې و، چې اوس يې د چاپ توان پيدا شو او ستاسې لاس ته دررسیده. هیله لرم چې په راتلونکي کې هم وکولای شو، د نوموړي ليکوال نور اثار تاسې ته وړاندې کړو.

هيله ده چې دا كتاب په ډير غور او دقت ولولئ، که څه هم کتاب د ترکي ټولنې په شرايطو کې ليکل شوی دی، خو ځينې برخې يې داسې دي، چې لوستونکی فکر کوي چې عزيز نسين، ترکی نه او همدا اوس د افغانستان په کوم ګوټ کې ناست او يا د کوم مهاجر افغان په څير د هجرت په ناخوالو کې ډوب او د خپل زړه براس يې په دې شكل هسك کړي دي.

نور مو وخت نه نيسم،او له يوې نړۍ مينې سره مو د دې ښکلي كتاب لوستلو ته رابولم.

ستاسې خدمتګار
محمد فرید بزګر
۲۰۰۰/۰۹/۲۴
پېښور، بر تاکال، شاهين ټاون

t.me/AryanPashtoLibrary

# عزیز نسین څوك دی؟

محمود نصرت چې په عزیز نسین مشهور دی د ترکې یو نومیالی لیکوال دی چې په ۱۹۱۵ عیسوي کال کې په استانبول کې زږیدلی دی. عزیز نسین د خپل ادبي فعالیت په ژوند کې له ډیرو مجلو او ورځپاڼو سره همکاري کړې چې له دغو څخه د "مارکو پاشا" ورځپاڼه د یادولو وړ ده، چې د ترکي لیکوال صباح الدین علي د مضامینو له کبله وتړل شوه. عزیز نسین په نړۍ کې د ټولنیزو او سیاسي طنزونو د ښوونکي په نوم مشهور دی.

دې پیاوړي لیکوال په خپلو اثارو کې د نننۍ ترکې ټولنیز تضادونه په (کوم به ښه بریالی کېږي، وروستنی، دوه غوږۍ ړوند، او ...) د امریکا د امپریالیزم او د ترکې د رژیم همکاري په (امریکایي مرسته، څنګه مې ځان وژنه وکړه، او ...)، د ارکستر سړی، که زه ښځه وای او.. کې افشا کوي.

د عزیز نسین د آثارو اتلان اکثراً کوچني کارکوونکي، کسبکاران او بې وزله وګړي دي.

آریان پښتو کتابتون

د نوموړي مشهور اثار عبارت دي له: ژوندی دې وي، موږ نه سړي کېږو، خرمړی، د سپي لکۍ، هغه سړی چې ښځه شو او سپینکي.

د دې ترکي لیکوال ډیر اثار د نړۍ په ژوندیو ژبو ژباړل شوي دي. د هغه نمایشنامې د نړۍ په اکثرو هېوادونو کې د ستژ په سر ښودل شوي دي. د عزیز نسین طنزي آثار په نړیوالو سیالیو کې څو ځله جایزې وړي دي. او په ۱۹۶۹ کې یې د "کروکودیل" د مجلې جایزه وړې ده.

# څنګه لیکم؟

ډیر خلك له ما څخه دا پوښتنه کوي، چې څرنګه دا دومره کتابونه لیکم؟ ځینې په دې عقیده دي، چې هنرمندان د یو ځانګړي تخیل خاوندان دي، چې له پرښتو څخه الهام اخلي. خو زه د الهام کومه پرښته نه لرم. ښایي چې زما الهام د بدبختیو له دیو څخه وي. پرښتې د انسان په اوږو کښیني، خو زما د الهام دیو په په مغزو ناست دی. زما د الهام دیو نیم الوتونکی او نیم نور یې پرښته نه ده هغه له لسو څخه یوه برخه انسان او نور ټول یې ښامار دی.

آریان پښتو کتابتون

زه لیکلو ته پیدا شوی یم، ورځنۍ اړتیاوې ما لیکلو ته اړباسي. زما په شان خلك چې ژوند یې د لیکلو په وسیله تامینیږي، باید بې له ځنډه ولیکي. زه د ټولنې زیږنده یم هر څه مې له ټولنې څخه دي. زما د متن سوژه، د انسانانو یو له بل سره برخورد، د زبیښونکو اصلي څیره، مجبور او اړ خلك او کسبه کار دي.

رښتیا هم موږ په عجیب وخت کې ژوند کوو. زما د لیکلو طرز، نظر موضوع ته فرق کوي. له دې کبله چې په ژوند کې مې هر ډول کار لکه کورنی ښوونکی، خبرلوڅي (خبرنګاري)، دکانداري، عکاسي، لیکوالي، ګلابیتوب یا نایتوب او نور ډول ډول کارونه کړي دي. زه دومره لیکلو ته مجبور وم، چې له ناروغتیا لپاره مې وخت نه درلود، خو دا چې څومره مې د ویونکو پاملرنه جلب کړې ده دا جلا خبره ده چې پخپله باید له لوستونکو وپوښتل شي، هغوی هر چېرته کولای شي، چې زما د قصو اتلان پیدا کړي، ښایي چې تاسې پخپله یو د قصو له اتلانو څخه اووسئ. په هر حال د ویلو لپاره کومه نوې خبره نه لرم.

# (۱)

ښاغلی غوباړی!

همدغه راز چې مې په مخکینیو لیکونو کې در ته ولیکل، وروسته له ډېر وخت نه چې مې د مرګ او هوساینې غوښتنه کوله، بالاخره یې زما نیم ځانه جسد یو دولتي روغتون ته یوړ. هغه ډاکټر چې زه یې بـاید کتلـی وی، او زمـا د ښخولـو اجازه یې ورکړي وی، ناروغپالې (نرسې) ته مخ واړوه، او ورته یې و ویل:

- آیا دا سړی په ربښتیا مړ دی؟

- ګناه دې، د چپړاسي په غاړه وي، هغه وایي، چې مړ دی، زه نه پوهیږمه.

د ډاکټر عصاب خراب شول او وې ویل:

- زه په خپلو کارونو کې ډېر باډسپلینه یم، تر څو چې پوه نه شم، چـې مړ دی که ژوندی، د ښخوَلو اجازه یې نه شم ورکولی! نن ورځ په هیچـا چـې مړ دی که ژوندی، اطمنان نه شم کولی. کله یې چې یې روغتون تـه راولي، وایي مړ دی. موږ یې هم د ښخولو امر ورکو. خو کله چې مړ مینځی (مـرده شوی) یې لمبوي، نو یو وار تخنیږي او په لغتو وهلـو او خنـدا پیـل کـوي. ځینې یې یو وار له له تابوت نه راجګیږي، اسویلی باسـي او وایـي: لکـه چې نن بیا را باندې ناوخته شوی، باید ژر کار ته لاړ شم.

ناروغپالې وویل: تاسې هم ربښتیا وایاست، ښاغلی ډاکټر. هغه بله ورځ چې مو د هغې بوډۍ د ښخولو اجازه ورکړه، هغه یو وار را ژوندۍ شوه.

- هوکې! ځکه چې ما یې د اینګور په خوله باور وکړ. یو ساعت یـې زمـا پـه کتنځې کې تیر کړ، او د خپلې خوابښې د مرګ قیصه یې کوله. امکـان یـې نه درلود چې باور یې نه کړم. ډېره ښایسته ښځه وه. هیڅ فکر مې نه کاوه چې دروغ دې ووایي. خو سره د هغې هم ګناه د هغې د خـوابښې پـه غـاړه ده. ما ورته وویل، اوس هر څه چې وي، ټول فکر کوي چې تـه مـړه یـې. ټول اداري کارونه پای ته رسیدلي دي. ستا پیژندپانه باطله شوې ده. د ختم مجلس درته نیول شوی دی. ټول خپلوان دې راغونډ شـوي دي، او دومـره

t.me/AryanPashtoLibrary

يې ژړلي چې پوښتنه مه کوه. ما هم ستا د خښنولو اجازه ورکړې ده. يوازې همدا پاتې دي چې يو څو يومه (بېله) خاوره درباندې واچوي او بس. راشه او زموږ زحمتونه هسې په اوبو مه لاهو کوه. اخر ستا ژوند خو نه تا ته کومه ګټه رسوي او نه نورو ته. خو هر څه چې مې وويل، وې نه منله.

- هوکې ښاغليه! ځينې وخت ستاسې علمي شخصيت ته ډېر توهين کيږي.

- نه غوچې، دا څه توهين دی، که ما غوښتي وی، په زور مې هم کولی شول، چې هغه بوډۍ له خاورو لاندې کړم. که ويلي مې وی، چې اصولا مړه ده، او له مړو له ډلې څخه ګڼل کيدلی شي. څه فکر کوې، چې زما خبره به خلکو منلي وی، که د هغې جاهلې بوډۍ؟ زموږ دا ټولې بدبختئ د دې ناپوهو خلکو له لاسه دي. افسوس چې زموږ خلک ډېر ناپوهه دي. دومره ناپوهه دي، چې مري، خو نه پوهيږي، چې مړه دي. د هغوی ځينې بايد ډېر وخته مړه وی، خو اوس هم ځان په ژونديو کې حسابوي. دا سمه ده چې هر څوک په هر څه نه پوهيږي. خو کله چې يو ډاکتر وايي، چې مړه يې، که مقابل لورى انسان وي، بايد پوه شي، چې مړه ده.

- ناپوهي!

- هوکې، ما هغه بوډۍ ته چې ژوندۍ شوی وه، وويل: اوس چې هر چا ستا له پاره دومره ژړلي او چيغې يې وهلي او دومره ماتم يې نيولی دی، بده خبره ده چې د هغوی دا هر څه په اوبو لاهو کړې؟ وروسته که په رښتيا هم مړه شوې، څوک به يې نه باوروي، او وايي به چې د دې ژوندي کيدل عادت شوي دي، بيا را ژوندۍ کيږي ورپسې مه ژاړئ.

- ښه کله چې ژوندۍ شوه تاسې څنګه ...

- دا خو مهمه نه ده، نرۍ د ډاکتري معجزو نه ډکه ده. په علمي دلايلو مې د هغې ژوندي کيدل ثابت کړل.

ښاغلی غوبارى. کله چې ډاکتر او ناروغپالې زما په څنګ کې خبرې کولې. ما په ډېر ځير د هغوی حرکاتو ته کتل. ډاکتر يو وار بيا ناروغپالې نه پوښتنه وکړه:

- ايا دا سړى رښتيا مړ دی؟

- چپړاسي وايي چې مړ دی نو.

- ورته غږ کړه.

t.me/AryanPashtoLibrary

- ناروغپالې د روغتون چپړاسي ته غږ کړ. ډاکټر چپړاسي تـه مـخ را واړاوه او ترې وې پوښتل:
- تا ویلې دي چې دا سړی مړ دی، آیا دا ربښتیا دي؟
- هو ښاغلی، خو زه پرون شپه پـه روغتـون کـې نـه وم؛ کلـه چـې راغلـم د روغتون څارونکي وویل چې دا سړی مړ دی، د لمبا ځای ته یې یوسه. زه همدومره خبر یم نور په څه نه پوهیږم.
- څارونکي ته غږ کړئ!

فکر کوم ډاکټر اصلا بې عدالتي نه شوه زغملی، نو له همـدې کبلـه یـې غوښتـل چې زما مړینه د عیني شاهدانو په حضور کې جوته کړي. په دې باندې کله چې یې له ناروغپالې سره خبرې کولې، پوه شوم.

- زه له خپل مسلک سره مینه لرم؛ که زما په ځای بل کوم ډاکټر وی. نـو د ناروغ نبض به یې کتلی وی، او یا به یې ستاتسکوپ د هغه پـه زړه ایـښی وی. خو زه له دې کبله چې په راتلونکې کې را ته د سر خوږ پیدا نه شي، د درې کسو شاهدانو په تیرولو د هغـه د مړینـې راپـور تیـاروم. د دې درې کلونو په اوږدو کې را ته ډیر کړاونه پـېښ شـوي دي. کلـه چـې لا زمـوږ د ستاژ دوره وه، او زه پـه یـو روغتـون کـې د شپې نوکـري وم، لـه یـو څو انډیوالانو سره لږ مست شوی وم، ځواني وه نو.... له بده مرغه پـه همدغـه شپه درې ناروغان مړه شوي و، یو ناروغ پال راغی او وې ویل:
 - ښاغلی ډاکټر، په روغتون کې درې ناروغان مړه شوي دي.
- خدای ﷻ دې وبخښي.

بل مې څه ویلي وی، د مړو پسې باید د خیر دعا وشي، نه ګنې؟
- خو ښاغلی ډاکټر باید وې ګورې، چې د مړینې راپور یې ورکړو.
- ربښتیا وایې خو په ما کې د خوځیدو توان نشته؛ له ځای نـه جګیـدلی نـه شم.

په هر صورت یو څو کسو له لاس او پښو نه ونیولم، او په زور یې د مړو سر تـه راوستلم، کله چې مې د یو ناروغ نبض وکته، و مې لیدل چې منظم ښکته پورته کیږي، و مې ویل، بل مړی راولئ. د هغه نبـض هـم کـار کـاوه. دریم مـړی مـې راوغوښت، هغه هم همداسې و. دوی مړه نه دي، خو ډیر سخت ناروغه دي. په

t.me/AryanPashtoLibrary

هر ساعت کې یو اسپرین ورکړئ او د شا پورې یې کرم ومږئ او یو بوتل "تنتورید" ور له ورکړئ. ناروغپالې ته مې وویل، که تنتورید و مږي او اسپرین ورکړي څنګه به وي؟

- هیڅ ښه به شي.
- نه، ښه کیږي، نه.
- ولې؟
- له دې کبله چې اسپرین د زړه حرکت ډېروي. ښه د اسپرین په ځای بله کومه ګولۍ ورکړئ.
- ټولې ګولۍ همداسې دي ښاغلی ډاکټر.

عصباني شومه او ومې ویل:

- اخر بدمرغې څو کاله کیږي، چې ناروغپاله یې؟ یو څه ورکړه چې وې خوري.
- زه چې کله ناروغه کیدم، نو مور به مې راته غوا ژبې ګل (ګل ګاو زبان) راکاوه، که اجازه دې وي، چې دوی ته یې هم ورکړو.
- هوکې، سمه ده، په نسخه کې یې ولیکم.
- نه نسخې ته اړه نشته. د روغتون په درملتون کې نشته، زه به یې په خپلو پیسو د روغتون په څنګ کې هټۍ نه واخلم. دا یې وویل او لاړه. زه هممغلته ویده شوی وم، چې یو چا راویښ کړم.
- ښاغلی نه یې خوري.
- څوک یې نه خوري؟

آریان پښتو کتابتون

- مړي، غواژبی ګل نه خوري.

لاړم ومې کتل، چې چپړاسیان په زوره غواژبی ګل د ناروغانو په خوله کې منډي.

ومې ویل؛ ظالمانو دا خو څاروي نه دي، چې داسې په زور یې په خوله کې ورله منډئ. دا باید په اوبو کې واچوئ، چې ښه وخوټکیدل، د هغې اوبه به بیا دوی ته ورکړئ.

خدمتګارې ښځې وویل: ناروغپالې خو ما ته څه ونه ویل.

t.me/AryanPashtoLibrary

- خیر دی، که هغې نه وُ ویلي، تا کې دومره عقل نه وُ، چې غـوا ژبـی گل څنگه ناروغانو ته ورکوي.

- ښاغلی ډاکټر صاحب زه د کور په کارونو کې دومره بلده نه یمه.

- ناروغ پاله چیرته ده؟

- په کوټه کې یې نشته.

بیا هم ویده شوی وم، نه پوهیږم څو ساعته به ویده وم، چې یو غږ را پاڅولم.

- ښاغلی، مړي غواژبی گل نه خوري.

- آیا مړي هم څه خوري؟

سمدلاسه مې ناروغان را په یاد شول، او و مې ویل:

- ډېر ښه پیچکاري یې کړئ.

- د څه پیچکاري؟

- هره ستنه چې په روغتون کې وي، هغه ورته وکړئ.

- پرته له قلفي سنجاقونو نه بل څه په روغتون کې نشته.

په دې وخت کې د روغتون اداري مدیر راورسید، او وې ویل:

- ښاغلی ډاکټر صاحب، په کتـاب کـې څه ولیکـم، چـې ناروغـان د کومـې ناروغۍ له کبله مړه شوي دي؟

- څوک مړه دي؟ هغوی ژوندي دي.

- نه، ښاغلیه! دا هیڅ امکان نه لري، ځکه چې هغوی د جراحي عملیات په وخت کې مړه شوي دي.

- نه مدیر صاحب د هغوی نبض موجود دی او ښکته پورته کیږي.

کله چې ما د ناروغانو نبض کوت، گورم چې اداري مسؤول پټ پټ خاندي. په دې وخت کې مې پام شو، چې خپل لاس مې نیولی دی، او د ځان نبض گورم. له هغې ورځې نه وروسته کله چې د یو ناروغ د ښخولو اجازه ورکـوم، نـو درې شاهدان حتما پیدا کوم.

په دې وخت کې د روغتون ساتونکی راغی او وې ویل:

- ښاغلی تاسې زه راغوښتی وم؟

په داسې حال کې چې ډاکټر هغه ته ورښودلم، ورته وې ویل:

- آیا دا رښتیا مړ دی؟



آریان پښتو کتابتون

- هوکې ښاغلی ډاکټر صاحب دا په رښتیا مړ دی.
- له څه نه پوه شوې؟
- بابا دا خو څه شی نـه دی، دیـرش کالـه کیـږي، چـې زه د دې روغتـون ساتونکی یم، څه قسم مړي دي، چې ما نه دي لیدلي. کله چـې یـو مـړی ووینم، ان د هغه دنده معلوموم او پوهیږم چې د هغه به پـه ژونـد کـې څومره معاش و.
- ښه، نو ووایه چې دا به څه کاره وو، او څومره معاش به یې وو؟
- که زمکه هسک ته هم ورسیږي، په میاشت کې یې له څلور سوه لیرو نه ډېر معاش نه درلود.
- له څه نه پوه شوې؟
- ښاغلی، مړی ته یې وګورئ، ملا او مړی یې په یوه اندازه دي. که لږ نـور هم ژوندی وی، ملا یې له ډېر نریوالي نه دوه-درې ځایه ماتیدله.
- ښه څه کاره به و؟
- نه پوهیږم، خو کار یې هر څه چې و ډېر سخت و. اولاد یې هم ډېر و. لـه ژورو سترګو نه یې څرګندیږي، چې له شپږو نه یې کم اولاد نه درلود.
- دا نو له څه نه پوه شوې؟
- اوږو ته یې وګورئ، معلومیږي چې څومره درانه دړانه بارونه یـې وړي دي. ډېر شریف او باناموسه هم ښکاري.
- دا څنګه پوه شوې؟
- ښه که بې ناموسه وی، دا به هم د نـورو غونـدې اوس د ښه ژونـد خـاوند وی. ډېر هوښیار او ذکي سړی معلومیږي.
- دا نو نه شم منلی، ته د څه نه پوهیږې، چې باهوښه او هوښیار سړی و؟
- ښاغلی ډاکټر صاحب، ښه ورته په ځیر وګورئ، ان مړی یې هـم د شـونډو لاندې خاندي.
- ډېر ښه، ښه نو ته شاهد یې، چې دی مړ دی؟
- هوکې.
- پوهیږې چې له څه درد نه مړ دی؟

- کله چې معلومه نه شي، چې له کومې ناروغۍ له کبله مړ دی، نو اداري مدیر همدا یو شی لیکي، د فزیولوژیکي تغیراتو له کبله، نو ده ته به هم همدا شی ولیکو.

- ولې زه سره له دې هم د ده په مړینه لړ شکمن یم.

ګرانه غوبارۍ، کله چې مې دا خبره واوریده، ډېر ډار شوم، ځکه فکر مې کاوه، لکه دولتي دوسیه به په دې کوټه او هغه کوټه کې ښخې له پامه وغورزیږم، خو په دې وخت کې ډاکټر وویل:

- زه دا عدلي ډاکتر ته لیږم.

د دې خبرې په اوریدو ډېر خوښ شوم، ځکه چې که یې ویلي وی، چې ژوندی دی، زه یې له روغتون نه بهر غورزولم، هغه وخت به مې په سر څه بلا راتله؟ په بل لیک کې به در ته د عدلي ډاکتر پېښه ولیکم.

ستا د سوکالۍ په هیله

خرمړی

آریان پښتو کتابتون

## ﴿۲﴾

ګرانه غوبارۍ!

که سرۍ مړ هم شي، خو ژوندي خلک يې ارام نه پرېږدي، په زړه کې مې ويلې، چې بس دی؛ نورې راباندې خاورې راواچوئ، چې اسوده شم، ولې له دې کبله چې پوهيدم، چې د مړو غږ څوک نه اوري، نو چغې مې نه کولې.

د روغتون په تاکاو کې نور مړي هم وُ. د هغوی ځينې د پيژندنې له پاره ساتل شوي وُ، ځينې بايد چې عدلي ډاکټر کتلي وی. په دې مړو کې درې مړي ډېر په زړه پورې و. يوه همداسې خندل، بل ژړل او دريم په سوچ کې ډوب وُ.

هغه سړي ته چې پرله پسې يې خندل، ورغلم او ورته مې وويل:

- وبخښئ ښاغليه، ولې همداسې خاندې؟

ښاغلی غوبارۍ، د يو مړي خنديدل ډېره عجيبه خبره ده، فکر وکړه چې ستا له دوستانو نه يا د کورنۍ کوم غړی مړ وي، اوس فکر وکړه، چې دا مړی پر له پسې خاندي، آيا دا عجيبه منظره نه ده؟ دې مړي د يو ماشين په شان چې کوک شوی وي، همداسې خندل، په دواړو لاسونو يې ګېډه کلکه نيولې وه، او قاه قاه يې کول او له سترګو نه يې اوښکې بهيدلې.

- له خندا نه مړ شوم، ها ها های. له خندا نه د يو مړي مړه کيدل عجيبه خبره نه ده؟ په داسې حال کې چې خندل يې، پريکړې، پريکړې يې په خبرو پيل وکړ:

- زما له مړينې يوه شپه مخکې مې له ښځې سره يو تياتر ته تللی وم. ډېر وخت مخکې مې ښځې ويلې و:

- راځه چې يوه ورځ تياتر ته لاړ شو، او لږ وخاندو. تياتر ته لاړو، د تياتر پرده چې څنګه پورته شوه، موږ په خندا پيل وکړ. نه پوهيږم چې څومره په زړه پورې وه. له خندا نه مو کولمې وشکيدلې. ټوله قيصه يې درته نه شم کولی. ډېر کم پاتې و، چې له خندا نه مړ شم. ډېره عجيبه خبره خو دا وه. چې پرته له موږ نه بل يو ننداره کوونکي هم نه خندل، لږو يې په ژړا

پیل کړی و. دریمه پرده نوې پیل شوې وه، چې یوه ننداره کوونکـي را تـه وویل:

- ښاغلی بس دی نو، ډېر مه خاندئ.

ښځې مې له ما نه مخکې د هغه ځواب ورکړ:

- ولې و نه خاندو. پېسې مو ورکړي، وړیا خو نه یو راغلي.

زموږ زوږ پورته کیدونکی و، چې موږ یې د تیاتر له سالون نـه وویستلو. هغوی چې زموږ له خندیدو نه ناراحته شوي و، چغې وهلې:

- د څه له پاره خاندئ؟

- ولې ونه خاندو، د همدې له پاره راغلي یو، چې وخاندو. باید چې وخاندو. خلک کمیډي تیاتر ته د څه له پاره راځي؟

- څه له چټیات وایاست. دا کومـه کمیـډي نـنداره نـه ده، ډرام دی. هغـوی ادعا کوله چـې دا ښوونـه ډرام دی. مـوږ لـه دې کبلـه چـې ویلـې مـو. دا کمیډي ډرامه ده، ډېره سخته دفاع کوله. بالاخره یې چیغې کړې:

- ناپوهو.....نالوستو.

- ناپوه په پخپله یاستئ، کمیډي ډرامه ګورئ او نه خاندئ.

د دې له پاره چې په اصل قضیه پوه شم، نو د ننداري بهرني اعلان ته مي چې په دیوال زړول شوی و، وکتل؛ چې په کې لیکلي یې و: سـر تـر پایـه د درد او کړاو نه ډکه، عشقي-تراژیدي ډرامه، چې تر اوسه پورې بـه مـو داسـې غمجنـه ډرامه نه وي کتلي. همدا وخت په خپله اشتباه پوه شوم. د دې په ځای چې د کومې کمیډي ډرامې تکټ واخلو، د تراژیدي ډرامي تکټ مـو اخیستی و. مـا او ښځې مې فکر کاوه، چې ننداره کمیډي ده، نو ځکه چې سالون تـه ننوتـي وو په خندا مو پیل کړی و. یو سړی چې په یو ګوټ کې ولاړ و، او موږ ته یې پـه ځیر ځیر کتل، را نږدې شو. په داسې حال کې چې موږ ته یې ځان د دې ډرام لیکونکی راوپیژانده، وویل:

- تاسو په حقه یاستئ، تاسو د دې په فکـر چـې کمیـډي ډرام وګورئ، او د خندیدو له پاره مو پېسې ورکړې وې. او تکـټ مـو اخیسـتی و، خـو بـاید درته عرض وکړم، چې نورو ننداره کوونکو چې ژړل یې، هغوی هم په حقه دي، هغوی هم د ژړلـو لـه پـاره راغلـي دي. نـه تاسـو د نـنداړې لـه پـاره

خاندئ، او نه هغوی د ننداري له کبله ژاړي. که ننداره هم نه وي، که باد هسې د تياتر پرده وښوروي، ستاسو له خندا نه پښتورګي شنه کيږي، او د هغوی په مخ د اوښکو سيلابونه روانيږي.

پوهيږئ ولې کله چې ليدونکي يو ډرام ګوري، خانديږ؟ ځکه چې لومړی له هر څه يې ليدونکو ته ويلې وي، چې تاسې به وخندو. که چېرې داسې وی. چې د ننداري نه وروسته يې ليدونکو ته خپلې پيسې بيرته ورکولی، نو هيڅوا به هم کميډي نندارو ته تکټ نه وی اخيستی. ځکه چې ټولې ننداري د ډرام بڼه لري، خو له دې کبله چې ډېر ليدونکي راجلب کړي، د ننداري په ديوالونو ليکي:

"مړي چې خاندي" په نامه کميډي ډرامه.

وې ويل: اوس پوه شوم چې ولې خاندم ها ها ....ها.....ها ... انسانان څومره احمق دي، اه، اه څومره خنديدونکی ډرامه وه..

ددد

د هغه مړي په لور چې هميشه به يې ژړل، لاړم، او ومې ويل:

- تاسو ولې ژاړئ، نه چې تاسې هم مخکې له مړينې نه کوم تراژيدي ډرام ليدلی و، که څنګه؟
- په داسې حال کې چې اوښکې يې څڅيدلې وويل:
- نه ښاغلی، زه چې کله ژوندی وم، د "سمې لارې" په نامه ورځپاڼه مې منظمه لوستله. يوه ورځ د دې ورځپاڼې طنز ليکونکي د "تريخ بيلتون" په نوم يوه مقاله ليکلې وه. په دغو ورځو کې يو مهم سړی مړ شوی و. په خپل ټول عمر کې مې داسی غم لړلې قصه نه وه لوستلې. له دې کبله چې له سترګو نه مې همداسې اوښکې بهيدلې، و مې نه کړای شول، چې دغه مقاله تر پايه ولولم. د هرې کلمې په لوستلو مې اوښکې زياتيدلې، هغه ليکلي و "ته به هميشنی يې، بشريت به تا له ياده و نه باسي. هغه خدمت چې تا انسانيت ته کړی دی...." د هغې ورځې په سبا راسا د ورځپاڼې دفتر ته لاړم، او دغه ليکوال مې پيدا کړ. وروسته له ستړي مشي، مې ورته وويل:

- که په دې ډاډه شم، چې زما له مړينې وروسته، زما پــه بـاره کـې بـه هـم همداسې مقاله ولیکې، نو زه همدا اوس د مړينې هيله کوم.
ليکوال وويل:
- هيڅ فکر مه کوه، د پيسو په مقابل کې هر ډول مقاله چې وغــواړې، ليکـل کيږي.
- مهرباني وکړئ، دا يې پيسې.
د مړي سترګې له ژړا نه سرې شوی وې.
- په خپل ځان دې رحم وکړه، دومره مه ژاړه.
- ولې ونه ژاړم، له مرګ وروسته يې يوه کرښه هم ونه ليکله.
- ښه هغه نيکمرغه مړی څوک و؟
- نه پوهيږم، له هر چا نه چې مې پوښتنه وکړه، چا ونه پيژانده.
- ښه نو اوس بيا ولې ژاړې؟
- د خپلو اوښکو مخه نيولی نه شم، هميشه مــې هغـه مقالـه سترګو تـه ولاړه وي، هيڅ يې هيرولی نه شم، ښايي چې له تل له پاره وژاړم.
☹☹☹
هغه مړي ته چې هميشه به په فکر کې ډوب و، ورغلم.
- وبخښئ، ممکنه ده چې ووایاست، چې ولې دومره فکر کوئ؟
- د دې په هکله فکر کوم چې انسان يم که نه؟
- ښکاره ده چې تاسې انسان یاستئ.
- ما هم ستا غوندې فکر کاوه، خو و مې نه کړی شول، چــې چـا تـه جوتـه کړم، چې انسان يم. اجازه راکړئ، چې خپله خبره مې لـږه توضيح کـړم. وګورئ، که اوس موږ دلته چغې ووهو، او فرياد وکړو، ايا هغه انسانان چې ژوندي، دي، زموږ غږ اوري؟ نه، نه يې اوري. ځکه چــې مـوږ د مـړو پـه ځير خبرې کوو، د مړو په ځير فرياد کوو، هغوی چې ژوندي دي د مړو په ژبه نه پوهيږي. په نړۍ کې ژوندي هم همدا رنـګ دي. ډېر انسـانان چغـې وهي، زګيروي کوي، ژاړي، خــو نـه شـي کـولی، چـې خپـل غـږ چيرتـه ورسوي. ځکه چې معلومه نه ده، چې هغوی ژوند کوي، که نه؟ ښکاره ده چې هغوی زموږ سره کوم توپير نه لري، او پرته له سرشميرنې، انتخاباتو،

د مالياتو د ورکولو او عسکري خدمت لـه ورځو نـه، نـور انسـانان نـه ګڼل کيږي. که په نړۍ کې د هر چا نه دا پوښتنه وکړئ، چې تـه انسـان يـې؟ څو کسه به په ډېر ويار وويلی شي، هو زه انسان يم؟

هر کار ځانته شرايط لري، د انسانيت شرط هم د انسان په شان ژوند کـولٍ دي. په ژوند کې د ډېر کار له کبله چې کاوه مې، د فکر کولو له پاره مې اصلاً وخت نه پيدا کوه. ښه شو چې مړ شوم، او وزګار شوم. اوس د فکر کولو له پاره پـوره وخت لرم، همدا اوس هم په دې اړه فکر کـوم. چـې آيـا کلـه چـې ژونـدی وم، انسان وم که نه؟

- ښه د دې سوال له پاره دې ځواب پيدا کړ. که نه؟
- نه، فکر کوم چې که انسان وی، لاقل د انسان په شان خـو بـه مـې ژونـد کړی وی، او که انسان نه وم. نو ولې ځينـو د انتخابـاتو پـه ورځ زمـا نـه غوښتل چـې ورتـه رای ورکـړم؟ ولـې يـې لـه مـا څخـه ماليـات اخستل، ولې....تر اوسه مې په دې باره کې فکر کاوه، خو کومې نتيجې تـه نـه يم رسيدلی.

کله چې يې خبرې پای ته ورسيدې زه هم په فکر کې ډوب شوم، چې انسان يم که نه؟ ځکه چې زه هم د هغو کسانو له ډلې څخه وم، چې کولی مې نـه شـو، خپل غږ چيرته ورسوم.

☺☺☺

هوکې ګرانه غوباړی! فکر کوم، چې د دې ليک له لوستلو نه وروسته، ښايي تـه هم په فکر کې ډوب شې، ښايي چې پيسې دې ورکړي وي، چې د يوې کميډي ننداري پورې وخاندې، ښايې چې ژاړې به. ښه په هر حال، هغـوی، تـه چـې زما په ژوند زما له ژبې نه په عذاب وُ، زما د مړينې خـبر ورکـړه، ښايـي چـې ځينې يې د خوښۍ نکريزې کيږدي.

ستاسې د نيکمرغۍ په هيله

خرمړی

# ۳

ښاغلی دوسته!

لکه چې په تیرو لیکونو کې مې هم لیکلي و، په ربښتیا مړ شوی وم، خو نه مې شول کولی چې په رسمي شکل مړ شم. په نړۍ کې ژوند کول او په رسمي شکل مړه کیدل، هم ډېر سخت دي. د روغتون په تکاوۍ کې زما په شان نور مړي هم ډېر و. ښې اړخ ته مې یو ځوان سړی او کیڼ اړخ ته مې بوډۍ ښځه پرته وه. له ځوان سړي نه مې تپوس وکړ.

- تاسې ولې مړه شوئ؟
- ځان وژنه مې وکړه.
- څرنګه، ایا ځان وژنه اسانه ده؟
- نه بابا، پخوا اسانه وه، خو اوس، ځان وژنه له ژوند کولو نه هم سخته ده. لومړی مې پریکړه وکړه، چې ځان په سیند کې لاهو کړم، د استانبول د سیند توليې غاړې مې وکتلې، خو داسې ځای مې پیدا نه کړ، چې ځان سیند ته ورروغورځوم. ټول ځایونه ډک و. د سیند توليې غاړې شتمنو خلکو نیولې وي، او په کې یې ځانونو ته مانۍ، کورونه او بنونه جوړ کړي و. هڅه مې وکړه چې څوک پیدا کړم او د انسانیت په نامه ترې هیله وکړم، چې اجازه راکړئ، چې ځان سیند ته وغورځوم. خو کله چې به مې دا ویل، ځواب به یې راکاوه، ولې لیونی شوی یې. چې دا نړۍ له دومره ښکلاو سره پریږدې، او ځان وژنه کوې؟

ټول ځایونه مې وکتل، خو داسې ځای چې هلته ځان سیند ته وغورځوم. پیدا نه کړ.

- د سمندر غاړې ته به تللی وی.
- دا کار مې هم وکړ. د سمندر غاړې ته هم ولاړم. ویلې به مې چې د خدای ﷻ په امان یا ښکلې نړۍ، او ځان به مې سمندر ته وغورځاوه. یو وارې به غږ راپورته شو، چې ړوند یې، لړې دې سترګې وغړوه. یا به د چا په ګیډه او یا به د چا په ورمیږ پریوتی وم، د سمندر غاړه وه. خو سمندر نه وه.

- خو کومې بیړۍ ته به ورختلی وی.
- فکر کوی، چې دا کار به مې نه وي کړی؟ یوې بیړۍ ته وروختلم. آیا په بیړۍ کې خالي ځای پیدا کیږي؟ په بیړۍ کې دومره ګڼه ګونه وه، چې څوک په کې خوځیدلای نه شو. که لږ حرکت هم وکړې، خو مخکې نه شې تلای. بالفرض، که مخکې هم ولاړ شې، نو آیا و به کولی شې، چې ځان سیند ته وغورځوې؟ که په دې کار کې بریالی هم شې، ښه، لاس یا بل کوم ځای دې د بیړۍ په کوم ځای کې نښلي، که و نه نښلي هم، راځي درپسې او له سمندر یا سیند څخه دې بیرته باسي (ژغوري دې). سر به دې نه درخوږوم، لنډه دا چې په سیند کې ځان وژنه ناشونی ده.
- ښه نو بیا دې څه وکړل؟
- پریکړه مې وکړه، چې ځان په ګاز ووژنم. ټولو انډیوالانو ته مې په لیکونو کې ولیکل، څرنګه چې زموږ د فوټبال ټیم په سیالیو کې ماته خوړلې ده، خصوصاً په دې وروستۍ سیالۍ کې، نو له همدې کبله غواړم، چې ځان وژنه وکړم، نور ژوند نه شم کولی، انشاالله ډېر ژر به سره یو ځای شو، او دا لیک مې ټولو ته په ډاک کې ولیږه.

ګاز مې خوشې کړ او پخپله په زمکه وغزیدلم. نیم ساعت به تیر شوی وُ، چې د ډېرې خوښۍ او ارام احساس مې وکړ. له ځان سره مې فکر کاوه، چې دا نو څه کار وُ، که پوهیدلی چې مړینه دومره اسانه ده، او په مرګ کې دومره خوند دی، نو لیونی وم چې ژوند مې کاوه. په دې فکرونو کې ډوب وم، چې د ور غږ مې واورید، چې چا ټکوه. لا په دې فکر کې وم، چې ور بیرته کړم، که نه، بیا مې وویل، چې زه خو مړ یم، نو ور باید بیرته نه کړم، ښایي هغوی هم ملایکې وي، چې د ور بیرته کیدو ته اړه نه لري او کولی شي، چې کوټې ته پرته د ور له بیرته کیدو راننوزي. خو په دې وخت کې مې پام شو، چې دا زما هغه ټول ملګري دي کومو ته چې ما د خدای پامانۍ لیکونه استولي وُ. ورته مې وویل:
- ګرانو دوستانو حتماً مو زما بیلتون و نه شو زغملی، او ځان وژنه مو کړې، چې زما سره یو ځای شئ.
- لیونی شوی یې څه؟
- تاسې څه وایاست، مړي ګنه لیوني کیږي، هم؟ موږ ګنې مړه نه یو؟

- څه وايې ته ژوندی يې.
- په څه شي دې ځان وژنه وکړه؟
- لا پوره مې نه وو ويلي چې په ګاز. ټولو په خندا پيل وکړ.
- کوم ګاز دلته ګنې ګاز پيدا کيږي. له دغه نل نه د ګاز په ځای هوا راځي. هوا يې هم ډېره پاکه ده. هغه ناروغان چې د تازه هوا له پاره کوم ځای تـه سفر نه شي کولی، نو د هغې په ځای د ګاز نلونه پرانيزي، پوزې وريــورې کلکې نيسي او پاکه او صافه هوا تنفس کوي، چې ډيــره ګټه ورتــه رسـوي. آيا په استانبول کې د ګاز له نلونو پرته پاکه هوا پيدا کيږي. ګوره چــې لـه کومه وخته دې د نل هوا تنفس کړې، غومبري دې هم تک سره شوي دي.

ځوان سړي ته مې وويل:

- د خوب يوه لپه ګولۍ به دې خوړلي وي.
- دا کار مې هم وکړ، ولې هره ورځ په ورځپاڼو کې نه ګورې، چې ليکلې يې وي، چې څو جنکو د خوب پــه ګوليــو ځان ووژه، خــو وژغـورل شــوې. د خوب ګولۍ څوک نه وژني، ځکه چې هغه ګولۍ دننه په هيواد کې جوړې شوې وي، ډيرې اغيزمنې هم دي، هر څوک چې ترې يوه دانه وخوري بيا يوه اوونۍ خوب نه ورځي.
- خو په بهر کې د خوب جوړې شوې ګولۍ به دې خوړلي وي.
- هغه ګنې پيدا کيږي، ان پريکړه مې وکړه، چې ګنديز (زهــر) وخـورم، ډېر اغيزمن ګنديز مې واخيستل، خو څومره چې به مې هغه ډېر خوړل، هومره به مې د زړه قوت هم ډېريده. يوه ورځ بيخې د سامسون په څير شوی وم، هر څه چې به مې په لاس کې نيول، ټوټې-ټوټې کول به مې. دا کار را ته بيخې تعجب ښکاره شو، نو يو ډاکــټر تــه ولاړم، او ټولـه قصـه مـې ورتـه وکړه. هغه وويل:
- دا طبيعي خبره ده. آيا تاسې د استانبول ياستئ؟
- هو!
- ستاسې له پاره ګنديز ګټور دي، ان کله چې يو ځای ته ولاړ شئ، چې هوا يې پاکه وي، سا مو په کې بنديږي. تاسې د استانبول د بـد او ګنـده بـوی سره عادت شوي، ياستئ. څرنګه چې تاسې د اسـتانبول ياسـتی، ستاسـې

وجود د ګنديرو او ورمکرو (ميکروبونو) سره عادت شوی دی. ماشاالله څومره چې ډېر ګندېر وخورئ، هومره به چاقيږئ.

ځوان سړي ته مې وويل:

- ښه خو يوه رسی به دې اخيستي وی، او ځان به دې پهانسي کړی وی.
- فکر کوی، چې دا کار به مې نه وي کړی؟ لاړم يوه کلکه رسی مې واخيسته، خو کله چې مې ځان له چت نه راځوړنداوه، رسی وشکيدله. وروره واله که د رسيو، هم مزه وي.
- ښه چې په دې کارونو و نه شوه، په يوه پتري (پاکې) به دې خپل رګونه غوڅ کړي وی.
- هو، ښاغلی! سلطان عزيز، هم په پتريو ځان وژلی و، که نر وي اوس دې راشي، او د دې زمانې په پتريو دې خپل رګونه غوڅ کړي.ننني پتري د سرې ږيره نه خريوي، ته په رګونه غوڅوې، ټولې حلبي دي.
- له يو لوړ ځای نه به دې ځان راغورځولی وی.
- دا کار مې هم وکړ، خو بريالی نه شوم.
- ښه نو بيا دې څنګه ځان وژنه وکړه؟
- نو غوږ کېږده، چې درته وې وايم: نن ورځ د ځان وژنې له پاره، يوازې يوه لاره پاتې ده، او هغه دا ده چې د خپلې کورنی کومه جنی چا ته واده کړې. د نن ورځې زومان د ناوې د کورنی ټول نږدې او لرې خپلوان وژني. البته هغوی ته د خدمت کولو له پاره. هغوی دا کار د بدو نه نکوي، بلکې زوم د جنی کورنی له دې کبله وژني چې هغوی ارام او سوکانه شي. ما هم همدا کار وکړ. زموږ د کورنی يوې جنی واده وکړ، د ناوی د کورنی ټول غړي وارخطا شوي و، چې زوم به هغوی ووژني. ډېر وخت تير شو خو زوم هيچا ته هم څه و نه وويل. يوه ورځ د کورنی غړو ما ته وويل: و دې ليدل زموږ زوم څومره ښه سړی دی. ورته مې وويل: بيړه مه کوئ، هغه لومړی غواړي، چې د جنی ټول خپل خپلوان وپيژني. داسې هم وشوه. يوه ورځ بې موږ ټول ووژلو. پخپله ناوې يې هم ووژله. يوه ورځ د ډوډی په سر ناوی خپل ميړه ته چاړه ورکړی وه، او ورته ويلي يې و، چې ګرانه دا ډوډی درسره لږه په دې چاړه ټوټی-ټوټی کړه. په دې وخت کې د ميړه سترګې

سرې شوی وی او په همهغه چاره يې د نــاوې ګېډه څيرې کــړې وه او بيــا وروسته يې نور ووژلو. وروسته بيا هغه ونيول شو. خو ويلي يې و. چې هيڅ شی مې په ياد نه دي.

هوکې ګرانه دوسته! په نورو ليکونو کې به د نورو خلکو د مړينې په اړه معلومات درکړم. له مخ نه دې مچکه اخلم.

خرمړی

t.me/AryanPashtoLibrary

## (۴)

ګرانه دوسته،

نه پوهیږم چې زما ډېرو لیکونو بې حوصلې کړی یې که نه؟

ښایي چې په زړه کې دې وګرځي چې کاشکې مړ شې؛ چې له لیکونو نه یې بېغمه شم. خو څرنګه چې ما په مخکینیو لیکونو کې درته لیکلي و؛ چې نه سړی په اسانۍ ژوند تېرولی شي، او مړینه هم هغومره چې ته فکر کوې، اسان کار نه دی. ښایي چې مړینه ذومره مشکله هم نه وي، خو اداري کارونه یې ډېر اوږده وي. فکر مه کوه چې له مړینې وروسته اداري کارونه پای ته رسیږي، له مړینې وروسته هم اداري کارونه دوام مومي. زه په دې موضوع کله چې د روغتون په تکاوۍ کې وم پوه شوم. کله چې د روغتون چپړاسي یو مړی بهر ته وویسته، یوه زړه ښځه چې زما په څنګ کې پرته وه را ته وې وویل:

- څومره نیکمرغه سړی و، څلور اوونۍ یې لا دلته نه وې شوی، چې بیرته یې یوړ. کاشکې زموږ اداري کارونه هم ژر پای ته ورسیږي او له دې ځایه مو یوسي. ښایي چې هغه ته یې کومه واسطه پیدا کړې وي.
- تاسې څه وایاست، له مړي سره هم کارت یا د واسطې کوم لیک وي؟
- هوکې! ولې لکه چې دلته نوی راغلی یې، چې په دې شیانو نه پوهیږې؟ زه یې په لسمه ورځ عسکري خدمت ته احضار کړې وم.

په خندا مې پیل کړی و، چې بوډۍ ښځې را ته وویل:

- لوده کیږه مه، له مړو سره خندا ښه نه ښکاري.
- تاسې خو شپیته کلنه ښکارۍ.
- اوه شپیته کلنه یمه، له ټولو څخه لومړی زامن مې باید دا جوته (ثابت) کړي، چې زه اوه شپیته کلنه یم، او له هغې وروسته زما مړینه. خو زامن مې نه غواړي، چې زما له مرګ نه دې څوک خبر شي.
- ولې؟

- ځکه چې د ډېرو سکرو اخيستلو پاڼه زما په نوم ده، که خبر شي، چې زه مړه يم، نو دا پاڼه بې اعتباره کيږي، نو بيا مې زامن نه شي کولی، چې د ډېرو سکاره واخلي نو ژمی به په سړو کې پاتې شي، نو له همدې کبله نه غواړي، چې څوک دې زما له مړينې نه خبر شي، چې په همهغه پاڼه سکاره واخلي، او که زما مړينه جوته نه کړی شي، نو ما عسکري خدمت ته جلبوي. اوس مې زامن په عجيبه ستونزه کې گير دي. له ارث نه سترگې پټې کړي، که له سکرو نه او يا به ما عسکری ته جلبه کړي. له همدې کبله په همدې ځای کې پاتې يم. دا مړي چې دلته گورې، ټول يې يو جنجال لري. دا د ځوان سړي مړی چې گورې، له مړينې دوه ورځې مخکې يې د نيولو حکم صادر شوی و. که اوس جوته شي چې هغه مړ دی، له نيولو څخه خلاصيږي.
- ښه خو ډاکټران دې ووايي، چې مړ دی.
- ته هم ډېر ساده سړی ښکارې. ايا ډاکټران د ژونديو په ناروغيو پوهيږي، چې د مړينې څخه دې خبر شي. دا ښځه چې د ديوال غاړې ته پرته ده، نه (۹) کرته مړه شوې او ژوندۍ شوې ده. نوره له دې نړۍ نه ستړې شوې يمه؛ دا به يې وويل او و به غزيدله، خو کله چې به خلکو غوښتل چې ښخه يې کړي، پښيمانه به شوه.
- که زه د ډاکټرانو په ځای وی، سملاسي مې ښخوله.
- ډاکټران گنه دومره غور کوي، هره ورځ يوولس بجې روغتون ته راځي، يو ساعت ناروغان گوري، بيا بيرته ځي. دې ډول کارونو ته وخت نه لري. له همدې کبله اوس منتظر دي، چې وگوري، چې دا پلا په رښتيا مړه ده او که نه، يو څو ورځې وروسته به معلومه شي.

په دې وخت کې يو ستغ.غږ راپورته شو.

- اداري کارونه ډېر وخت نيسي.

چې ومې کتل کينې خوا ته مې يو مړی غزيدلی دی، پوښتنه مې ترې وکړه:

- ايا تاسې هم مړه ياستی؟

په همهغه ستغ غږ يې وويل:

آريان پښتو کتابتون
2022
+971501455350
ARYAN PASHTO LIBRARY

مړ نه یم وفات شوی یم. لکه چې تاسې ورځپاڼې نه لولې. ټولو ورځپاڼو
د مړینې خبر لیکلی و.
څه ئې لیکلي و، مقا له؟
نه. دفاتحې اعلان یې چاپ کړی و، کورنۍ مې ټولو ورځپاڼو ته اعلان
ورکړي و، د موسسې ملګرو مې هم ورځپاڼوته اعلانونه ورکړي و. تجارتي
شرکتونو هم په ورځپاڼو کښې زما د فاتحې اعلانونه چاپ کړي و، که
سړی ژوندی هم وي دا اعلانونه یې لیدل.
- له بده مرغه موږ نه و لیدلي.
- دومره ښایسته اعلانونه یې چاپ کړي و چې ......باور وکړه چې پخپله
مړینه خوښ وم. د فاتحې اعلان مې اوس هم په فکر کې دی. ټکي په ټکي
مې په یاد دی، غوږ ونیسه همداسې یې لیکلي و:
یو لیکلي و:"یو تریخ بیلتون" بل لیکلي و "دردونکی ورک شوی" او هغه بل لیکلي
و. پلارمو، د ښځې پلار مې، زوم مې، د هیواد یوه پیژندل شوی څیره، د فلاني
شرکت رئیس، د قاسم پاشا لمسی اود بایرام پاشا زوم .......همداسې یې ګڼل
چې پرې غږ مې کړ:
- هوکې ما ښاغلی وپیژانده، نور زحمت مه باسی، پوه شوم چې تاسې یو له
هغوی څخه یاستی...
سړي دوام ورکړ: چې ظاهري نړۍ یې پریښوده او ریښتینې نړۍ ته لاړ چغه مې
کړه، هوکې ښاغلی مې وپیژانده، اوس نو څله دلته منتظر یاستی؟
- هدیره نه پیدا کیږي، زما کورنۍ نه غواړي چې ما په کومه هدیره کښې چې
غریبان هلته ښخوي، ښخ کړي. غواړي چې زما له پاره کوم لوکس قبر پیدا
کړي په دې به پوه یاستی، چې اوس قبرونه هم په تور بازار کې
خرڅیږي، البته ارزانه قبرونه هم شته، خو هغه ښه نه دي، زما کورنۍ
زما لپاره یو قبر لټوي چې ښه ښایسته منظره ولري.
- د مړینې نه وروسته څه فرق کوي چې په کومه هدیره کې دې ښخ کړي؟
- نه، دا زما په خاطر نه دي، زما د کورنۍ د خاطره دي، هغوی غواړي
چې کله زما قبر ته راشي او دا ښایسته منظره وګوري نو ووایي: چې ولې
یې دا ښایسته نړۍ پریښوده او لاړ؟ که زما قبر په یو بد منظره ځای کې

وي نو د دې نرۍ د څه پورې به وژاړي؟ خو يوازې دا موضوع هم نــه ده. زمونږه کورنۍ ډېره شريفه ده. نو بايد زما قبر هم د کورنۍ په تناسب وي. د هدې کبله بايد د تور بازار نه قبر واخلي. يوه بله موضوع هـم شته. يـو څه موده مخکې زمونږ د مخالف شرکت رئيس مړ شو. د هغه د پـاره يـې د تور بازار څخه يو قيمتي قبر واخيسته. اوس نو زمونږ د کورنـــۍ شرافت دا اجازه نه راکوي چې زما قبر دې د هغه د قبر نه ارزانه تمام شي. که داسې ونه شي زمونږ د شرکت اعتبار به په تجاتي حساب راټيټ شي.

- بنه، نو بيا يې پيدا نه کړ؟
- څه وايې ښاغليه؟ ولې يې پيدا نه کړ. د تور بازار ټولې ځمکې زمونږ شرکت اخيستې دي. يعنې پخپله مـا اخيستې دي. اوس يـوازې د تبليغـاتو پـاڼې چاپوي بيا منتظر پاتې کېږي چې د هديرې د ځمکې بيه لوړه شي. نو هغه وخت مې بيا ښخوي...پوه شوې؟

هوکې ښاغلی غوباړي، ډېر څه دي چې غـواړم درتـه ويـې ليکـم، دلتـه داسـې مسايل شته چې د ژوند د مسه يلواسره هيڅ تعيير نه لري، خينې وخت د مړينې نه پښيمانه کيږم. که پوهيدلی چې مرنه دومرمسخت دی دا کارمی نه کاوه، که اداري کارونه پای ته ورسيږي او زه په رسـمي ډول مـړ شم، ډېر بـه ارام شم، هوکی ښاغلې دوسته. که غواړې چې مړ شی نو همدا اوس مړ شه که نه نو ټولې هديرې به بيا د تور بازار بورې ترلی وي، هغه وخت نه بيا څه کوې؟
سترکې دې ښکلوم.

ښې هيلې مې ومنه
خر مړی



آریان پښتو کتابتون
2022
+971501455350
ARYAN PASHTO LIBRARY

# ﴿۵﴾

ډېر ګران او د سترګو تور دوست غوباړی!

له هر څه نه مخکې چې له یاده مې و نه وځي، باید در ته ووایم، چې ما په مخکینیو لیکنو کې د خپلې مخکینۍ مړینې په هکله درته لیکلي و، خو له بده مرغه دا مې له یاده وتلي و، چې درته ولیکم، چې څنګه مړ شوم. په دې لیک کې به درته دا موضوع ولیکم:

که په یاد دې وي، یو وخت چې ډېر اړ شوم، ستا پیسې درغلم او پیسې مې درڅخه وغوښتې، هغه ورځ ته ډېر په قهر وې، هر څومره چې مې در ته عذر او ننواتې وکړې، تا هیڅ پیسې را نه کړې. یو ډېر نومیالي سړي یوه ډېره لنډه جمله ویلې ده، چې "که د غوښتلو په طریقه پوه شې، هیڅوک نه شي کولی، هغه څه چې ته غواړې تا ته در نه کړي."

نه پوهیږم چې دا به د چا خبره وي، ښايي د "مولیر" او یا "روبسییر" خبره وي، نور مې نه په یادیږي، خو په پای کې یې "ر" وه، کله چې دا جمله را یاده شوه، ګناه مې خپله وګڼله، هغه وخت مې تا ته خپله اړتیا په بل ډول بیان کړه، نو تا په ژړا پیل وکړ او خپلې ټولې پیسې دې ما ته راکړې.

یو چا ویلي دي: "هنر اوږد او ژوند لنډ دی." یو بل ویلي دي، چې "سلیقې او رنګونه د بحث وړ نه دي" خو په دې خبرو کې څه دي؟ که دا خبرې ما کړې وي، له دې غوږ نه به دې ننوتی او له هغه بله غوږ نه به دې راوتي وی. نو له دې نه څرګندیږي، چې د سړي د خبرو پورې نه ده، بلکې د سړي د موقف پورې ده. خبرې باید له غټ ځای نه وشي.

په هغه نړۍ کې چې مې ژوند کاوه، او اوس مې ورسره اړیکې شکیدلي دي، دوه ډوله خلکو د مسوولیت احساس نه کاوه، لیونو او پادشاهانو. که زه هم پاچا شوی وی، او یو وار مې ټوخی کړی وی، نورو خلکو به څومره لوړ ټوخل او سمدلاسه به یې ثبت کړی وی.

ګرانه دوسته! کله چې به زه او ته یو د بل مخامخ کښیناستو، څومره غټې غټې خبرې به مو کولې، هغه خبره چې د ملغلرو هومره ارزښت به یې درلود، خو چا به د بوسو هومره ارزښت نه ورکاوه. اوس دې غوږونه پرانیزه له دې بلې نړۍ نه در ته یوه غټه خبره کوم:

" نړۍ ته راتګ اسان، خو مړینه ګرانه ده" ځکه چې هر څوک بل څوک زیږوي، خو مري پخپله. هیڅ مې د مړینې په هکله فکر نه کاوه، ما هم لکه د نورو خلکو غوښتل چې ژوند وکړم، خو یوازې په غوښتنه نه کیږي. یوه ورځ مې د خپل رئیس څخه پنځوس لیرې وغوښتې، هغه را ته په ځواب کې وویل:

- په دې پیسو څه کوې؟

زړه مې و، چې ورته ووایم، بوډۍ (کاغذپران) په اخلم او هوا ته یې الوزوم، خو و مې نه ویل.

- د یو چا پوروړی یم ورکوم یې.
- د چا؟
- نن ورځ دوه بجې د پور اخستلو له پاره راځي.
- ډېره ښه ده هغه وخت راشه او پنځوس لیرې واخله.
- نه کیږي، همدا اوس یې راکړئ.
- نه کیږي.
- ولې؟

د یو فیلسوف غوندې یې کوپړۍ وښوروله او ویې ویل:

- دا د دنیا کار دی، ښایي له همدې کبله وي، چې ته نه سړی کیږې. څه معلومه ده هغه سړی، چې باید دوه بجې د پور اخیستلو له پاره راشي، تر دغه وخته پورې مړ شي؛ که مړ شي ته یې له پور ورکولو څخه خلاصیږې. دا د دنیا کار دی، ښایي ته مړ شې. او زه درنه بې غمه شم او د پنځوسو لیرو نه خلاص شم. تر دوو بجو پورې معلومه نه ده، چې څوک مري او څوک ژوندی پاتې کیږي...

اعصاب مې خراب شول او ورته مې وویل:

- ښاغلی زه ډېر بدمرغه سړی یم، د دنیا کار دی، داسې ونه شي، چې زه هم مړ نه شم، هغه سړی چې د پور پسې راځي هغه هم مړ نه شي؛ او تاسې مړه شی، نو بیا دا پېسې هغه ته له کومه کړم؟

دوه بجې شوې، زموږ څخه هیڅوک هم مړه نه شو، نه زه، نه پورلرونکی، نه رئیس، یوازې په دغه وخت رئیس چیرته ورک شو.

د چا پسې ګرځیدم چې د زړه خواله ورسره وکړم، د یو دوست کره چې د بې عدالتی مخالف و او د بې عدالتئ په ضد یې جنډه اوچته کړې وه، او ښه په خبره پوه سړی و، ورغلم. کله چې یې کور ته ورننوتلم، ګورم چې څو نور دوستان یې میلمانه دي، په کور کې یې ګڼه ګوڼه ډېره وه، هر یو خبرې کولې.

زه هم کښیناستم او په مناسب وخت کې مې ورته خپله قیصه وکړه، ټول غلي ناست او غوږونه یې ایښي و. ژړغونی شوی وم. په ډېر مشکل سره مې د خپلې ژړا مخه نیولی وه. په همدې وخت کې له یوې غیر مترقبه پېښې سره مخامخ شوم. هغوی ټولو چې زما خبرو ته یې غوږونه نیولي وو، خندل، ان یوه میرمن چې په لاس کې یې د څښلو ګیلاس و، له ډېرې خندا نه یې ګیلاس د هغه سړي په سر چې تکیه یې پرې کړې وه، نسکور شو.

خو ما یوه جدي مسله هغوی ته ویله، هغوی چې غوږ یې نیولی و د قصې په نیمایې کې یې دا جملې ویلې:

- څومره رومانتیک.
- څوره په زړه پورې.
- ډېره خوندوره ده.

ما خپل دردونه ویل او هغوی زما په دردونو قهه قهه کوله.

د میلمنو په منځ کې یوه میرمنه چې لږه په کونج کې ناسته وه د سترګو څخه یې اوښکې بهیدلې، په زړه کې مې وویل: دا ښځه څومره با احساسه ده، زما خبرې حتما درک کوي، په همدې چرت کې وم، چې یو ځلې هغې هم په لوړ غږ په خبرو پیل وکړ:

- نور بس دی، دومره مې وخندل، چې له سترګو نه مې بېخي اوښکې روانې شوې.

نو ما چې به هر څه ویل هغوی به خندل، د خدای پامانی په وخت کې یې وویل:

- نن ورځ ډېره ښه تيره شوه، ډېر مو وخندل، سبا هم تشريف راوړئ، چې بيا هم وخاندو.

له بې کسۍ نه سبا هم د همهغه دوست کره لاړم، خپله هيله مې له لاسه نه وه ورکړې. خو بيا هم چې ما به څه ويل، ټولو به خندل. په دې ترڅ کې يو ميلمه وويل:

- د خدای ﷻ په خاطر نور څه مه وايه.

ډېر خوښ شوم، له ځان سره مې فکر وکړ، بلاخره يو څوک پيدا شو، چې ما درک کړي، په همدې فکر کې وم، چې هغه وويل:

- دومره مې وخندل چې بيخي پرتوګ مې لوند شو. نور غلی شوم، يو-يو ته به مې کتل،دومره ډېر يې خندل چې لړ پاتې و چې د خندا نه يې پوښتۍ ماتې شي، يو ځل مې چغه کړه:

- د څه له پاره خاندئ، د خندا مې څه ويلي دي؟

- ولې ته طنز ليکونکی نه يې، ته هم بيخي نمونه يې، رښتيا دا څه چې دې وويل پخپله در باندې تير شوي دي؟

- څومره ښه دې تعريف کړل.

- ډېر په زړه پورې څه يې وويل.

- رښتيا،رښتيا دا بلاګانې درباندې راغلي؟

- نه مړه، غوښتل يې چې موږ وخندوي.

هوکې د سترګو توره غوباړې زما ټول ژوند همداسې تير شو، د هغه وګړو په منځ کې چې د ژړا په ځای خاندي، ژوند راته ورځ په ورځ تريخيده. هغوی ته هيڅکله مه وايه چې د دي کبله چې مې ونه کړای شول چې خپل دردونه او ناکامۍ هغوی ته شرح کړم، نور مې طاقت ونه کړای شو او مړ شوم، ځکه چې په خواب کې به ووايې:

- څومره په زړه پورې او د خندا نه به يې پوښتۍ ماتې شي، که غواړې چې زه دلته راحت شم، نو پخپله اندسې دې هغوی ته يوه ټونګه ورکړه.

وزرې دې چې د لمر په روښنايې کښې به ځليږي، ښکلوم.

ستادوست

خر مړی

## (٦)

ګرانه غوبارۍ:

پوهیږې چې کله کومه دوسیه د کوم دفتر په الماری کې ځای ونیسي او یا د کوم میز په سر پریوزي، نو کلونه هما غلته پرته وي. مورږ هم همداسې د روغتون په تکاوی کښې ځای پر ځای شوي یاستو. یو ګهیځ د تکاوی ور پرانستل شو. تولو مرو خوښي پیل کړه او چیغې یې کړې:

- قانوني ډاکتر ته - قانوني ډاکتر ته مو بوځئ. د مرو غږونه ژوندو نه اوریدل، د هغو خلکو په شان چې ژوندي دي خو څوک یې غږ نه اوري.

د روغتون د دوه چپراسیانو سره یو بوډا کلیوال سړی هم راننوت، بوډا په لوړ غږ وویل:

- زوی مې کوم دی، زوی مې چیرته دی؟

یو چپراسي ورته وویل:

- زوی خو مو درله خوړلی نه دی، چغې مه وهه، حتماً دلته دی.

- په خپل لاس مې دې روغتون ته راوړ- دلته مې ځملاوه، اوس وایاست چې نه مو دی راوړی او بل کوم روغتون ته مو وړی دی.

- په دې لوی استانبول کې ګڼې همدا یو روغتون دی، تا سره څه نښه ده چې همدې روغتون ته دې راوړی دی، دا ځای د بانک په شان دی، پرته له خالي بوجیو او پوښونو څخه دلته څه نه ورکیږي.

بوډا وویل:

- ما خپل زوی په خپل لاس په دې روغتون کې ځملاوه، دا یې هم نومره په لاس کې مې ده. یو چپراسي هغه کاغذ چې د ناروغ نومره پکښې وه د هغه د لاس نه واخیست او نومرې ته یې وکتل د یو مړي په سر ودرید او وې ویل:

- راشه دا دې هم زوی، ما خو درته وویل چې دلته څه نه ورکیږي، دا ځای د بانک په شان دی، ته همدا چیغې وهې چې زوی مې زوی مې. د روغتون نومره

t.me/AryanPashtoLibrary

لکه د لاترۍ د ټکټ غونــدې ده يعنــی لومـړۍ بـايد وړې جـايزې وګورې يعنــی وروستۍ نومره او وروسته بيا ځګو نومرو.ته وګورې.

دلته چې راغلې لومړی بايد چې د مړو ځای ته ورشې او خپل ناروغ ولټوې، کــه دې نه ومومند بيا د قانوني ډاکټر پسې لاړ شه، کــه هلتــه يــې هــم درک ونــه لګيــده بيــا د عملياتو د کوټې نه احوال واخله، که هلته هم نه و، بيا د ژونــدو کــوټې ولــټوه، اخــر هر کار يوه لار لري.[1]

هغه بوډۍ ښځه چې زما کيڼ اړخ ته پرته وه ، هغــه يــې کليــوال بــوډا تــه د هغــه د زوی په ځای وروښودله، بوډا ورته يو څو شيبې وکتل او بيا يي وويل:

- دا زما زوی نه دی.

چپړاسي په قهر شو.

- موړ ګني دروغ وايو، همدا نومره يې ده

بوډا وويل:

- دا خو هيڅ زما د زوی په څير نه دی.
- څو ورځې په دې روغتون کې و.
- د جمعې په ورځ يې دوه اوونۍ پوره کيږي.
- ښه اوس پخپله ووايه کاکا، هغه څوک چې دوه اوونۍ په روغتون کې پروت وي هغه نو بيا پيژندل کيږي؟
- بوډا سرې چې څومره کوښښ کاوه خو هيڅ باور يې نه راته چــې دا دې د هغــه زوی وي.
- ښاغليه يو وار يې زما زوی په زيږنتون کې بدل کــړ- اوس داســي کــار مــه کــوئ چې مړ يې هم بدل کړئ.
- په خدای چې همدا ستا زوی دی، وګوره نومره يې هم همغــه نومـره ده چــې تــا راوښودله، ايا نالوستی يې؟ بوډا سرې لږ کوږ شو او په ځير يې د مړي مخ تــه وکتل، يو وار يې چيغه کړه.
- دا خو زما زوی نه دی کومه بوډۍ ښځه ده.

---

[1] بيسواده

- ته نه پوهیږې دلته د جراحی د عملیاتو په وسیله سړی ښځه او ښځه سړی کوي، ښایې ستا د زوی جنسیت یې هم په یو عملیات سره بدل کړی وي.
- ښه، ډېره ښه ده خو زما زوی شل کلن و او دا شپیته کلنه ښکاري.
- کاکا ته څومره بدٍ ګومانه یې، نو دا ښه کار و چې ډاکټران ستا شل کلن زوی مړ کړی؟ نو حتماً یې داسي کار کړي دی چې اول زوړ شي او بیا یې مړ کړي، راشه دا مړی دي واخله او موږ بیغمه کړه.

بوډا سړي د خپل زوی په ځای هغه بوډۍ ښځه په شا کړه او چپراسیانو ورسره د مړي په ویستلو کې مرسته وکړه.

یو مړي وویل:

- څومره نیکمرغه وه، بې غمه شوه، ویې وړله، کاشکې چې یو بل کوم کلیوال سړی هم پیدا شي او ما د خپلې خور یا خوابنې په ځای یوسي.

له هغه مړي نه مې چې خبرې یې کولې، پوښتنه وکړه.

- پوهیږې چې د دې بوډا سړي په زوی څه وشول؟
- څو ورځې مخکې ډاکټرانو هغه ازمونځای ته یوړ، چې پوه شې، چې ولې مړ شوی دی. خو زما په نظر چې باید ژوندي خلک معاینه کړي، چې څنګه کولی شي چې په دې شرایطو کې ژوند کوي، داسې نه ده؟

ښاغلی غوباړی!

ډېر مې زړه غواړي چې پوه شم چې دغلته زما په هکله څه ویل کیږي. آیا وایي چې خدای ﷻ دې وبخښي؟څوک یې ځای نه شي ډکولای او یا وایي چې ښه وشو چې مړ شو اوږیو میکروب ورک شو. څه هر څه چې وایي، وایي دې، زما له پاره مهمه نه ده. هغوی له دې کبله چې زه مړ شوی یم، له رخې نه دا خبرې کوي، ځکه چې موږ له هغو نه مخکې یاستو.

ستا وفادار دوست

خرمړی

## ۷

ګرانه غوبارِی، پوهیږم کله چې ژوندی وم د ویده کیدو له پاره مې کوم ځانګړی ځای نه درلود او نه مې له کوم ځانګړي ځای سره عادت درلود. هر چیرې چې به وم ویده کیدم به، په کور کې، زندان کې، هوټل کې، کوڅه کې، دښت او بید یا ......هر ځای چې به وُ فرق یې نه کاوه همهغلته به مې لیکل هم کوّل، د میز په سَر یا د پښو په سر.

خو یوازینی شی چې زما رخه[۲] به یې راوپاروله هغه خلک و چې د ځانګړي ځای یا بسترسره به یې عادت درلود، مثلا کله چې به یې شپه په یو لوکس هوټل کې تیره کړه سهار به یې اسویلي وویستل چې" ټوله شپه مې یو ټکی خوب نَه دی کړی، ځکه چې په خپل ځای کې اموخته یم او په بل ځای کې خوب نه راځي" هو کې ما له دې بیځایه نیکمرغیو سره حسادت درلود.

هغه وګړي چې د ځان له پاره ځانګړی ځای نه لري په کوم ځای کې د غربت احساس هم نه کوي، په قبر کې ما هم د غربت احساس ونه کړ. نمجنه خاوره چې د سر لاندې مې پرته وه لکه پوس توشک او هغه خاوره چې د پاسه راباندې پرته وه لکه سره برستن داسې راته ښکاره کیدل. قبر مې ډېر راحت و، خو په شا کې مې څه شی چوخ، چوخ کیده. کله چې مې لاس کړ چې د شا څخه یې لیرې کړم، غږ شو لاسونه مه وهه لوبې مه کوه.

که مړ نه وای له ډاره به مړ شوی وای. خو مړي نه ډاریږي.

مخ مې راواړوه ګورم چې زما لاندې یو بل مړی هم پروت دی.

- زما لاندی څه کوې؟
- ته دلته زما له پاسه څه کوی، دا زما قبر دی.
- زه خو په خپلو پښو دلته نه یم راغلی، زه یې همدلته ښخ کړي یم، دا زما قبر دی.

---

[۲] حسادت

- ښه که داسې وي ، نو کله چې يې زما له پا سه ښخولـې هغـه وخـت بـه دې غږ پورته کړی وی چې دلته يې نه ښخولای. هغه وخت دې ولې څه نه ويل ؟
- ولې، ژوندي ګنې د مړو غږ اوري ؟
- کله چې ژوندي وُ چا مو غږ نه اوريده او اوس چې مړه يـو هـم خپـل غـږ د چـا غوږونو ته نه شو رسولی.
- هغوی چې يوازې ژونـد تـيروي فقـط د سرشـميرنې پـه وخـت کـي د ژونـدو او ښاريانو له ډلي ګڼل کيږي.
- داسې معلوميږي چې ته هم له هغې ډلې څخه يې، چې لا نړی تـه راغلـی نـه وې، بيا مړ وې؟!
- که داسې نه وی، د وراسته بادرنګ غوندې به يې يو د بل په سر نه اچولای!
- رښتيا دې وويل، ما فکر کاوه، چې کله سـړی مـړ شـو، بيـا بـه د پـانګوال او بېوزلي په منځ کې څه فرق نه وي.
- هو، فرق نه وي، خو اوس نه، کله چې خاورې شو هغه وخت...
- هيله کوم دا څه دې چې ما چوخوي، دا زما له لاندې نه لـږ لـرې کـړئ، نـه پوهيږم لاس مو دی، که پښه او که کوم بل ځای.
- که دومره نارامه کيدې، ځان ته به دې کوم جلا قبر جوړ کړی وای.
- نو څه کيږي، که لرې يې کړئ، ښايي تاسې هم لږ راحت شئ.
- نه په دې حالت کې زه اموخته شوی يم، کله چې ژوندی وم، اته کسه بـه پـه يوه کوټه کې ويده کيدلو، هغه وخت هـم همـدا حـال وُ، هيچـا بـه هـم څه نـه ويل، خو دا ځای ما ته له هغه ځای نه ښه دی، ځکه هلته په يـوه کـوټه کـې اته کسه وُ او دلته يوازې په قبر کې درې کسه ياستو.
- څه دې وويل، درې کسه، هغه بله څوک دی؟
- زما لاندې يو بل مړی هم دی.
- تاسې د چا په سر پراته ياستئ؟
- د يوې ښځې په سر.
- ولې يې موږ ټول په يو قبر کې اچولي ياستو؟
- ځکه نن قبرونه هم لکه نور شيان په تور بازار کې خرڅيږي.

د څمکې له تل نه يو ضعيف غږ راپورته کيده.

- که څو کسه په يو قبر کې وا نه چوي، ټول ښار به له قبرونو ډک شي، او بيا به د ژوندو له پاره ځای نه وي.

له هغه سړي نه چې زما لاندې پروت وُ، پوښتنه وکړه:

- دا څوک خبرې کوي؟
- هغه ښځه چې په لاندې پوړ کې ده.
- ولې يې غږ دومره ټيټ دی؟

د پوښتنې ځواب مې په ټيټ غږ د لانديني پوړ ميرمنې راکړ:

- ځکه چې زه د يوې سهوې نتيجه يم.
- څه مو وويل د يوې سهوې؟
- هوکې! د ډاکټرانو د سهوې. يو متل دی، چې وايي د ډاکټرانو سهوې خاورې پټوي.

زه هم د ډاکټرانو د سهوې له کبله مړه شوم. له دې کبله چې سهوه يې رسوا نه شي، نو بې له ځنډه يې را باندې خاورې راواچولې، نو ځکه مې غږ داسې ټيټ دی. ځکه مړي په همهغه وروستی غږ چې په ژوند کې يې درلود، خبرې کوي، ما د مړينې په وخت کې هيڅ د خبرو توان نه درلود. زړه مو غواړي چې پوره قصه درته وکړم؟

- ولې نه.

هغه سړی چې زموږ تر مينځه پروت وو، وويل:

- هيله کوم نور بس دی، زه مې د ښځې د ډېرو خبرو له امله مجبور شوم، چې مړ شم، دلته هم ما تاسې ارام نه پريږدئ. له هغې ورځې نه چې زه يې دلته راوړی يم، ما ستا د مړينې قصه پنځه کرته اوريدلې ده.
- خو دا ښاغلی نوی راغلی دی، او غواړي چې وا يې وري، که ستا زړه نه کيږي، نو مه يې اوره. ما غوښتل چې څه ووايم، چې هغې ښځې په ټيټ غږ په قصه پيل وکړ:
- سترګو مې درد کاوه، له دې کبله چې موږ غريب خلک وُ، دومره پيسې مو نه درلودې، چې شخصي کتنځي ته لاړه شم، نو يو دولتي روغتون ته لاړم.

ټول ناروغان يې په يوه كوټه كې راغونډ كړي و، كله چې به اووه-اته كسه شولو، ناروغپاله به راغله، او غږ به يې وكړ، چې د ايكسرې خونې ته لاړ شئ، چې لومړی د ټولو عكس واخلي.

- زه د سترګو د معاينې له پاره راغلې يم.
- زه د خوړې ناروغه يم.
- زه يوازې د ډاكټر ليدلو ته راغلې يم.

خو ناروغپاله ډېره ډيكټاټوره وه، يوې خبرې ته يې هم غوږ و نه نيوه.

- پرته له ايكسرې څخه د يوه ناروغې هم نه تشخيصيږي. كه تاسې پخپله دومره پوهيدئ، نو روغتون ته د څه له پاره راغلې يئ؟ دا دولتي روغتون دی، مفت او وړيا معاينه كيږئ، بيا تاسې لا ناز هم كوئ؟

بيړه وكړئ، او همداسې يې د ايكسرې خونې ته ټيله كړو. هغه سړی چې د ډاكټر ليدلو ته راغلی وو، او له ټولو نه مخكې ولاړ وُ، كله يې چې د فلم له پاره ترې روپۍ وغوښتې، وې ويل:

- د فلم ليدو له پاره خو نه يم راغلی، دا سينما ده كه روغتون؟

بالاخره يې زموږ ټولو نه د فلم روپۍ واخيستې. هغه ډاكټر چې زما د ايكسرې فلم يې په لاس كې نيولی وُ، فلم ته يې ښكته پورته وكتل، سر يې وښوراوه او وې ويل:

- مجبور ياستو چې وې باسو.
- نه، ښاغلی ډاكټر صاحب، هيله كوم.
- پيچكاري درته كوو، بې سده كيږې، بيا هيڅ په درد هم نه پوهيږې.
- څه غواړئ چې وې يې باسئ ډاكټر صاحب، سترګه ګنې ايستل كيږي؟
- سترګه دې نه، غاښ دې وباسو. ستا ټولې ناروغۍ ستا د چينجې وهلي غاښ له كبله دي. په دې وخت كې ښاغلي ډاكټر زما د چينجې وهلي غاښ پر ځای يو روغ غاښ وويسته. بيا يې دويم، دريم او څلورم، نو بلاخره مې ورته وويل:
- ښاغلی ډاكټر صاحب ټول غاښونه مې اوباسئ؟
- كه ټول غاښونه ونه باسم، مصنوعي غاښونه نه شم كينولی!

يو وار مې چيغه كړه:

- د خدای په خاطر ډاكټر صاحب، زه د سترګو د معاينې له پاره راغلې يم.

ډاکټر یو وار د معاینې پاڼه را واخیسته، هغې ته یې وکتل، او وې ویل:

- دا لومړی ځل دی، چې د احمد په نوم ښځه ګورم.
- احمد نو څوک دی؟
- زه څه پوهیږم، ستا د کاغذ په سر یې لیکلي دي.

بلاخره پوه شوم، چې زما د ایکسرې فلم د احمد نومې سره بدل شوی دی، او د هغې د چینجنو غاښونو پر ځای یې زما روغ غاښونه وویستل. و مې ویل:

- زما بیچاره غاښونو.
- نه بیچاره احمد، ځکه چې د چینجې وهلو غاښونو له کبله یې ښتورګي پړسیدلي و. اوس به یې ستا په ځای هغه ته عینکې ورکړي وي. عینکې پړسیدلو ښتورګو ته هیڅ ګټه نه رسوي، که ستا غاښونه مو وویستل دومره فرق نه کوي، ځکه چې حتما بیا چینجو وهل، او یوه ورځ نه یوه ورځ دې ویستل.

زه ډېره غصه شوې وم، په زور زور مې ژړل، چې یو مهربان ډاکټر مې خوا ته راغی، او را څخه یې وپوښتل:

- ولې؟ څه شوي دي؟ ولې ژاړې؟

ټوله قیصه مې ورته وکړه، په مهربانۍ یې وویل:

- دا زما کارت دی، زما کتنځي ته راشه، هلته به دې ښه معاینه کړم. سبا ته د هغه کتنځي ته لاړم. هغه د اعصابو ډاکټر وُ، ورته مې وویل:
- زه کومه عصبي ناروغي نه لرم، سترګې مې لږې خوږیږي.
- تاسو نه پوهیږئ، د اعصابو ناروغي یو بل ډول ناروغي ده. آیا تر اوسه دې اوریدلي دي، چې یو لیونی دې ځان لیونی وبولي؟ نو له همدې کبله تاسو نه شئ کولای چې خپله ناروغي تشخیص کړئ . وروسته د هغې چې د اعصابو ډاکټر معاینه کړم زما ناروغي یې د "رګ نیولو " ناروغي تشخیص کړه او زه یې خپل یو دوست ته چې د داخلي او کوچنیانو ډاکټر وُ وروليږلم . لومړی یې زما وینه معاینه کړه. له دې کبله چې په وینه کې مې غوړ ډېر وُ نو د میتازو معاینه یې را باندې هم وکړه په لابراتوار کې زما د متیازو بوتل د یو بل ناروغ د متیازو له بوتل سره بدل شوی وُ چې فاجعه له همدې ځای څخه پیل شوه. له هغې وروسته مې بیا ښه ورځ نه ده لیدلې. د یو روغتون نه بل روغتون ته او له یو

ډاکټر نه بل ډاکټر ته تللم او هر ډول پیچکاری، ګولی او کپسولونه مـي مصـرف کړل. دومره ضعیفه شوې وم چې غږ مي بالکل د مچ د غږ پــه څیر شـوی وُ. لـه دي کبله چې مړه شوم ډیره خوشحاله یم، له کړاو نه خلاصـه شـوم. کلـه چـې مي د دي ښځې قصه واوریــده بیخـي ژړا راغلـی وه خـو مـړي نـه ژاړي. ګرانـه غوباړي حتماً به په زړه کې وایې چې مړي څه نـه خـوري، نـه ویـده کیـږي، خبري نه کوي، خاندي نه ، ژاړي نه نو دا مړي د هغـو سـر تـیرو غونـډې دي چې په پیره ولاړ وي. هو کې ډېر ښه پوه شوې، تقریباً همدغسي یاســتو. سـتا د لیدو ډېر تږی یم، ته هم زما په فکر کې یې؟

ستا دوست

خرمړی

## ﴿۸﴾

کله چې د محکمې غټې کوټې (سالون) ته ننوتلم، د پخوا په څیر راساً د تورنو[3] کوټې ته لاړم.

د محکمې رئیس وویل:

- نوم؟
- خرمړی!
- د پلار نوم؟
- عدالت بیګ، تاسې ته دا هر څه معلوم دي، ولې هسې وخت ضایع کوئ؟
- د محکمې له قوانینو سره مخالفت مه کوه.
- چېرته وزیږیدې؟
- فکر کوم چې د مور په بستره کې مې.
- دلته ولې راوستل شوې؟
- خپلواکي مې غوره کړې وه.
- آیا په خپله ګناه پوهیږې؟ ستا ګناه د قبلې په لورې میتیازې کول دي. په خپله ګناه اعتراف کوې؟
- نه، ځکه د دې کبله مې دا کار وکړ، چې د لمر درناوی وشي، نو لمر ته مې شا کړه.
- څه کار کوې؟ یعنې مسلک دې څه دی؟

دې پوښتنې ته ځواب ورکول لږ سخت وُ.

- که وخت پیدا کړم لیکل کوم.
- څه، څه لیکې؟
- څه خو مې لا لیکلي نه دي، غوښتل مې چې و یې لیکم.

---

[3] متهمینو

- هیڅ فرق نه کوي، یا دې لیکلي یا غواړې چې ویې لیکې، هر څه چې وي، مدعا نیت دې کړی وُ که نه؟
- هو کړی مې وُ، زړه مې وُ چې د اوبو او هوا په هکله ولیکم.
- هو، سترګې مو دې روښانه وي، د هوا څخه لیکل یعني د تجارت څخه لیکل ..... یعني .... سمه ده؟
- هو ښا غلیه،
- کله چې مو د هوا په هکله لیکل، دا او هغه دې هم توهین کړي دي. په دې کې څه وایې ؟
- حتماً به مې کړي وي، نه پوهیږم.
- له دې تور څخه تورن په پنځه کا له بند د سختو کارونو سره محکوم شو. نور دې څه، څه لیکل؟
- هو، یاد مې شول، د ښو اوبو په هکله.
- د اوبو په هکله دې د لیکلو څخه څه مقصد درلود؟
- دا چې زموږ په هیواد کې څه شی د اوبو په څیر بې رنګه او بې بویه دي، هو، ویناوې او خبرې.
- په دې صورت کې دې د ده او هغه معنوي شخصیت ته هم توهین کړی دی، کړی دې دی که نه؟
- ښایې چې کړی مې وي.
- د دې تور له کبله د تورن د صریح اعتراف په اساس هغه په پنځه کاله بند محکوم شو.

څو کاله شول؟ لس کاله. ښه نوره دې څه ګناه کړې ده؟

هو، تورن په خپلو خبرو کې وویل چې د ده او هغه په هکله مې لیکل،دا او هغه کوم کسان دي؟

داسې څرګندیږي چې تورن د ځینو خلکو پورې ملنډې وهلې دي. وهلې دې دي که نه؟

- نه پوهیږم ښایې وهلې مې وې.
- پنځه کاله له دې کبله، ټول شول پنځلس کاله، چې حساب غلط نه کړې.

نور دې څه ليکل؟

- هيڅ نه قربان.
- ليکل دې، زر کوه اعتراف وکړه.
- خط مې ليکه.
- حتماً دې دا ليکونه يو چا ته ليکل، دا په دې مانا چې... کړې دې، دي که نه؟
- کړي مې دي.
- پنځه کاله نور. چې تول شي شل کا له.
- ښاغلی، غواړې چې څو کاله پوره کړې؟
- دا توهين دی. تا يو دولتي مامور توهين کړيدی، کړی دې،دی که نه؟
- ؟.........
- ووايه کړی دې،دی که نه؟
- نه مې دی کړی.
- اعتراف وکړه.

بيا يو بل ته نږدې شول او يو د بل په غوږ کې يې وويل:

- پس،پس،پس
- سمه ده خو پس،پس،پس
- هو کې پس،پس،پس

محکمه خپله پريکړه اوروي:

- د تورن تورونه ثابت شول، يوازې له دې کبله چې عملي شوي نه دي او يوازې د فکر په حدودو کې دي نو د شلو کالو محکوميت څخه دوه نيمې ورځې کمې شوې، نو نوموړی تورن په نولس کاله او دري سوه دوه شپيته.نيمو ورځو بند، سره د سختو کارونو محکوم شو. د بند د دوري د پوره کيدو وروسته تورن بايد يو بد آب و هوا ځای ته وليږل شي. که چيري د تورن عمر د بند دوران پوره نه کړي يعنی مخکې له دغه وخت څخه مړ شي، نو نوره د بند دوره يې بايد نور وارثين.تيره کړي. دا پريکړه د رايو په اتفاق تصويب شوه.

وروسته له دې نه چې منصفي محکمي خپله پريکړه څرګنده کړه د محکمې رئيس وويل:

- د ځان نه وروستی دفاع وکړه.
- زه فکر کوم د محکمي ښاغلو غړو چې ....
- غلی‌شه، بس دی محکمي خپله پريکړه اورولې ده.
- ژوندی دې وي عدالت.

هوکې ګرانه غوبارۍ، دا و زما احوال، ستاسو څه حال دي؟ تر اوسه لا اوبه قطع دي؟ ايا تر اوسه لاهم هره شپه د بريښنا جريان قطع کيږي؟ بيا هم د دې له پاره چې محتکرين د موادو د راغونډولو له پاره پوره وخت ولري، لومړی وزير اعلانوي چې د فلاني او فلاني موادو بيعه به نه لوړيږي؟
نه پوهيږې چې څومره دې د ليدو تږي يم په ډيره مينه دي سترګې ښکلوم.

ستا دوست

خرمږی

## ﴿۹﴾

ګران دوست غوبارۍ ته!

د دې کبله چې پرته له کومې سریزې پیل کوم بښنه غواړم. ګرانه غوبارۍ کله چې زموږ امبولانس موټر یو وحشتناکه بریک ونیوه، نږدې و د هغه چا د پیژندنې پانه بیخي باطله شي کوم چې د امبولانس لاندې لکه بش غزیدلی و.

بې پیسو او بیکاره وګړي د ټپي سړي په سر راټول شوی و، عجیبه منظره وه، یو سړي ټکر شوی سړی وښوده او ویې ویل:

- څومره نیکمرغه سړی و

یو بل کس وویل:

- هو، نو – د چا چې بخت ویښ شي همداسې وي.
- ورته ډېر د شکر ځای دی چې د امبولانس لاندې شوی دی.
- دا زه چې وایم چې ډېر نیکمرغه سړی و خو همدا مې مقصد دی.
- ډېر ښه وشو، ډاکټر پخپله ناروغ تـه رارسیدلی دی، او هغه موټر چې د ټپي کولمې او پپوس یې یو ځای کړیدی، ټپي به پخپله روغتون ته یوسي.
- که کوم بل موټر وهلی وی نو...
- اوس به مړ وای...
- که ټوله ورځ یې د سړک په غاړه لمر ته اچولی وای هیڅ امبولانس یې نـه شو پیدا کولای.
- د امبولانس موټر خو پریږده، که د ښاروالۍ موټر وای بیا هم ښه و.
- وروره تا هم ملنډی پیل کړیديَ، د ښاروالۍ موټر چیرته دی؟ پوره یوه اوونی کیږي چې زموږ سیمې ته نه دی راغلی.
- طالع یې ویښه شویده! په دې لوی استانبول کې به څو زره موټرې وي څو زره بسونه، څو زره شخصي موټرې، څو زره ټکسیان، خو ټول پکښې پنځه شپږ امبولانسه نشته.

- نه، ښاروالي لس دانې امبولانسه لري، چې اته دانې يې خراب دي.
- د حيرانۍ خبره نه ده، چې په دومره موټرو کې سړی امبولانس ووهي؟
- هغوی چې د لاترۍ ټکټ ورته راووځي هم بخت يې دې سړي ته نه رسيږي.
- همداسي ده، کله چې د سړي طالع ويښه شي نو د امبولانس لاندې کيږي.
- کله چې يو څوک مړ شو، څه فرق کوي چې د چکلې لاندې شو او که د امبولانس لاندې.
- که مړ شي فرق نه کوي خو که ژوندی پاتی و، ډيره مهمه ده - دا سړی لا ژوندی دی.
- هغه سړی چې د امبولانس د ټکر له کبله لس متره هغه خوا ته گوزارل شوی و، وينو يې پشکې وهلې او سړک يې د وينو نه ډک کړی و. د حاضرينو څخه يوه وويل:
- ماشاالله، عجبه ده، انسان او دومره وينه.
- يو بل سړي دغه سړي ته ځواب ورکړ:
- د وينې اندازه يې څرگندوي چې ډېر لوی سړی و.
- نه ښاغلی، لوی سړی چرته و، زه هغه پيژنم.
- که لوی سړی نه دی، نو دا دومره وينه يې له کومه کړې؟
- ته څه وايې وينه ورکول د ده مسلک دی. تل يې خپله برقي راډيو غوږ ته نيولې وي. چې به يې واوريدل چې په فلانې روغتون کې وينې ته اړتيا ده، نو سمدلاسه به يې ځان ور ورساوه او وينه به يې ورکوله او د هغه په پېسو به يې بچو ته روزي پيدا کوله. بچيان يې هم د گلونو په شان سره- سره دي. د دې ټيټي وجود داسې جوړ شوی دی چې اوبه وڅښې هم وينه کيږي.
- څو کاله مخکې ما د يو غټ موټر سره ټکر وکړ، چې بيخي عقل مې له لاسه ورکړی و، که رښتيا درته ووايم، مخکې له دې څخه چې موټر ما ووهي زه به يې سده شوی وم، اوس څه وايې. ځکه چې زه درې ټنې موټر وهلی وم، له دې سره-سره يو ټکی وينه هم را څخه نه وه راوتلې. يوه ورځ وروسته يې د سړک له منځ څخه را وا خيستلم او روغتون ته يې يوړم. زما معالج ډاکټر وويل :
مجبور ياستو چې عمليات يې کړو.

مور چې مې دا واوریدل په عذر او زارۍ یې وویل :
-ښاغلی ډاکټر اوس چې تاسي زما د زړه د ټوټې ګیډه څیروئ، اپنډیکس یې هم پـرې کړئ خدایﷻ مو عمر اوږد کړه.
ډاکټر زه د جراحی په میز واچولم او زما په بیتي کولو یې پیل وکړ. ډاکټر چې به هر څومره زه څیرولم، زما څخه یو ټکی وینه هم نه راوتله.
- نو حتما به دي وینه وچه شوي وه.
- نه زړګیه، وینه چیرې وه چې وچه شي. که وینه دې پـه وچیـدو کـې راشـي، بس چې سړی یو ګیـلاس اوبـه وڅښي، سمدلاسـه بیرتـه خپـل لومړنـی حـالت نیسي.
- نو هغه وخت به ستا وینه ښه نه وه.
- ته څه وایې، تا ته مې وویل چې وینه مې نه درلوده، نو یو شی خـو وای چـې ښه او بد وای.
- ښه دا چې مې وینه نه درلوده، نو دا امکان لري چې یو سړی دې بې له وینې ژوند وکړي؟
- سمه ده، ډاکټران هم حیران شول، جراح ډاکټر وویل :" ښه ده چـې وینـه یـې نه درلوده، که نه د ټکر وروسته به ترې ډیره وینـه تللـي وای او مـړ شـوی بـه وای." نو وینه مې نه درلوده چې را څخه لاړه شي.
- باور مې نه راځي، بې وینې سړی؟ نه هیڅ نشته.
سمه ده چې، بې وینې سړی نه وي مسله خو داسې ده چې د ټولو خلکو وینـه سـره وي، خو زما وینه سپین رنګه وه. همداسې چې یوه هندوانه ګورې چې سره وي خـو یوه بله به ګورې چې زیړ رنګه وي. زما وینه همداسې وه.
- زه خو یې نه باوروم.
- که باتینګړ لمر ونه وینې سور کیږي؟ نه، نو زما وینــه د همـدې اصـل پـه بنـا بـې رنګه ده. یعنې ما د زږیدو د وخت نه لمر نه دی لیدلی په تکاوي کې لـوی شـوی یم.
اوس پوه شوی چې ولې زما وینه سپینه ده؟
- هو، دا لا یو شی شو، اوس مې بـاور راغـی. دا بـه دې لومـړی ویلـي وای چـې دومره جنجال مو نه کولای.

هغه سړی چې د امبولانس سره یې ټکر کړی و، را یې وړ او زما په څنګ کې یې کېښود. اوس په امبولانس کې څلور کسه شو. یو د امبولانس ډریـور، یـو د امبولانـس کلینډر، دریم ژوبل شوی سړی او څلورم ستاسې ښاغلی دوست خرمړی.
اوس نو امبولانس زیل کړی و او هیڅ نه چالانیده. داسې موټر دې کله لیدلی دی چې کله غواړې چې ودرېږي نه ودرېږي او چې کله غواړې چې چالان شي له ځای نه نه خوزېږي. یو د حاضرینو څخه وویل:
- دلته یو ورکشاپ دی که زړه مو وي تر هغه ځایه به یې ټیله کـړو. د امبولانـس پـه ټیله کولو یې پیل وکړ. امبولانس بیا هم هیڅ د ځای څخه ونه خوځیـده. کـه رښتیـا ووایم هغوی نه غوښتل چې څه کار وکړي یوازې وخت یې تـیراوه. د خلکـو لـه ډلـې څخه یوه وویل:
- پوهیږئ چې څلویښتو کسو څنګه یوه د چرګې هګۍ پورته کړه؟
- څلوریښتو کسو یوه د چرګي هګۍ؟.....
- یو خان یوه ورځ خپلو خلکو ته وویل: چې دا هګۍ پورته کـړئ، لـه دې سـره سـم څلویښت کسه راغونډیږي، یو له هغوی څخه یوه برستن هـواروي او هـګۍ پـر هغـې ږدي. دا څلویښت کسه د برستن، پیڅکي نیسي او هګۍ وړي.
- خومره ریشخند خبره، مقصد دې څه دی؟
- غواړم چې درته ووایم راځئ چې دا امبولانس د چـرګي د هـګۍ پـه څیر پورتـه کړو.
د امبولانس چلوونکي، یو ټکسي موټر راووست او امبولانس یې د هغې پورې وتـاړه او ورکشاپ ته یې یوړ. میکانیک د امبولانس بانټ پورته کړ او په ډیر تعجـب سـره یـې چیغه کړه:
- دا څه دي؟ چلوونکي په ارامۍ سره ځواب ورکړ:
- څه شویدي؟
- څه غواړې چې وشي، څلویښت کاله کیږي چې میکانیک یم داسې یو څه مې نه دي لیدلي.
- نه دې، دي لیدلي؟ نو اوس یې وګوره.

- په دې مــوټر کــې دا بيتــې، دا د ړيــرې خريلــو ماشــين، د ګنــډلو د ماشــين دا لاستي او دا نور شيان څه کوي؟

چلونکی: تاسو اشتباه کوئ، څو کاله مخکې چې مې ټکر کړی و، کله چې مــو مــوټر ميکانيک ته يوړ، هغه چې د موټر بانټ پورته کړ نو د ضرورت وړ سامان يې پيدا نــه کړ.

- پوه شوم، نو کله چې يې خپل د ضرورت وړ سامان پکــې پيــدا نکــړ، دا کــړې وړې اوسپنې يې پکې ور زياتې کړلې. ګناه يې هـم نـه وه، ځکـه پـه دې ورځـو کې د موټر سامان دومره نه پيدا کيږي.

- زموږ د موټر موډل ډېر پخوانی دی، نو له همدې کبله په هټيو کې د دې پرزې نه موندل کيږي ټېپي که لږ نور هم همداسې پاتې شوی وای نو ژوند يې په خطــر کې و، چاره نه وه که د ښار په مينځ کې وای اسانه کار و، ټېپي مو يو روغتــون ته وړه، خو اوس موږ د ښار څخه بهر و. ښه شو يو نيک سړی زموږ مرستې تــه راغی او ،وې ويل چې په دې نږدې ځايونو کې د اورګاډو يو ورکشاپ دی هلتــه يو ميکانيک دی چې هر څه يې زده دي د زړو موډلو موټرونه اخلي او لــه هغــې څخه يو نوی تراکتور جوړوي او د تراکــتور د وسايلو څخــه يــو بــل نــوی مــوټر جوړوي، لنډه دا چې په مړو موټرونو کې سا اچــوي. ډېر تکــړه ســړی دی. هغــه سړي کومه ناروغي نه درلوده چې موږ ته دروغ ووايــي، هغــه ورکشــاپ تــه لاړو کله چې وررسيدو ميکانيک د سترګو د رپ سره علت پيدا کړ.

د ورکشاپ وره ته نږدې د زړو موټرونو لږې پرزې پرتې وې. ميکانيک غوښتل چې پــه همدې پرزو زموږ امبولانس په کار واچوي ميکانيک لــه ډېرې لټې وروســته خپــل ورک شی پيدا کړ او د هغې په لګولو سره زموږ امبولانس په لار روان شو.

کلينډر ورپل:

- ښاغلی ميکانيک د دې موټر د چوف چاف غړونه به له همدې کبله و.

ډريور:

- احتمال لري.

ميکانيک:

- "ډېر ښه ښکاري"

ډریور:

- څوک کلینډر که امبولانس؟
- دواړه.

لنډه دا ګرانه غوباړی چې زموږ امبولانس یو ګرځنـدوی(۲) لیـدلی و او د هغـې عکـس یې اخستلی و. عکس یې د خپل هیواد په یوه ور ځپاڼه کې چـاپ کـړی و. د عکـس لاندې یې لیکلي و:" پنځوس کاله د موټر له اخـتراع څخـه مخکـې" ډېر تعریـف یـې ورله کړی وٌ د دې امبولانس د جوړونکې کار خانې یو مدیر دا ورځپـاڼه لوسـتې وه او راساً د امبولانس د لیدلو لپاره راغلی و. ځکه چې هغه غوښتل چـې د خپلـو تولیداتـو لومړنی محصول د خپل هیواد په موزیم کې کیږدي.

د غه مدیر د زرونـو کلیـو مـترو واټن پـه وهلـو سـره بـالاخره زمـوږ امبولانـس پـه یـو ورکشاپ کې پیدا کړ. له ډیرې خوښۍ نه یې چیغې وهلې او په خپلې مورنۍ ژبه یې څه ویل. وروسته یې خپله خولی جګه کـړه او غوښتـل یـې چـې زمـوږ سـره معاملـه وکړي. غوښتل یې چې د دې امبولانس په بـدل کـې مـوږ تـه لـس دانـې نـوي مـاډل امبولانسونه او څه نغدې پیسې راکړي.

ګرانه غوباړی نه پوهیږې چې دې غوښتنې زموږ غریب هیواد بودجې تـه څومـره ګټه رسوله.

وروسته د کار خاني مدیر په نرمۍ وویل:

اجازه راکړئ چې د امبولانس موټر له نږدې نـه وګورم. کلـه چـې یـې د مـوټر بـانټ پورته کړ، نږدې و چې سترګې یې د ګاټو څخه بهر راووځي. همدا و چې پـه نښتـې ژبه یې وویل:

" پنځوس کاله کیږي چې زموږ فابریکه موټرې جوړوي خو ما تر اوسه داسي موټر نـه دی لید لی."

د اوسپنی د لاري میکانیک:

هغه سږي ولې تعجب وکړ؟

---

۲ ټورسټ

- ځکه چې د موټر په منځ کې د بیړی سامان، د دیګ بخار سامان، د ګنډلو د ماشین سامان، د ریړۍ د خریلو سامان مقصد هر څه چې دې غوښتلي و پراته و، پرته د امبولانس له ماشین څخه! د کارخانې مدیر چې کله ماشین کته، سترګې یې په یو پړي ولګیدې پوښتنه یې وکړه چې "دا څه شی•دی؟"
- تسمه یې شکیدلی وه د هغې په ځای مو وتاړه.

مدیر هماغسې مخکښې روان و چې یو پلاستیک یې له لاس سره ولګیده، پوښتنه یې وکړه: چې دا څه شی دی؟

- ښاغلي مدیر د پرتوغاښ لرګی دی. د اخستونکي (مشتری) سره مو د ژباړن په واسطه خبری کولی.

مدیر وویل:

- دلته دوه دانې پرتوغاښونه دی. ځواب مې ورکړ:

سمه ده . زما پرتوغاښ شکیدلی و نو مجبور شوم چې د ټپي د پرتوغاښ نه استفاده وکړم.

مشتري له ډېر تعجب او نارامی نه خپل د سر ویښتان شکول او د چغو وهلو په حال کې یې امبولانس ښوراوه. د دی ښورولو له لاسه د موټر ډېر وسایل، د اوسپنو د توټو نه تر د لرګو د توټو پورې راولویدل. ومې ویل:

- ښاغلی څه کوې؟

لاس مې ورله ونیو. خو مشتري همداسي موټر ښوراوه او ویې ویل:

- دا نو څه دي؟ تاسو په امبولانس کې میخونه انتقالوئ؟
- نه قربان، دغه هر یو مو د موټر په یو ځای ټکوالی و. کله چې کوم چړندي ته ورسیږي. کلینډر د موټر نه ښکته کوم تر څو لویدلي وسایل بیرته راغونډ کړي. د مشتری رنګ زیړ شوی و او حال یې خراب و ویې ویل:
- هیڅ ماغزه مې کار نه کوي، دا موټر څنګه کار کوي؟ ډریور یې څنګه چالانوی؟ موټر څنګه حرکت کوي؟

اوس نو زما د خبرو وخت و، نور مې هغه ته د خبرو وخت ورنه کړ. لاس مې وله ونیوه او موټر ته مې ننویسته ورته ومې ویل:

- تاسو فکر کوئ چې دا امبولانس په هغه ماشین چې تاسو ښاغلو جوړ کړیدی کار کوی؟ نه ښاغلیه، که تاسو ته مو خبر درکړی وای یا مو تاسو ته پریښودی وای، مخکې له دې چې تاسو راشئ دا موټر به زموږ د هیواد په کومه دره کې چنیدلی پروت وای. راشه چې علت یې درته په غوږ کې ووایم.

ما چې څنګه ورته د دې موټر د عمر د اوږدوالي علت شرح کړ، اخستونکي یو وار د موټر له اخستلو نه پښیمانه شو. له هغه وخت نه دا مړی زما په غاړه کې پریوت دی. ځکه چې نه د موټر په منځ کې او نه بهر د کمپنۍ کومه نښه موجوده وه. ځکه نو شغوی هیڅوخت ته شوای کولای چې دا امبولانس واخلي.

ګرانه غوباړی، لیک را نه اوږد شو، وبښۍ سر مې درخوږ کړ. زه هم ستړی شوم. روغتون ته د تیپي وړلو او د امبولانس د جوړولو قصه به در ته په بل لیک کې وکړم. که چا زما پوښتنه وکړه، که څوک زما د سرګذشت نه غمګین شو، هغوی ته ووایه چې په اسمانونو کښې هغوی ته سترګې په لار یم.

ستا له لاسه تللی دوست

خر مړی

# ستره غونډه

وینا کونکي خر چې د ستیژ شاته ولاړ ؤ، چغه کړه:
ګرانو خرو ملګرو !
نور خره د دې غږ په اوریدو غلي شو، او غوږونه یې لک څک کړل.
وینا کونکي یو زوړ خر ته چې ملغلړ رنګه اوښکې یې په سترګو کښې راغونډې شوې وې وکتل او ویې ویل:
-مخکې له دې نه چې د خرو دا لویه غونډه پرانیزم د خپلو هغو دوستانو او خپلوانو روح ته د درناوي او دعا له کبله کومو چې د قصاب د چاړه لاندې ژوند له لاسه ورکړی دی یوه دقیقه چوپتیا اعلانوم.
د دې چوپتیا نه وروسته وینا کونکي خره دوام ورکړ:
- ستاسو د دې بې ساري مینې څخه ډېره مننه کوم او په دې وسیله درته خپل د زړه احساسات وړاندې کوم.
ځینو وینا کونکي ته چک چکې وکړې او ځینو د پرله پسې هنګیدلو په وسیله هغوی چوپتیا ته راوبلل.
وینا کونکی وروسته له څو درینجکو بریالی شو چې چوپتیا راولي او ټول غلي شي.
- د خرتوب او خرګری د پت د ساتلو په نوم هیله کوم چې زموږ دا لویه او ستره غونډه د انسانانو په غونډه مه بدلوی، موږ نه غواړو چې د نظم د برحالولو له پاره لکه د انسانانو غوندې د څارندویو (پولیسو) او سوټو څخه کار واخلو. خو خرو په اعتراضي بڼه وویل:
- تاسو غواړئ چې موږ استثمار کړئ. موږ هیڅ وخت خپله خپلواکي له لاسه نه ورکوو!
- تاسو اشتباه کوئ. له هغې ورځې نه چې نړی جوړه شوې ده او موږ د ځمکي پر مخ په څریدو پیل کړی دی. انسانانو موږه بندیان کړي یاستو. خو په دې. دې پوه شي چې موږ هیڅوخت د هغوی مرئي نه و او د خپلی حقه خپلواکی نه دفاع کوو. له دې کبله چې ګورم ځینې دوستان په ما د

انسان د کارونو تور لګوي، خواشینی یم. تر څو ساه راپکې وي، هیڅکله به حاضر نه شم چې حق د پښو لاندې کړم، د چا خپلواکي خو لا پریږده.

- د وینا کونکي خره پلویانو د چک چک کولو او هنګیدو په وسیله هغه تشویق کړ چې خپلو خبرو ته دوام ورکړي.
- دوستانو، زما منظور د دې غونډې له جوړېدو څخه په کوچنیو موضوعاتو خبرې کول نه دي، دا غونډه د هغو همجنسانو د ژغورنې له پاره جوړه شوې ده چې په ډیرې خواشینۍ سره د انسانیت په لور روان دي او یو لوی او ستر خطر هغوی تهدیدوي، په هر ډول چې کیږي هغوی باید وژغورل شي.

هر څومره ژر چې کیږي د هغوی په هکله باید تصمیم ونیسو. لومړی د هر څه نه په لږ وخت کې یو د بل نه د انسان او خره تشخیص زموږ بنسټیزه ستونزه ده. دا غوښتنه ټولو ومنله او د خپلو ملګرو د ژغورنې له پاره په فکر کې ډوب شول. د هغوی له منځ څخه یوه وویل:

- زه غوښتنه کوم، ټول هغه خره چې انسانیت ته یې مخه کړې ده د خپل ځان څخه لرې کړو او هغوی په یو ځانګړي او بیل ځای کې وساتو. بنایي چې د هغوی دا بد خوی د منځ نه ولاړ شي. بل په اعتراضي بڼه وویل:
- دا ښه خبره نه ده چې موږ دي خپل دوستان د ځان څخه جلا کړو، خو که هر څومره انسان هم شي بیا هم خپل د خرتوب خوی له لاسه نه ور کوي. زموږ بنسټیزه ستونزه هغه انسانان دي چې په ډېرې چټکۍ زموږ مزي ته را نږدي کیږي او ډېر زر به خره شي، موږ باید د دې ظاهري انسانانو مخه ونیسو.
- ستاسې خبره سمه ده، موږ باید خره شوي انسانان د خپل منځ څخه لرې کړو وینا کونکي خره بیا خپلو خبرو ته دوام ورکړ او ویې ویل:
- درنو دوستانو، یوازې دې ټکي ته باید پام وساتو چې موږ په مشخصه مزو (سرحدونو) کوم هیواد نه لرو، تر څو وکولای شو چې انسانان هلته تبعید کړو، پرته له دغې، موږ د دې وس نه لرو چې په دغو انسانانو کته واچوو او ښنګرو کې یې نعلونه ووهو. د ټولو نه مهمه دا چې که داسې توان هم

ولرو د يوه خره شوي انسان څخه څه ګټه اخستلای شو؟ يو د هغوی څخه په رنباړو وويل:

- لاقل له هغوی څخه خو ځان لرې کولای شو چې د خپلې ټولنې د خرابيدو مخه ونيسو. وينا کونکي وويل:
- زما دوستانو، دا ناممکنه ده چې موږ دې د انسان ته ورته خرو څخه خالي ټولنه جوړه کړو. په ټوله نړۍ کې د انسانانو اکثريت دی. موږ بايد د يو څو انسانانو له کبله چې خره شوې دي، څنډ و نه کړو. کله چې متوجه شو زموږ اخلاق فاسديږي په دې صورت کې بايد داسې سيمو ته لاړ شو چې دا ډول موجودات هلته نه وي يا لاقل لږ وي، يو له هغوی څخه وويل:
- که داسې تصميم لرئ نو همدا نن بايد وخوزيږو،.....
- د څه له پاره؟
- د دې کبله چې دا ډېر کلونه کيږي له داسې انسان سره چې واقعا انسان وي ډېر لږ مخامخ شوی يم. يو بل وويل:
- تاسي په سمه ياستئ ، بايد ډېر زر وخوزيږو. يو بل:
- ښاغلو باور وکړئ، اصلا انسانيت د ځمکې له مخ نه ورک شوی دی، د باوريدو وړ نه ده، تر څو چې موږ ياستو، انسانان يو بل په متروکو وهي، يو بل ته د ښځو او بچو ښکنځل کوي او يا د هغوی د خپلواکۍ مخه نيسي. يو بل وويل:
- زموږ دوستان رښتيا وايي، فکر کوم چې له ټولو څخه انسانترين انسان زما خاوند دی. زما خاوند شيده پلورونکی دی، هر ګهيځ د شيدو غټ-غټ لوښي په ما باروي، او د شيدو د خرڅولو له پاره له کور څخه وځو. هغه سره له دې چې هر ليټر شيده په ۱۲۰قروشه اخلي؛ د هغې د تودولو او پيروي ليرې کولو وروسته په شيدو کې په سلو کې پنځوس برخې اوبه زياتوي، او له هغې وروسته يې د الله په مخلوق پلوري. خلکو هم څرنګه چې انګه (سوچه) پې نه دې څښلي. فکر کوي، چې دا انګه پې دي، او له دې کبله چې وږې پاتې نه شي، يو ليټر په ۱۵۰ قروشه اخلي.

څو ورځې مخکې کله چې مې غوښتل، اوبه وڅښم، په سر یې داسې په زوره په ډانګې ووهلم، چې نړۍ.را ته بیخي تورتم شوه. کله چې په سد شوم، هغه داسې ویل:

- ورک شې، اوس زه په څه شي شیدې زیاتې کړم. نه وینې چې ښاروالي نه شي کولی، چې خلکو ته د څښلو اوبه ورسوي؟ څو خرو پوښتنه وکړه:
- ښه وروسته یې د تاوان جبران په څه وکړ؟
- هیڅ دوه ورځې یې ما ته د خوراک له پاره څه را نه کړل. او یوه میاشت یې په سلو کې ۸۰ اوبه په شیدو کې ور ډېرې کړلې!

وینا کونکی:

- دا دومره عام نه دي، باید قانع کوونکی دلیل د مدارکو سره وړاندې کړې. یو څو خرو وویل. له دې نور څه ښه دلیلونه شته، چې انسان یو بل ته ښکنځل کوي، د خلکو حق خوري، لارې بندوي، د نورو په تقلید ژوند کوي. موږ غواړو چې په دې ننني غونډه کې زموږ کار له انسانانو سره یو طرفه شي.

د غونډې غړو د پرېکړې د اورولو له کبله شور او زوګ جوړ کړ، او بیا یې دا پریکړه واوروله:

- د غونډې کوونکو په تصویب، ټول خره موظف دي، په هغه ښارونو کې یا کلیو کې چې د انسان نما خرو شمیر په ډېرویدو دی، او د دې احتمال شته، چې هغوی په اخلاقي فساد اخته شي، فوراً دې خپل ځای پرېږدي!

# زموږ دردونه دا دي

لومړی له هر څه مو د مېوه پلورونکي هټۍ ولیده. میوه پلورونکي په یوه بوتل کښې تیل اچول یوه ښځه ورته منتظره وه چې د هغه کار پای ته ورسیږي کله چې هغوی دواړو موږ ولیدو لومړی ښځې او وروسته میوه پلورونکي په خندا پیل وکړ.

وروسته میوه پلورونکي په لوړ غږ وویل:

هی ........ښاغلی رشید تاسو ته سترګې په لار دی قهوه خانه هم دغلته نږدی ده د دې غونډۍ نه چې تیر شي ښي لوري ته ښکاره معلومیږي، ومې ویل:

رشید یې لا څوک دی؟ په خندا سره یې وویل:

انشا الله وبه یې ګورې او بلد به شي.

کله چې غونډۍ ته وختلو، قهوه خانه مو ولیده یو زلموټی هلک .په منډه زموږ خوا ته راغی او ویې ویل:

رشید کا کا مې په قهوه خانه کې تاسو ته سترګې په لار دی، دې پېښې زه ډېر کنجاو کړی وم، کله چې موږ د قهوه خانې د وره څخه ډننه ننه کړه قهوه خانه د خلکو نه ډکه وه.

سلام ښاغلو!

پرته له دې چې د سلام ځواب راکړي، ټولو خندل، البته د ملنډو خندا. پوښتنه مې وکړه:

ښاغلی رشید څوک دی؟

هغه دی.

د قهوه خانې په یوه ګوټ کې یو بوډا سړی چې ښایسته ږیره یې درلوده او د میز په سر یې لغتۍ وهلې وه ښه راغلئ، سترې مه شئ، مهرباني وکړئ.

- ستاسي لطف دی، ډیره مننه، ښاغلی رشید تاسي یاستی؟
- هو کې، زه یم.

لکه چې موږ ته سترګې په لاره وئ، څکه په لاره چې به هر چا لیدو ستاسو د انتظار څخه به یې خبرولو.

مهرباني وکړئ کښینئ، د دې کلي خلکو چون تاسو په ښاري کالیو کې لیدلي یاستئ فکر یې کړی چې هغه تاسو یاستئ. اوس تاسو څه شي ته اشتها لرئ. چې یې راوړي.

له یو ې کاسي شړومبو د څښلو څخه وروسته مې هغه ته د هغوی کلي ته نږدې د خپل موټر د خرابیدلو کیسه وکړه او ورته ومې ویل چې هر چا چې به لیدلو ویلي به یې چې ښاغلی رشید تاسې ته سترګې په لاره دی.

ښاغلي رشید زموږ د خبرو له اوریدو وروسته مخ کلیوالو ته راواړاوه او وې ویل: دوی هغوی نه دي چې موږ ورته سترګې په لار یاستو، تاسو هغوی پروسږکال نه و لیدلي؟

څو کسو وویل:

- تاسو په سمه یاستی، زموږ هم خپلې تیروتنې ته پام شو.

زه چې په دې هکله ډیر کنجکاو شوی وم د ښاغلي رشید څخه مې تپوس وکړ:

- ممکنه ده وواياست چا ته منتظر یاستی؟

ښاغلی رشید پرته له دې چې زما د پوښتنې ځواب یې راکړي وې ویل:

- حتماً راځي، هر چیرې چې وي اوس پیدا کیږي، وروسته یې له جېب نه یو څپونی (دستمال) راوویسته او هغه یې پرانسته په هغې کې څلور دانې د سګرټو خالي ډبې وې چې په دغو ډبیو ګډوډ رسمونه او څه بې مفهومه جملې لیکل شوې وې. د ښاغلي رشید نه مې پوښتنه وکړه:

- ښاغلی رشید دا څه دي؟

- اسویلی یې وکړ او وې ویل:

- دا زموږ بې درمانه دردونه دي، په حیرانی مې وپوښتل:

- څه درد؟

- یو بې درمانه درد چې اوس موږ ته بیخې عادي شوی دی. خدای دې زموږ د مشرانو سیوری خصوصاً د انتخاباتو په وخت کې چې د کلیوالو د غوښتنو د اوریدو له پاره کلي په کلي ګرځي، زموږ له سر نه، نه کموي.

پروسږکال هم د هغوی څلور کسه زموږ کلي ته راغلل. ښه مې په یاد دي د هغوی موټر د همدې قهوه خانې مخې ته تم شو. یو د هغو څلورو کسانو څخه له

موټر نه راکوز شو، هغو خلکو ته چې د هغوی د موټر شاوخوا راغونډ شوي و، وویل:

- ښاغو هیوادوالو، تر اوسه چا ستاسو بې درمانه دردونو ته غوږ نه دی نیولی؛ او د هغې د رفع کولو هڅه یې نه ده کړې. د دیموکراسی ریښتني مانا د خلکو د اړتیاو پوره کول دي. موږ په همدې منظور ستاسو کلي ته راغلي یاستو. هره ستونزه او کړاو چې لرئ زموږ سره یې طرح کړئ؛ چې د هغې په لرې کولو کې ستاسې سره مرسته وکړو.

د کلي خلک د دې خبرې په اوریدلو ډله ډله د قهوه خانې په لور را روان شول. هغوی به خپل دردونه ویل او هغه څلورو کسانو به هم د سګرټو په ډبیو یو څه لیکل. یو د ملاریا په هکله شکایت وکړ، زر یې یو څه ولیکل او د هغې د مخنیوي له پاره یې امرونه صادر کړل. زموږ د کلي ښوونکي له دې کبله چې په یو سر پنځو ټولګیو ته درس ورکوي شکایت وکړ. د ښوونکي غوښتنه یې هم یاداشت کړه.

ستاسو سر به څه خوږوم، لنډه دا چې څه به خلکو غوښتل هغوی به کول او د هغوی د اجرا کولو ژمنې به یې کولې، ما چې په دې کارونو کې لږه تجربه لرله ښوونکي ته مې مخ راواړاوه او ومې ویل:

- دا سل په سلو کې دروغ وایي، د دې له پاره چې خر یې له پُل نه تیر شي د هرڅه ژمنه کوي، لنډه دا چې هیڅ کار دوی ته مشکل نه وي.

یوه غوښتنه زه هم وکړم؟ او بې له خندې مې وویل:

- زموږ وروستۍ غوښتنه دا ده چې زموږ د کلي او ښار تر منځ یوه د اورګاډي پټلۍ جوړه شي چې د تګ-راتګ په وخت کې ستونزه نه وي.

څلور واړو څه ولیکل او د جوړولو ژمنه یې وکړه، البته هر څه یې د سګرټو د خالي ډبیو له پاسه لیکل.

کله چې یې د وګړو سره د زړه خواله وکړه، نور نو خلک د قهوه خانې څخه لاړل دوه د هغوی نه خپل د سګرټو خالي ډبي وغورزول او ما سمدلاسه هغه راواخیستل.

د ماسپښين ډوډۍ خوړلو وروسته يو بل يې هم د سګرټو خالي ډبې وغورزاوه. هغه مې هم را واخيسته. څلورم نفر يې کلـه چـې مـوټر تـه وخـوت، د لاس ښوروئلو وروسته لا د قهوه خانې نه سل متره لرې شوی نه و، چې د سګرټو خالي ډبـې يې وغورځاوه. او دا څلور دانې د سګرټو ډبې چې ګورې دا همهغه دي.

کله چې مې د سګرټو يو ډبې راپورته کړ او هغې ته ځير شوم د هغې په مخ شپږ کرته د ښاغلی شکري نوم ليکل شوی و. څلور ستوري، دوه بيرۍ او هـم يـو څو درې ګوټي (مثلث) او څلور ګوټه (مربع) رسم شوی و.

- زما د ښځې د مقرريدو له پاره سپاربښت، د ښاغلی قـاضي د ښي چوکـۍ د نيولو له پاره ميلمستيا، ايټاليا ته د يو هيئت سره تګ لـه پـاره ميلمستيا، د ګوند د غړو د استعفا مخنيوی. وروسته د يوې لوړ نومې نځاکونکـې نـوم او ۸۰ دانې د غشې خوړلي زړه عکسونه رسم شوي و. د بل ډبې په سـر د څو ټليفونونو نومرې او د څو کلپونو نومونه ليدل کيدل. څلورم ډبـې مـې ونشـو لوستلای ځکه چې ټولو غږ کړ:
- را روان دي !
- را روان دي !

وروسته له څو شيبو يو وروستنی موډل موټر د قهوه خانې په څنګ کې ودريـده او درې کسه ترې راکوز شول. يو له هغـوی څخـه مـخ خلکـو تـه راواړوه او وې ويل:

- سلام ښاغلو هيوادوالو، دويم سړي وويل:
- سلام پر تاسو شريفو او غيرتي خلکو. دريمګړي وويل:
- سلام زما ګرانو.

کليوالو پرته له دې چې ځواب ورکړي، خنـدل. هغسـې خنـدا چـې څو شـيبې مخکې يې زموږ پورې کوله. خو هغوی ځان ونه بايلود. دوه يې په څوکيو او يـو يې د ښاغلی رشيد په څنګ کې کښيناسته او په خبرو يې پيل وکړ. يو د هغـوی چې غټه خيټه يې درلوده وويل:

- ښه، ښاغلو - د پروسـږکال راهيسـې څنـګه ياسـتئ؟ ښاغلـی رشيد د ټولـو کليوالو په مينځګړتوب ځواب ورکړ:

- مننه کوو، ښه یاستو، تاسو څنګه یاستئ؟
- موږ هم ښه یاستو. د دې نه چې ستاسې څېرې خوښې ښکاري، زموږ خوښي څو چنده زیاته شوه. خدای(ج) مو خوښ لره. یو د هغو درې کسو، نه چې د نورو څخه بوډا ږ ځلکو ته مخ کړ او وې ویل:
- ښاغلو، زما ګرانو! ډیموکراسي یعنې د خلکو ستونزو او غوښتنو ته رسېدل. موږ دلته راغلو چې ستاسې ستونزې حل کړو. پرته له دې نه چې ناراحته شئ او خجالت وباسئ، خپلې غوښتنې موږ ته ووایاست. زموږ دنده ستاسو غوښتنو ته رسیدل دي. په همدې وخت کې یې له جب نه د سګرټو ډبې راوویسته او هغه غوښتل چې څه پرې ولیکي.

خو چا څه ونه ویل، قهوه خانه عجیبې چوپتیا نیولې وه. له هغې وروسته پس، پس، پیل شو. یو کلیوال وویل:
- ملاریا خلک ډېر په تنګ کړیدي، امر وکړئ چې په ډنډونو کې د ملاریا ضد درمل وشیندي. دري واړو د سګرټو په ډبو یادداشت ولیکه. د ښاغلي رشید د یوه یاد داشت ته پام شو او وې ویل:
- ښاغلی لکه چې اشتباه مو کړي وي !

هغه سړي چې د سګرټو په سوربخن ډبي څه لیکل، د ښاغلي رشید دې خبرې ډېر حیران کړ، ځکه هغه پوهیده چې دې نا لوستی (بیسواده) دی. په پخوانې لیکونو یې کرښه راکښله او نور څه یې ولیکل، ښاغلی رشید ورباندې بیا اعتراض وکړ، خو کله چې ښاغلی استازی لږ عصبي شو، ښاغلي رشید څپونې پرانسته د سګرټو سوربخن ډبی یې رابهر کړ او ویې ویل:
- بخښنه غواړم ښاغلی، خو فکر کوم پروسږکال مو د دې غوښتنې په مقابل کښې داسې شکل رسم کړی و.

د ښاغلي رشید د خبرو سره سم ټول په خندا شول، ان پخپله هغوی هم وخندل. یو کلیوال وویل:
- موږ ښوونکی غواړو. د یوه پنځه ټولګیز ښوونځي له پاره یو ښوونکی کفایت نه کوي. د شین بخن سګرټ خاوند وویل:

- تاسې سمه خبره وکړه. یو ښوونکی نشي کولای چې پنځه ټولګیو ته درس ورکړي اوس به یې یاد داشت.کړم.

ښاغلی رشید وویل:

- ښاغلی داسې ښکاري چې اشتباه مو وکړه، په داسی حال کې چې هغه ته یې پروسږکلن شین بخن د سګرټو ډبی ښکاره کړ او وې ویل:
- ګونډې تاسې پروسږکال د دې غوښتنې په مقابل کې شپږ کرته د ښاغلي شکري نوم لیکلی و. هغه درې کسانو د سګرټو ډبي په جبونو کې کیښودل.

ښاغلی رشید زیاته کړه: که اشتباه مې نه وي کړې د غشي خوړلي زړه عکس لکه چې زموږ کلي ته د اور ګاډي د پټلی پورې اړه لري؟

په دې وخت کې ښاغلي رشید څلورم ډبی راښکاره کړ او وې ویل:

دا د سګرټو ډبی هم ستاسو د انډیوال دی خو له بده مرغه هغه لکه چې نه دی راغلی.

یو له هغوی څخه په نارامی پوښتنه وکړه دا څه دی؟

- هیڅ، دردونه، هغه هم بې درمانه دردونه، خو نه پوهیږم چې دا ستاسي مال دی که زموږ؟

درې واړه د خپل ځای څخه راجګ شول چې ولاړشي، چې ښاغلي رشید وویل:

د سپارښتنې کارډ مو له یاده ونه وځي، که امکان ولري لطفا ووایې چې د بیړی عکس مو زموږ د کوم ټولنیز درد پورې اړه درلوده؟

زه د ښاغلي رشید څنګ ته ولاړم کله چې هغه درې کسانو غوښتل چې په موټر کې سپاره شي یو د هغوی څخه وویل:

- باید چې سګرټ پریږدو. دویم یې وویل:
- سمه ده باید پرې یې ږدو، نور دا چل نه چلیږي، دریمګړي وویل:
- خلک نور موږ پیژني.

کله چې موټر حرکت وکړ - د کلي خلک د خندا د زوره لکه د پی رودونکو ماشومانو غونډې په ځمکه رغړیدل.

# ماشومان مه ژړوئ

ايا کله مو هغو خلکو ته چې په کوڅو او بازارو کې ښکته پورته کيږي په غور سره کتلي دي؟ زموږ ډېر ښاريان غم ځپلي بڼې لري، او داسي خلک هم شته چې بڼې يې خوشاله او د خندا غږ يې څو متره لرې هم اوريدل کيږي.

موږ معمولي سړي نه لرو، يا ښه ژاړو او يا ښه خاندو خو هغوی چې ژاړي ګڼه يې له هغوی نه چې خاندي ډېره زياته ده د دې دليل همدا دی چې زموږ ژوند د غم او کړاونه ډک دی.

زموږ خلک د دې له پاره چې وکولای شي ښه وژاړي او اوښکې توی کړي هر چيرته چې کوم دردونکی او غم لړلی فلم (هندي فلم) او يا کوم کتاب چې د غم لړلو قصونه ډک وي پيدا کړي نو سمدلاسه ځان ور رسوي او يا د فاتحې مجلس وي نو هلته ځي او تر څو چې کولای شي ژاړي او په حقيقت کې د خپل ځان په حال ژړا کوي.

زما په نظر د ژړلو مسله زموږ په ټولنه کې ډېر لرغونتوب لري او دا د ټولنيزو مسايلو پورې اړيکې پيدا کوي چې همداسې په کرار کرار زموږ د ملت عادت شوی دی.

زموږ ښوونځی د خپل وخت له ډېرو ښو ښوونځيو څخه و او د ډېرو زړه غوښتل چې زموږ په ښوونځي کې درس ولولي، زه له هغه ښوونځي نه تښتيدلی وم، هغه وخت مې نه شو کولای، چې له ښوونځي نه د خپلې تېښتې دليل ووايم، خو اوس چې له هغې نېټې نه ډېر کلونه تير شوي دي؛ د ښوونځي نه د تېښتې ريښتينی دليل وايم.
"زه د ژړلو او اوښکو تويولو له کبله له ښوونځي نه تښتيدلی وم."

خامخا به حيران شوي ياست، چې ژړل له تېښتې سره څه اړيکې لري، نو غوږ ونيسئ، چې خپله قيصه درته له سر نه وکړم:

کله چې موږ د ښوونځي زده کوونکي وو، څو مضامين مو درلودل، چې د اخلاقو، شرافت ، نظم او دسپلين څخه به يې موږ ته درس راکاوه. "شکري بيک" زموږ ښوونکی و، کله چې به يې په ټولګي کې خبرې کولې، ټول به غلي وو، او خبرو ته به مو غږ اينښی وو. هغه دومره ښايسته خبرې کولې، چې زده کوونکو به حتی سا هم نه ويستله. ټول ټولګی به دومره غلی وو، چې د مچ د وزر غږ به اوريدل کيده.

هغه وخت يې ښه ښوونکی هغه چا ته وایه، چې د پخوانیو بدبختیو په اورولو به یې زده کوونکي مجبورول، چې له رواني وضعې نه راضي وي، او شکر پرې وباسي او د هغه پخوانیو بدو ورځو په خاطر ځو څاڅکي اوښکې توی کړي.
د لوست موضوع چې به هر څه وه، فرق يې نه کاوه، ښه ښوونکی، هغه وُ، چې وکولای شي زده کونکي په پخوانیو غمونو کې ګډ کړي، او د ښوونکي سره زده کوونکي هم آه او زړیروي وکړي. لنډه دا چې هر ښوونکي تر څو کولی شول، موږ يې ژړولو ته مجبورولو.
د ادبیاتو ښوونکي به د ګونګي غوندې غم لړلي شعرونه ویل، او کله چې به يې ژړل د "تاجیک کمال" شعرونه به يې غم لړلي غږ موږ ته لوستل، زده کوونکو به په لوړ غږ ژړل. د ورزش او سپورت په لوست کې به هم ښوونکي زموږ د ژړلو له پاره څه پیدا کول. مثلا زموږ د سپورت ښوونکی یو چاغ او څرب سړی و کله چې به مو سپورتي تمرینونه ښه نه شو کولای موږ به يې وهلو او موږ به ژړل.
بالاخره داسې وخت راغی چې د څښلو اوبو نه به مو ډېرې اوښکې تویولې له دې سره سره ټولو به د "شکري بیګ" ساعت ته شیبه شماري کوله.
"شکري بیګ" د پېښلیک "تاریخ" او جغرافیې ښوونکی و کله چې به يې زموږ د نیکونو او پلرونو د زړورتوب او میړانې کیسې کولې موږ به های های ژړل، خصوصاً کله چې به يې په تیرو وختونو کې زموږ د هیواد د پراخوالی او هغه بلاګانې چې زموږ په هیواد راغلې وې د هغې خبرې کولې او ویل به يې چې یو وخت موږ ښکلی هیواد درلود، هر چا به په نړی کې موږ ته د قدر او عزت په سترګه کتل، ګاونډیان به له موږ څخه ډاریدل، او بیا به يې قصه کوله چې څنګه موږ د ګاندیانو په وسیله خوار او سپک شولو چې نه مو اوس په خپل هیواد کې ځای شته او نه په بل هیواد کې او څنګه زموږ جنت نښان هیواد په کنډواله بدل شو، د ټولو به د ډیرې ژړا نه ستوني ناست و.
شکري بیګ یو ډدای سړی و د ښکاره وضعې نه يې دا موضوع ښه څرګندیده لوکس او ښایسته کالي يې اغوستل، پیسو ته يې هم اړه نه درلوده. خو یوازې له دې کبله چې یو وخت يې زموږ په ښوونځي کې درس لوستی و نو له همدې کبله يې غوښتل چې یو څو شیبې دې په دې ښوونځي کې درس ورکړي او موږ د خپلې پوهې څخه

خړوبه کړي کله چې به يې د هيواد په هکله خبرې کولې موږ به ژړل، کله چې به يې د هيواد نوم واخيست زموږ د ژړا غږ به پورته کيده او بالاخره کله چې به يې د لوست په وروستيو شيبو کښې زموږ د پلرونو د قربانيو خبرې کولې زموږ چغو به ټولګی ډک کړی و.

يوه ورځ شکري بيګ ټولګي ته راننوت د پخوا په څير يې کالی منظم نه و بڼه يې بل ډول ښکاريده د نيکټائي غوټه يې بيرته شوې وه د کميس تنۍ يې پرانستې وي د مخ رنګ يې تښتيدلی و بالکل د پـږی (مجسمې) پـه څېر ښکـاريده پـه ډيـرې ګډې وډې وضعی سره ښوونځي ته راننوت په ښوونځي کې يې غټ غټ ګامونه اخستل، د يو او بل مخ ته يې کتل، خو څوک پـه موضـوع نـه پوهيـدل، بـالاخره د وره تـر څنـګه ودريده، دومره نارامه ښکاريده چې ما په ژړا پيل وکړ، نور هلکان هم ژړغونـي شـوي و. تر دغې ورځې پورې شکرې بيګ به د هيواد په هکله خبرې کـولي او مـوږ بـه ژړل خو نن پرته د هغه د خبرو موږ په ژړا پيـل کـړی و، پخپلـه شـکري بيـګ هـم ژړل او بالاخره يې په لړزيدلي غږ خبرې پيل کړې خبرې يې هم پريکړې،پريکړی وي وويل:
هلکانو زلزلی "تـرګان" د خـاورو سره يـو شـان کـړی دی، تـرګان وران شـوی دی...
بالاخره موضوع روښانه شوه او د هلکانو چغې جګې شوې، ټولو ژړل. شکري بيګ پـه لاس اشاره وکړه او ټول هلکان غلي شوو هغه وويل:

دا زموږ ولسي دنده ده چې د خپلو هيوادوالو سره مرسـته وکـړو، هـر څوک چـې هـر څومره کولای شي پيسې او کالي دي راوړي. موږ داسي ژړل چې حاضر وو خپل ژوند او ځان ورله ورکړو. ښاغلي ښوونکي د هر زده کوونکي نـه بيلـه، بيلـه پوښتنـه کولـه څومره وليکم، او په خپله کتابچه کې به يې ليکل.

ګرانه لوستونکيه ته پخپله فکر وکړه، موږ لس کلنـو، يولـس کلنـو هلکـانو چـې هـره اوونۍ به مو په ډېر جنجـال او کـړاو د پـلار او مـور نـه شـل، پنـځه ويشـت قروشـه اخستل موږه يې مجبورولو چې اعانه ورکړو.

خو شکري بيګ په دومره درد او غم سره د مړو وضعه هلکانو ته څرګندوله چې تيـره يې ويلي کوله. بلاخره هر يو کس بـايد يـو څه روپـۍ راوړي واي. او زده کوونکـو بـه چيغې وهلې يوه ليره (ليره د ترکی روپۍ ته وايي) او بل به غږ کړ يوه نيمه ليره، چا به غږ کړ دوه ليرې.

زما له کوچنیوالی نه زړه نری و، تل د دې نه په عذاب شوی هم یم، کله چې "شکري بیګ" وویل تاسو دلته سوکاله په تودو ځایونو کې یاستی خو په "ترګان" کښې ستاسي خویندې او وروڼه د دیوالونو لاندې پراته دي نو ومې نه کړای شول چې خپله ژبه ټینګه کړم نو د لیونیانو غوندې مې غږ کړ: دوه نیمې لیري !

"شکري بیګ" د سر په ښورولو مننه وکړه او زما د نوم په مخکې یې ولیکل یولس کلن دوه نیمې لیرې. هغه وخت یعنې څلویښت کاله مخکې دوه نیمي لیرې د نن د شلو لیرو سره برابرې وې. زه چې ډېر احساساتی شوی وم، نه پوهیدلم چې څه وکړم، شکري بیګ بیا په خبرو پیل وکړ:

ماشومان یتیمان شوي دي میندو بورې شوی دي، ما په لړزیدلي غږ وویل:

- دري لیري ! شکري بیګ ادامه ورکړه – زموږ هیوادوال زموږ مرستې ته اړه لري. ما چغه کړه پنځه لیرې – زموږ وروڼه بې کوره شوي دي.

- ښاغلی شپږ لیرې.

د ژړا غږونو ټولګی ډک کړی و . کله چې مې د هم ټولګیو په اوښکو لمدو سترګو ته وکتل، ځان مې ټینګ نه کړای شو او چغه مې کړه : ښاغلی اووه لیرې! او کله چې د ښوونځي زنګ کړنګیده ما خبره لسو لیرو ته رسولی وه، که چیرې یې زنګ نه وای وهلی ښایي ما کیسه سل څه چې ښایي زرو لیرو ته رسولي وای.

دومره مې ژړلي و چې سترګې مې بیخي سرې او سترغلي مې پړسیدلي وو، کله چې کورته راغلم او مور ته مې وویل چې لس لیرې باید د زلزله ځپلو سره مرسته وکړم، داسي یوه څپیړه یې راکړه چې په ځای یې ګرد وګرځولم. له هغې ورځې په سبا ښوونځی ته لاړ نه شوم، که څه هم ښه زده کوونکی وم، خو ومې نه کړای شول چې ښوونځي ته لاړ شم او په کوڅو کې به ګرځیدم.

نو اوس تاسې ته وایم چې ښه به وي چې ماشومانو د ژړولو په ځای وخندوو؟!!!

# مخکې لاړ شو......لوړ شو....... پرمختګ وکړو

د هر مطلب له پاره باید یوه مناسبه پیلیزه "مقدمه" ولیکل شي، له دې کبله چې دا یوه کیسه ده "په ؤ نه ؤ" باندې به یې پیل کړم. که دا کیسه نه وي او وینا وي په ګرانو هیوادوالو مې پیل کوله.

هو ! و نه و، پرته له خدای(ج) څخه هیڅوک نه و، په ډېرو پخوانو زمانو کې د دې سترې نړۍ په یو هیواد کې ځینو خلکو ژوند کاوه چې ژوند یې دومره د صفت وړ نه و یعنې په ډیرو ستونزو یې خپله ګیډه مړوله، نور احتیاجونه خو یې لا پریږده.

یو وخت د دې هیواد د خلکو څخه درې کسه، د نورو هیوادونو د وضعې او حال معلومولو له پاره، بهر ته سفر وکړ. په نورو هیوادو کې د ګرځیدو راګرځیدو وروسته له څه مودې خپل هیواد ته راستنیږي، یوه ورځ د خپل هیواد وګړي راغونډوي، او یو د هغوی څخه وایې:

ملګرو ما په دې سفر کې چې بهر ته تللی وم، ډېر نوي شیان زده کړل.

پوښتنه کیږي څه شي دې زده کړل؟

- مخکې لاړ شو.

د دغې هیواد خلک د هغه خبره مني.

- ښه فکر دی، موږ ستا د خبرې ملاتړ کوو. باید مخکې لاړ شو.

دویم مسافر وایې: ما هم یو څه زده کړي دي.

له هغه نه هم پوښتنه کیږي: تا څه زده کړي دي؟

- لوړ شو.

د دغې هیواد وګړي سمدلاسه د هغه خبره مني.

- دا هم ښه فکر دی، باید لوړ شو.

د دریمګړي مسافر څخه پوښتنه کیږي: ایا تا څه زده نه کړل؟

ځواب ورکوي: پرمختګ وکړو.

د هغه خبره هم منل کیږي، ډېر ښه فکر دی، باید پرمختګ وکړو.

د دغې ورځې نه وروسته دا درې جملې د دغه هیواد د وګړو شعار کیږي:

" مخکې لاړ شو......لوړشو.......پرمختګ وکړو"

کله چې به خلکو یو بل لیدل د سلام او پوښتنې پر ځای به یې یو بل ته ویل:

مخکې لاړ شو. بل به په ځواب ورکاوه - هوکې باید لوړ شو.

ان د بدرګې او خدای په امانۍ په وخت کې کله چې به بندر ته راغلل یو به غږ کړ: پرمختګ وکړو. دوستانو به یې د بیړۍ د منځ څخه ځواب ورکړ: هوکې باید پرمختګ وکړو.

ډېره موده وروسته بهر لیدلي روڼ اندي "روشنفکران" ګوري سره له دې چې هیوادوال یې د مخکې تګ، لوړوالی او پرمختګ سره ډېره مینه ښکاره کوي خو دا تکی څه ګټه نه لري او تر اوسه یې لا د پرمختګ له پاره کومه لاره نه ده پیدا کړې.

د دې له پاره چې د مخکې تګ، لوړوالي او پرمختګ رېښتني لاره پیدا کړي روڼ اندي بیا هوډ کوي چې بیا بهر ته لاړ شي، له څه مودې ګرځېدو راګرځېدو وروسته بیرته خپل هیواد ته راستنیږي.

یو له هغوی څخه وایې: ګرانو هیوادوالو، بالاخره ما یې لاره پیدا کړه، مخکې لاړ شو سمه نه ده. باید وواېو چې " څنګه مخکې لاړ شو" دویم روڼ اندی وایې: ما هم تازه مطلب زده کړ "لوړشو" مانا لرونکې جمله نه ده باید پوه شو چې " څنګه باید لوړ شو"

دریېمګړی روڼ اندی وایې: زه په ډیرو ځایونو کې وګرځیدلم، او نوي شیان مې زده کړل: یوازې " پرمختګ وکړو" ګټه نه لري باید وواېو "څرنګه پرمختګ وکړو" له هغې ورځې وروسته د دغه هیواد شعار بدلیږي، مثلا کله چې قهوه خانې ته ننوزي وایې:

- هلکانو باید مخکې لاړ شو.

خلک پوښتنه کوي.

- څرنګه باید مخکې لاړ شو؟

مړونه چې به ګهیځ خپلو دندو ته تلل، خپلو ښځو ته به یې ویل:

- باید لوړ شو.

ښځو به ځواب ورکاوه :

- څرنګه باید لوړ شو.

بچو به د ویده کیدو په وخت کې د شپه په خیر په ځای میندو ته ویل:

- مورې باید پرمختګ وکړو.

میندو به یې په خندا ورته ځواب ورکاوه: هو، زویه، خو دا مهمه ده چې باید پوه شو چې څرنګه پر مختګ وکړو.

څو کلونه په دې هیواد کې دا جملې تکراریدې، خو سره د هغې هم نه پوهیدل چې څرنګه مخکې لاړ شي، څرنګه لوړ شي او څنګه پرمختګ وکړي. نو له همدې کبله روڼ اندو وپیتله چې یو وار بیا بهر ته لاړ شي. لاړل او وګرځیدل بلاخره خپل هیواد ته راستانه شول.

یو روڼ اندي وویل: ما د دې کارونو سر پیدا کړ په " څنګه باید مخکې لاړ شو" کار نه سمیږي خلکو د هغه خبره ومنله، سمه ده چې د څنګه باید مخکې لاړ شو په پوښتلو څه کار نه کیږي باید پوه شو چې څنګه کولای شو چې مخکې لاړ شو.

دریم روڼ اندي وویل: ما هم ډېر په زړه پورې څه زده کړل، د څنګه باید لوړ شو په پوښتلو څه نه کیږي، باید پوه شو چې څنګه باید لوړ شو.
خلکو د هغه خبره هم ومنله، باید د لوړ تللو لاره پیدا کړو.
ډریمګړي روڼ اندي وویل: دوستانو! ما هم نوي څه زده کړل د "څنګه پرمختګ وکړو" د پوښتنو ځخه څه نه جوړیږي باید د پرمختګ لاره پیدا کړو.
ټولو په یو غږ ځواب ورکړ: دا ملګري رښتیا وایې د څنګه پر مختګ وکړو د پوښتلو ځخه څه نه جوړیږي باید د پرمختګ لاره ولټو.
بیا هم د دغه هیواد شعار بدلون وموند. د دغې ورځې نه وروسته، هر څوک چې به د خپل دوست سره مخامخ کیدل د پوښتنی په ځای به یې ویل باید مخکې لاړ شو څه ګټه نه لري باید د مخکې تګ لاره پیدا کړو.
ګاونډیانو به د کړکیو ځخه سر راوویسته او خبرې به یې سره کولې.
- خورې لوړ شو.
- هو، خورې باید لوړ شو.
- دا خبرې څه درد نه دوا کوي باید پوه شو چې څنګه لوړ شو.
ښوونکو به په ټولګي کې زده کوونکو ته ویل: هلکانو پر مختګ وکړو.
زده کوونکي: هو، ښاغلی باید پرمختګ وکړو.
ښوونکي: یوازې په شعار نه شي کیدای چې پر مختګ وکړو باید د پرمختګ لاره وپیژنو.
هره ورځ به دا جملې تکراریدې، خو نه لوړتیا وه او نه پرمختګ.
روڼ اندو بیا هوډ وکړ..........
رښتیا ، دا کیسه به تر څو پورې دوام کوي؟ په دي شکل کیسه پای ته نه رسیږي ځکه چې روڼ اندي به څو کرته بهر لاړشي او څومره نوي شیان به زده کړي، او هغه به د خپل هیواد خلکو ته وروښیوي، او هغوی به هغه خبرې څو څو کرته تکرار کړي. خو ایا دا به کومه نتیجه ولري؟
که په شعار کیدای شي چې" مخکې لاړشو ، او پرمختګ وکړو" نو زه هم کومه خبره نه لرم.

# یو بهرنی په استانبول کې

زه د استانبول اوسیدونکی یم. له نیکه-نیکه نه استانبولی یم. کله چې له استانبول نه لرې شم، فکر کوم چې ساه مې بندیږي، سا نه شم ویستلی. ان کله چې په نیویارک، پاریس، روم او پراګ کې وم دا ستونزه را ته پیدا کیده. سره له دې چې پورتنې ښارونه ډېر ښایسته او په زړه پورې دي، خو د استانبول ښکلا څه بل شان ده. زه له استانبول سره عجیبه مینه لرم، له همدې کبله زه تر نورو دوستانو، چې بهر یا له استانبول نه لرې یې کار کړی دی او لوړو مقامونو ته رسیدلي دي، ورسته پاتې شوی یم.

اوس چې مې تقاعد ته پنځه کاله پاتې دي، دا را ته ښه نه ښکاري، چې له استانبول نه لرې لاړ شم. میرمن مې هم زما غوندې استانبولی ده، کنه نو هیڅکله به مې ورسره واده نه وی کړی.

زه په خپل استانبولیتوب ویاړم، ځکه چې خپله په استانبول کې د هغې اصلي اوسیدونکي نه دي پاتې، او په استانبول کې اوس هغه خلک اوسیږي، چې له نورو ښارونو او یا هم شاوخوا سیمو نه راغلي دي.

دوه درې میاشتې مخکې زما یو ډېر نږدې دوست له لندن نه ما ته یو لیک راواستاوه، چې په هغې کې یې را نه پوښتنه کړې وه، چې د هغه د یوه خوږ دوست او د هغې د میرمنې لارښوونه وکړم، کوم چې په دې نږدې کې غواړي چې استانبول ته راشي.

ما د (نه) خواب نه شو ورکولی، نو سملاسي مې لیک ولیکه، او ډاډ مې ورکړ. او همدا راز مې په لیک کې زیاته کړه: که د هغوی مسافرت په دوبې کې وشي، ډېر به ښه وي، ځکه چې وخت به یې تر ژمي ښه تیر شي.

د لیک تر لیکلو وروسته مې له دفتر نه خپله پنځلس ورځنی رخصتي، چې تقریباً درې څلور کاله مې نه و اخیستې، واخیسته. او ځان مې د درنو میلمنو هرکلي ته چمتو کړ. څو ورځې وروسته مې له خپلې میرمنې سره د ښار په هوايي ډګر کې د هغوی هر کلی وکړ، او هغوی مې هغه هوټل ته چې مخکې مې ورته یوه کوټه نیولې وه ورسول.

د هغوی لا په هوټل کې د اوسیدو دوه ګینټې نه وې تیرې شوې، چې زه وریسې ورغلم، او د ماښام د ډوډی له پاره مې کورته راوبلل.

میرمنې مې ډیره ښه او خوندوره ډوډی پخه کړې وه او د احتیاط له پاره یې څو ډوله اروپایي خواړه هم چمتو کړي و.

د انګلیسي میرمنې وطني خواړه ډېر خوښ شو. او پوښتنه یې وکړه:

- د پیرکو د پخولو چل راښودلای شی؟

- پيرکي؟ دې ميرمنې د دې خوړو نوم د کوم ځای نه زده کړي؟ په داسي حـال کـې چـې زما انډيوال ليکلي و، چې دوی د لومړي ځل له پاره استانبول ته درځي نو پوښتنه مـې ترې وکړه:

- وبخښي ميرمنې، ايا تاسو مخکې هم کله استانبول ته راغلي ياست؟

- نه دا مې لومړی ځل دی، چې دا ښايسته ښار ګورم.

- نو زموږ د دې وطني خوړو نوم مو څنګه زده کـړی دی؟ تـر اوسـه مـو دا خـواړه خـوړلي دي؟

- نه، تر اوسه مې دا خواړه نه دي خوړلي، منتها ستاسي هيواد ته د راتګ څخـه مخکـې مې ستاسي د ښارونو، د دود او دستور په هکله ډېر کتابونه لوستی وو ان د ځينو خـوړو نومونه مې هم زده دي او د ځينو د پخولو چل هم راځي.

وروسته انګليسی ميرمنې د پيرکو د پخلي ښودل پيل کړل، او پـه دومـره دقـت يـې د هغـې د پخولو طريقه بيان کړه چې زه پوه شوم، هغه خواړه چې په کلونو يې خورم ښه نـه پيژنـم. مـا دغه مطالب له انګليسی څخه په خپله ژبه خپلې ميرمنې ته ژباړل. انګليسی مـيرمنې پوښتنـه وکړه:

- ښه تاسي سره کړي بانجان څنګه پخوئ؟ پياز مخکې سره کوی که وروسته؟

ښځې مې په نارامۍ سره د هغی ځواب ورکړ. انګليسی ميرمنې بيا وويل:

- تاسي ډېر لرغونی هيواد لرئ، ستاسي امپراطورۍ پـه کلونـو د نـړۍ پـه ډېـرو هيوادونـو حکمراني کړيده، د ځينو خوړو د پخولو چل رابښودلای شئ، چې زه يـې درتـه نومونـه واخلم؟

- په ډيره مينه !

انګليسی ميرمنې ډول، ډول خواړه ياد کړل، چې تر دغه وخته پورې موږ ليدلي هم نـه وو، او که اشتباهاً مو د هغو د پخولو طريقې ورته له ځانه ويلي وای، ښايې هغـه يـې پـه سـودا کـې اچولي وای. خو هر څنګه چې وه د خوړلو موضوع مو يو پلو کړه، چې پت مـو پـه ځای پـاتي شي او موزيمونوته د تګ او ليدو خبرې مو پيل کړې.

ميرمنې وويل:

- ډېر مې زړه غواړي چې ستاسي بدنامه سيمه وګورم.

په سر ټيټی مې ورته وويل:

- موږ خو کومه بدنامه سيمه نه لرو.

ميره يې په ستغه لهجه وويل:

- لرئ يې........ما په کتاب کې لوستی دي، چې ستاسي د ښار بدنامه سيمه ډيره لويه هم ده. اوس مې غوښتل چې يوې ترکی قهوه خاني ته لاړ شو او هلته چلم وڅکم.
- چلم د ډيرې پخوانی زمانې خبره ده، فکر نه کوم چې داسې قهوه خانه دې اوس پيدا شي چې چلم پکې وي.
- نه ګرانه تاسي ډېر بې خبره ياستی، ما په کتاب کې لوستي دي، چې دغه ډول قهوه خانې اوس هم شته. انګليسی ميرمنې زياته کړه:
- که ستاسي خوښه وي يوه شپه به په بغار کې تيره کړو او کبان به ښکار کړو.
- خو ما تراوسه لا کبان نه دي ښکار کړي.
- دا څنګه کيدای شي چې استانبولی به يې او کبان به دې نه وي ښکار کړي، اوس د يو ډول ښه کب د ښکار وخت دی، چې د "شوفر" په نومه يادېږي. څرنګه چې مونږ په کتابونو کې لوستي دي ستاسي د کبانو ښکاريان د شپې په بيړيو او د ځانګړو لاټينونو په رڼا ښکار کوي.

ما له ډيرې حيرانی، کتابونواو کتاب لوستونکو ته په زړه کې ښکنځلې کولې له ځانه سره مې ويل:

- نو بده خبره نه ده چې دولت غواړي چې وګړي ليک لوست زده کړي او اوس د لوستو ګڼه په سلو کې ديرشو ته رسيږي. زمونږ لوستي خو خپل ځای لري .دا انګليسی ښځه او ميره هم عجيب خلک دي، غواړي چې ما استانبولي ته استانبول راوپيژني

د ماښام تر ډوډۍ وروسته مې ښځې سره امريکائي قهوه راوړه، انګليسی ميرمنې پوښتنه وکړه:
- تاسې ترکی قهوه نه څښې؟
- ډېر وخت کيږي چې نه يې شو څښلای، ځکه چې زمونږ د ګاز نغری امريکائي دی، نيمه شپه وه چې هغوی مې هوټل ته ورسول. او ډېر زر ترې بېرته راستون شوم هر څنګه چې وه شپه مې تيره کړه.

سبا ګهيځ يې بيا پوښتنې ته ورغلم، انګليسی ښاغلي وويل:
- زما په نظر خو دا څه ښه هوټل نه دی، که خوښه دې وي، يو داسې هوټل ته به لاړ شو، چې هم ښه او هم ارزانه وي.
- ولې نه څرنګه چې ستاسي خوښه وي.

اِنګليسی ښاغلی د استانبول د هوټلونو او ميلمستونونو بشپړ لست له جبه راوويسته او بيا يې د هغې په لوستلو پيل وکړ، خو ما دا يو هم نه پيژانده. له هوټل نه راووتو او ټکسي ته منتظر ودريدو، خو د ټکسی درک نه و، انګليسی ښاغلي مخ راواړاوه او وې ويل:
- که لږ مخکې لاړ شو ښه به وي ځکه فکر کوم د ټکسي تمځی به لږ بر وي.

- فکر نه کوم.
- د څه شي فکر نه کوې؟
- د ټکسی تمځی چې تاسي يې يادوئ.
- حتماً همغلته دی.

زړه نا زړه د ټکسی د تمځی په لور روان شو، هر څومره چې مو ټکسیانو ته لاس وښوراوه، یو هم ونه درید. له یوه ټکسي نه مې چې زموږ په څنګ کې لږ ورو شوی و پوښتنه وکړه:

- ښاغلي تاسې څوک نه سپروئ؟

ډریوږ په ډیرې غوسې راته وویل:

- ړوند یې، نه ګورې چې هلته د ترافیکو پولیس ولاړ دی، که سپاره مـو کـړم ناغـه کـوي مې.

د انګلیسی ښاغلي چې زما وارخطایي ته پام شوی و وویل:

- ښاغلی دوسته مه خپه کیږه، موږ په کتابونو کې لوستي دي چې ستاسي په هیواد کې د ټکسیانو او بسونو تم ځایونه ډېر زر بدلیږي. مثلا که څو ورځي مخکې ته له یوه تمـځي نه په ټکسی کې سپور شوي یې، نو نن سل په سلو کې هغـه ځای د ټکسـي تمـځی نـه دی او هغه بدل شوي دی. دا ستاسـو د ټرافیکـو سیاسـت دی. هغـوی د تـم ځایونـو پـه بدلولو سره ټکسی چلوونکي ناغه کوي، چې له دې لارې کافي عاید ولري.

هیڅ د باور وړ نه وه، چې یو انګلیسی سړی دې دومره له دولتي او غیر دولتـي رازونـو څخـه خبر وي په داسې حال کې چې موږ خلک له هغې نه ښه خبر نـه یـو، لـږ پـه غوسـه مـې پـه خپله ژبه وویل:

خدای (ج) دې ستا دا لعنتي کتاب ورک کړي، چې موږ دې له پوښتنـو او تشـریحاتو خـلاص شو، انګلیسی سړي په تعجب وویل:

- ولې په غوسه شوی او ښکنځلې دې وکړې؟ په تعجب مې ترې پوښتنه وکړه:
- تاسی په ترکي پوهیږئ؟
- نه زه په ترکي نه پوهیږم، خو ستاسې ښکنځلې او بدې خبرې مې په کتاب کې لوسـتي دي او ښه ترې خبر یم، موږ چې کله یو هیواد ته ځو، څو میاشتې مخکې د هغه هیواد په هکله لوستنه کوو. په غوسې مې وویل:
- ښه ........خورئ!

د انګلیسی میرمنې فوراً زما خبرې ته پام شو او غوښتل یې چې زما نـه توضیـح وغـواړي چـې انګلیسی ښاغلي ته ضرورت پیدا شو او له ما نه یې د عامې ټټي پوښتنه وکړه. ومو ویل عامـه

ټټی؟ مور په ښار کې عامه ټټی نه لرو، خدای(ج) دې زموږ پلرونه او نیکونه وبخښي چې زموږ په فکر کې وو. هغوی جوماتونو ته څیرمه ټټی جوړې کړې دي.
انګلیسی سړي په تعجب پوښتنه وکړه:
- څنګه کیدای شي چې جوماتونه او ټټی دې یو ځای وي؟
- اوس خو همداسې ده او له هغې پرته عامه ټټی نه لرو، کـه ډېر پـه تکلیـف یـې، راځئ چې بیرته هوټل ته لاړ شو. انګلیسی سړی چې ډېر په تکلیـف و، خپلې ښځې تـه یـې مخ واړاوه او وې ویل:
- زما په نظر باید اوس په غور سره نقشه وګورئ، چې کوم لورې ته باید لاړ شو.
انګلیسی میرمنې د کڅوړې نه د استانبول د ټټیـو یـوه ګـټه نقشـه راوویسـته، پـه څمکـه یـې وغوړوله او وې ویل:
- د همدې واټ کیڼ لورې ته له دوه متری کوڅې نه پنځوس متره هغـې خواتـه عامـه ټټی ده. له خدای(ج) نه مې غوښتل چې هلته خو ټټی نه وي چې خجالته شي، خو له بده مرغه ټیک په هماغه ځای کې چـې د هغـه ښځې ښودلی و، عامـه ټټی وه او مـا هـم لـه وخت نه ګټه واخیسته او ځان مې دمه کړ!
بیا په یوه ټکسي کې سپاره شو، چې یو ارزانه هوټل پیدا کړو. په لاره کې رانـه سـړي پوښتنـه وکړه:
- دا راته ویلای شي چې د دې ښار اصلي اوسیدونکي چیرته تللي دي؟
- نه پوهیږم، یوازې دومره پوهیږم چې اوس نشته، ښایي د کار د پیدا کیدو له پاره نـورو ښارونو ته تللي وي.
- هوکې، موږ لوستي دي، چې د دې هیواد وګړي په فقر او غریبی اخته دي او ان د یوې مړۍ ډوډۍ د پیدا کیدو له پاره خپل ښار او ځای پریږدي.
ټکسي د هغه هوټل مخې ته چې هغه ورښودلای و، تم شو. دا په ریښتیا پاک او ارزانه هوټل و. د هغوی تر ځای په ځای کیدو وروسته مې ترې اجازه وغوښته، خو هغوی اسرار کـاوه، چـې د "بې اوغلو" سیمه ګورو. ما چې د هغوی ډېر اسرار ولید نو مجبور شوم، چې د هغـوی خـبره ومنم، بیا د "بې اوغلو" په لور وخوځیدو. هلته مې هغوی یو لوی رستوران ته بوتلل، چـې پـه کې ډوډۍ وخورو انګلیسی ښاغلي لکه دا رستوران چې یې مخکې لیدلی وي وویل:
- زه دغلته نه ځم، ځکه چې د خوړو مزه یې هم نشته او ګران هم دي. پـه قـار مـې تـرې پوښتنه وکړه: دا یې هم ستاسې په کتاب کې لیکلي دي؟
- نه زما یو دوست راته ویلي دي او ډېر تاکید یـې راېـاندې کـړی دی، چـې د ماسـپښین ډوډۍ ته د کب خرڅونکو د بازار اخر ته لاړ شو، هلته په یوه هټۍ کې چې سـره کـړي

کبان خرڅوي او ډېر ارزانه هم دي، کبان وخورو. په همغې پټې لاړو. د کبانو تر خوړلـو وروسته له دغې چټلې او غریبانه هټۍ نه راووتلو.

بیا ښځې او میره دواړو پښې په یوه موزه کې ننه ایستې او ویل یې، چې هغـوی داسـي یـوې قهوه خانې ته بوځم چې چلم وڅکي.

هر څومره چې مې فکر وکړ، چې داسي یوه قهوه خانـه بـه د ښار پـه کومـه څنـډه کـې وي، هیڅ مې مغزو کار ونه کړ. ځکه تر دغه وخته مې نه چلم څکلی وو او نه قهوه خانې تـه تللـي وم.

بیا ښاغلي او میرمنې له کڅوړې نه کتاب راوویسته او پـه لوسـتلو یـې پیـل وکـړ، لـږه شـیبه وروسته یې زه یوې قهوه خانې ته بوتلم او د درې چلمونــو فرمـایش یـې ورکـړ. د چلمونـو تـر چمتو کیدو وروسته هغوی پر چلم خوله کیښوده، ما هم غوښتل چې وروسته ترې پاتې نه شم، د چلم په پو کولو مې پیل وکړ، چې پام مې کاوه، د چلم په سـری کـې چـې څه سکروټی او اور و ، ټول د قهوه خانې منځ ته ولویده او له چلم نه اوبه راووتلې. د انګلیسـي مـیرمنې چـې پام شو، هغې بیا چلم ډک کړ او راته وې ویل:

- ځان ته یې راکاږه پو کوه یې مه.

له قهوه خانې نه راووتلو، دا وار د سر پټي بازار په لور روان شو، زه په دې بازار کې ښه بلد وم فکر مې کاوه چې هغوی ته به په دې بازار کې داسي ځایونه او داسي شـیان وښیـم، چـې په هیڅ کتاب کې یې نه وي لوستي.

بازار ته چې ننوتو انګریز رانه پوښتنې پیل کړې:

- د حکاکانو بازار چیرته دی؟
- د برستن ګنډونکو بازار کوم لوري دي؟
- د انتیک خرڅونکو بازار په کوم ځای کې دی؟
- د بنجاره ګانو بازار کوم یو دی؟

ما د ځواب له پاره څه نه لرل، ځکه چې ما دا دغه یو بازار هم نه و لیدلی.

د انګلیسي میرمنې چې زما اوترې ته پام شو، وې ویل:

- وارخطا کیږئ مه، له موږ نه څو ګامه وړاندې د نانځکو د خرڅولو هـټۍ ده وایـي چـې دلته ډیرې ګرانې او ښکلې نانځکې خرڅیږي، راځئ چې له هر څه مخکې دغـې هـټۍ ته لاړ شو. د نانځکو هټۍ ته ورننوتو او څو نانځکې مو واخیسـتې. پـه لار کـې انګریـز راته د بازار په هکله څرګندونې پیل کړې، چې دا سر پټی بازار کله جوړ شوی، او چـا جوړ کړی دی. هغه ان د څو کاله مخکې ورانې ته هـم اشـاره وکـړه، چـې دا بـازار څو کاله مخکې لږ وران شوی و.

د هغوی په لاربنوونه ما د حکاکانو ،برستن گنډونکو، انتیک خرڅونکو او بنجاري بازار چې تر دغه وخته مې نه وو لیدلي ولیدل.
د دغې ورځې په مازدیگر چې له ډیرې ستړیا نه مې په پښو کې ساه نه وه، هغوی مې هوټل ته ورسول او خپل کورته راستون شوم.
گهیځ چې د هغوی هوټل ته راستون شوم راڅخه یې وغوښتل چې کوم تودوبي (حمام) ته یې بوځم. د ښار یو لوکس تودوبي ته مې بوتلل او منتظر وم چې بیرته راووځي ځو دقیقې وروسته هغوی وارخطا راوتل او په اعتراضي بڼه یې وویل:
- موږ له تا څخه وغوښتل چې د ترکانو یو زاړه تودوبي ته مو بوځې نه داسې عصري تودوبي ته چې هر څه یې بهرني وي. بیا یې میرمنې د تودوبو یوه بشپړه نقشه راوویسته او وې ویل:
- تر ټولو غوره تودوبی په همدې سیمه کې دی، خو د ورځې د ښځو او د شپې پکې د سړیو وار وي. اوس ما تر هغه ځایه ورسوئ او تاسې راته منتظر اوسئ بیا مو میرمن تودوبي ته ورسوله، سړي راڅخه وغوښتل چې یوې قهوه خانې ته لاړ شو او د سطرنج لوبه وکړو. ومې ویل:
- زما سطرنج نه دی زده.
- زه به یې درته زده کړم.
په ډېر مشکل سره مې وکړای شول، چې له سطرنج نه یې منصرف کړم مخصوصاً کله چې یې ښځه زموږ سره یو ځای شوه، خبره یې بیخي له یاده ووتله انگریز بیا وړاندیز وکړ، چې اوس زه او ته یوې داسې عام تودوبي ته ځو چې د ورځې پکې د سړیو او د شپې د ښځو وار وي، د هغه په غوښتنه مې لومړی ځل عام تودوبی ولیده، ځکه چې تر دغې ورځې پورې ما د کور له چاڼ چوبی پرته کومه بله چاڼ چوبی نه وه لیدلې.
دغه ورځ همدغسې تیره شوه. د شپې د هغوی په لار ښوونه په یوه بیړۍ کې سپاره شو او د "شوفر" نومې کب په ښکار مو پیل وکړ.
د هغوی په لاربنوونه مې په پنځلس ورځو کې ، کتابتونونه، موزیمونه، جوماتونه او نور لوړنومي (مشهور) ځایونه چې تر دغه وخته مې یې نوم نه و اوریدلی ولیدل. خصوصا د کانتې (جارو) جوړولو او حلوا جوړولو فابریکې چې راته بیخي نوې وې.
هغه ورځ چې هغوی له استانبول څخه تلل، راته یې وویل:
- تاسې استانبولی نه یاست او اوس دې غټ ښار ته راغلي یې؟
په شرمنده گۍ مې ځواب ورکړ:
- هوکی په دې ښار کې مې ډېر وخت نه دی تیر کړی.

- مثلاً څو موده کیږي چې دې ښار ته راغلی یې؟
- پنځه لس کاله مخکې!
- ښه، په دې وخت کې دې په استانبول کې څه کول؟
- زه د دولت مامور یم، او له ګهیځ نه تر ماښام پورې په دفتر کې کار کوم.

انګلیسی میرمنې ووېل:

- تاسي یو ریښتینی استانبولی یاست، ځکه چې په کتابتون کې د یو استانبولی تعریف همدغسې چې تاسې ووېل شوی دی.

انګلیسي سړي ووېل:

- ډېر خواشینی یم، چې ژمی دی او و مو نه کړای شول چې د استانبول د لیدلو وړ ځایونه وګورو.

څو ورځي وروسته مې هغوی د الوتکې تر زینې پورې بدرګه کړل، او یوه اوونی وروسته مې هغوی ته له دې کبله چې زه یې د استانبول له لیدلو وړ ځایونو سره اشنا کړی وم، یو مننلیک ولیږه.

هغوی د لیک په ځواب کې له ما سره ژمنه وکړه چې په راتلونکي دوبي کې بیا استانبول ته راځي او ما ته به نور ډېر زیات د لیدلو وړ ځایونه راوښیي، چې زه تري تر اوسه بیخي بې‌خبره یم!!!

دا کتاب ( خرمړی ) د آریان پښتو کتابتون لخوا ټولو مسلمانانو وروڼو او خویندو ته دي ډالۍ وي ...!
او ما آریان په خپلو نیکو دعاګانو کې یاد ساتئ ...!

# د بري لارې چارې

دروره زه نور په دې خبرومبرو نه پوهیږم...خلک وايي په هڅه او کوښښ پیسې لاس ته راوړئ.

څوک وايي چې په هڅه او کوښښ پيسې لاس ته نه راځي؟

وروره دا ډول خبرې، پخوانۍ او هسې خرافات دي. بری یوازې په کار کې دی او بس. غواړم چې د یوې فعالې کورنۍ د ژوندانه په شرحې سره د خپلې خبرې سموالی تا ته دروښایم.

د "بادیتو" کورنۍ د خلق الله له پاره د ښه ژوند کولو ډېره ښه بیلګه ده. البته زه له دې کبله چې د بادیتو د کورنۍ سره ډېر نږدې اړیکي او دوستي لرم بریالی شوم چې د هغوی د کورنۍ دا رازونه او ګټې راته څرګندې شي. دا ښکاره خبره ده چې له دې پرته به ستاسو څخه یو هم د دې لویې کورنۍ د بري په راز نه وې پوهیدلی.

د بادیتو کورنۍ د ترکې د لویو کورنیو څخه ده. او زموږ د هیواد د ډېرو سترو چارو انحصار د دې کورنۍ په لاس کې دی. د دې کورنۍ پوچ مغزي په دې ډول دي:

- "سلیمان بادیتو" د "یوسف بادیتو" زوی دی.
- "یوسف بادیتو" د "مارکو بادیتو" خوری دی.
- "مارکو بادیتو" د "مردفای بادیتو" تره دی.
- "مردفای بادیتو" د " میشل بادیتو" زوم دی.
- "میشل بادیتو" د "معز بادیتو " سخر دی.

او همداسې تر پایه...........

وبحښئ په دې ډول تاسې ته د د ې کورنۍ د بري راز نه شم څرګندلای، ښه به دا وي چې د یوې تیلي بخارۍ د جوړولو او خرڅولو د کیسې په وسیله تاسې ته دا لوی راز څرګند کړم.

همدا اوس موږ د خپلواکۍ په واټ کې یاستو او د کورنۍ موادو پلورنځي مخې ته ولاړ یو، او په خپلو سترګو د پلورنځي په ښودنځي (ویترین) کې پرتې تیلي بخارۍ ګورو.
دا بخارۍ په ډول، ډول رنګونو او اندازو په پلورنځي کې ځای پر ځای شوي دي.

- ستا کومه بخارۍ خوښیږي؟

- هغه چې شین بخن رنګ لري زما خوښه ده، خو بیه یې ډیره لوړه ده.... پوهیږې ۲۱۲۰ لیرې ډیرې پیسي دي.
- ښه به دا وي، د هغې بیه چې ۸۵٦ لیرې ده غوره کړو.
- هو، دا یوه له هره پلوه ښه ده.

هوکې، د دې کورنۍ د پیسو لاس ته راوړلو د څرنګوالي له پاره به دا کافي وي. له دې وروسته به پــه دې پــوه شــی چــې دا کورنــی څومــره زیارایســتونکې او کــاریګره ده. دا کورنۍ د دې زمانې د لټو او بیکاره خلکو له پاره چې د ډېر کېار دعــوا کــوي ډیــره ښه بیلګه ده.

" اسحق بادیتو" د " عربلر مسجدي" او ( پنجشنبی بــازار) پــه لار کــې یــو انبــار لــري. ښایې تر اوسه تاسي هم هغه لیدلاي وي ټول کباړ ټولونکي چې د اوسپنو ټوټې اخلي او هره ورځ په کوڅو کې ښکته پورته کیږي او هر څه چې ګوري راټولوي یې. هغه مازیګر په "اسحق بادیتو" پلوري. د "اسحق بیک افنیم" پــه لطــف ډېر خلــک د دې لارې ډوډۍ پیدا کوي او ژوند تیروي.

- ښه به دا وي چې د تیلي بخارۍ کیسه راونیسو.
- دا کباړ او نور څه د هغې سره څه ارتباط لري؟
- ماشوم کیږه مه، اوس دې په هر څه پوهوم.
- هو، اسحق بادیتو کباړ کیلو په ۱۲ قروشه اخلي او په "عزیز بــادیتو" یــې پلوري. هغه هم پرته له دې چې د جنس مخ وګوري، تلیفوني یې په "فردی بادیتو" چې د صادراتي چارو کار کوي پلوري." فردی بادیتو" هم کباړ یو کیلــو پــه ۱۷ قروشــه په "ژاک بادیتو" چې د انګلستان تبعه دی تیروي.

د" عزیزبادیتو" او " فردی بادیتو" له برکتــه ډېر خلــک لکــه د انبــار خــاوندان، پنډیــان ګنونکــي، لیکونکــي او نــور ډوډۍ خــوري همــدا رنــګه ډیــرې بهرنــی روپــی هیــواد تــه راداخلیږي چې پخپله لوی خدمت دی. ربښتیا، خو ولې "ژاک بادیتو" چې یو انګلیســی ښاغلی دی، دا ماتې، ماتې او کباړ اوسپنی اخلي؟ ژاک دا ماتې، ماتې اوسپنی یو کیلو په شل قروشه په خپل کاکا "دیوید بادیتو" چې د بخارۍ جوړولو فابریکه لري پلوري. په دا فابریکه کــې د دې سیمونو او اوســپنیزو پــانو څخــه ډیــره اعلــی د تیلــو بخــارۍ جوړیږي چې دا بخارۍ د رنګ کولو وروسته په بازار کې د خرڅ له پاره ویشل کیږي. اوس بیرته استانبول ته راګرځو:

" د یوسف بادیتو او ورونو شرکت" په استانبول کې ډېر مشهور دی چې د هغې په ور دا سرلوحه زوړنده ده:

آریان پښتو کتابتون

د یوسف بادیتو او ورونو شرکت په انحصاري ډول د بهر څخه ښکلې بخاری واردوي.
مثلا" همغه ۸۵٦ لیره یې بخاری په ۸۵ لیرې تجارتي بیې هیواد ته راواردوي. د "یوسف بادیتو" په ۲۴% د خرڅ حق او ۲۹% د نماینده ګی د حق په ډیرولو هره بخاری په ۱۰۲ لیرې په خپل ورور ابراهیم بادیتو خرڅوي.
ابراهیم بادیتو په بخاری ۲۰% رسمي ګټې په ډیرولو، دا بخاری "رحیم بادیتو" ته انتقالوي. یعنی په ۱۲۲ لیرې او څلور قروشه، همدارنګه "رحیم بادیتو" د بازار د جلبولو او کار د پراختیا له پاره د "احمد ترک اوغلي" سره یو شرکت جوړ کړی دی.
دا د "ځمکي د بانک" په سلو کې پنځوس سهمه لري.
احمد خان د خپل بانک نه په ۸% ګټه پیسې پوروی "البته دا ګټه هم د بخاریو په بیه ورزیاتوي". نو په همدې ډول د بخاریو بیه ۱۳۴ لیرو او ۴۴ قروشو ته لوړیږي، "رحیم بادیتو" بخاری په خپل نوم د بانک نه په ۸% ګټه پور اخلي او دا ۸% هم د بخاریو په بیه ورډیروي. چې اوس د هرې بخاری بیه کیږي ۱۴۵ لیرې او ۲۰ قروشه، چې په هغې باندې بیا ۲۰% د سوداګری ګټه ورزیاتوي چې د بخاری بیه کیږي ۱۷۴ لیرې او ۳۴ قروشه. د "احمد ترک اوغلي رحیم شرکت" ټول جنسونه له دې کبله چې دوی غونډ خرڅي (عمده فروش) دي په میخایل بادېتو پلوري.
د یاده مو ونه وزي چې تر اوسه دا ټولې معاملې د کاغذ په مخ وي، جنس لا تر اوسه د انګلستان څخه نه دی ښوریدلای.

***

ګرانه وروره:
د حلالی مړی د پیدا کیدو له پاره ښه شی کار، هڅه او خولې تویدل دي.
ګوری! چې د کار او خولو تویدلو په اثر هغوی چې مو وګڼل، پرته له دې چې بخاری په لندن کې د فابریکی د انبار څخه وښوریږي د هرې بخاری بیه ۱۷۴ لیرو او ۳۴ قروشو ته ورسیده، او دلالان به له دې لارې څومره پیسې په جبونو کې اچوي.

د " سليمان باديتو د ورلو شركت"۴۰% د بخاريو د بيو په تناسب پيسې اخلي چې هغه د لندن نه د گمرک تر انباره پورې رارسوي. اوس د بخاريو بيه کيږي ۲۵۸ ليري او ۴۸ قروشه.

" ميخايل باديتو" د ٦۰% د خپل کار د گټې په اخستلو، خپل جنسونه په گمرک کې "ياس باديتو" ته ورکوي.

د دې درنې او انسان دوستې کورنۍ د لطف، کوښښ او هڅې له برکته د ډيرو خلکو ژوند تامينيږي.

* * *

اوس په گمرک کې د وارداتو د حق په نامه ۳۲% د بخاريو په بيه ورډيريږي. له دې درکه د دولت خزانې ته هم ډيرې پيسې تحويليږي. دا قانون دی. يو بل ته د جنسونو په ورکولو راکولو د خدای(ج) مخلوق ته هم کار پيدا کيږي او هم دولت په دی مساله کې بې برخې نه پاتې کيږي. ځکه چې پخپله پرته د جنسونو نه د باديتوگانو څخه هم ماليه اخلي او له دې لارې هيواد ته ډيره گټه رسيږي نو راځئ چې په يو غږ چغه کړو چې:

ژوندی دې وي هيواد !

د گمرک په انبار کې د بخاريو بيه ۲۹۲ ليرو او ۳٦ قروشو ته رسيدلې ده. په دغه ځای کې ياسن باديتو د ۲۰% گټې په ورډيرولو هغه په ميشل باديتو پلوري. دا دی د بخاريو بيه شوه ۳۵۰ ليري او ۸۴ قروشه. دا د سوداگرۍ فيکس شوې بيه ده او تخفيف ته پکې هيڅ ځای نشته. بخارۍ د اوږي تر پايه پورې د گمرک په انبار کې پرتې وي او په هغو ٦% د گمرک د انبار کرايه ورډيريږي او د هرې بخارۍ بيه ۳۸۲ ليرو او ۳۵ قروشو ته لوړيږي.

د سوړ موسم په پيل کيدو سره ميشل باديتو غواړي چې وزو ورو خپل جنسونه د گمرک له انبار څخه راوباسي.

د باديتو کورنۍ پخپله هيڅ جنس نه ويني ان د هغې پيسې نه ويني، ځکه چې د چک او حوالې په شکل يې حساب ته داخليږي. يوازې لاسليک کوي او گڼونکی (محاسب) ورته ارقام گڼي. د بانکونو کار کونکي د باديتوگانو په ځای ورله پيسې گڼي او په پيټيو

کې يې د هغوی په سلامتی قطاروی. باديتوګان د دې دريم لاس کارونو په عوض دغه ښوزلان شپه او ورځ کار کوي.

☺☺☺

هو.......

"مردفای باديتو" هم پرته له دې چې يو وار جنسونه وګوري او پوه شي چې څه رنګ او بڼه لري د ۲۰٪ کټي په ډېرولو هغه په" طفدي باديتو "پلوري هغه يې هم خپلې خور ته انتقالوي، تر څو د څو لاسونو ګرځيدو راګرځيدو وروسته د هرې بخاری بيه (۷۵۰) ليرو او ۲۲ قروشو ته رسيږي دا لا د کار پيل دی.

يو د پلورنځيو څخه چې د دې باديتوګانو نماينده ګي کوي همدا پلورنځي دی چې مور يې مخ ته ولاړ ياستو.

- بلاخره کومه يوه دې خوښه شوه؟
- دا سره څنګه ده؟
- سره ډېره ښايسته ده، بيه يې هم له نورو څخه ارزانه ده، اصلاً" ۷۵٦ ليرې او ٦۲ قروشه د دې بخاری په مقابل کې هيڅ شی هم نه دي.
- يا الله، څه چې ننوزو. وايې خله، خو چې زما شيريني دې له ياده ونه وزي.

سبا ماښام دې ميلمه يم، ډېره، ډېره دې مبارک وی.

پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وشارئ !
زموږ ټيلګرام چينل لينک 🌐📚👇
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فيسبوک پاڼه 👇
آريان پښتو کتابتون

# سپارښتې وینا

کله چې د څووم ځل لپاره د زندان څخه ازاد شوم، بیکاره، بې پیسو او بې ملګرو وم.
زما یو دوست چې د کیسې څخه خبر و، راته وویل:
دا ډیره د خواشینۍ خبره ده چې ته بیکاره او بې پیسو اوسې
غواړې چې څه وکړم؟
سبا راشه، چې خپل دوست ته دې ورو پېژنم، چې هغه ستا په شان یو سړي ته اړه لري.
سبا زه، هغه، خپل دوست ته چې ښځینه بوټ ګنډونکی و او بازار سره یې د ډیرو ښځینه بوټونو قرارداد درلود، وروپېژندلم. دا هغه ورځې وې چې ولسواکي (ډموکراسي) په ترکیه کښې ورو ورو رواجیدله. هیچا د بل خبرو ته غوږ نه نیوه هر چا کوښښ کاوه چې وکیل شي او ترکیه له ورکیدو څخه وژغوري.
دغه وخت چې د انتخاباتو موسم و، زموږ موچي دوست هم ځان د انفرادي کاندیدانو له ډلې معرفي کړی و. د معمولي کارونو د بشپړولو وروسته هغه د یو داسې کس پسې ګرځیده چې هغه ته تودې او ګرمې ویناوې ولیکي. او هغه د هغو ویناو د یادلو (ظبطولو) وروسته خلق الله ته پوف کړي.
هغه وویل:
د دې هیواد په زرګونو کارګران زما د نوم او کسب سره بلد دي. زما راتلونکی پروګرام به د دې ډلې د حقه حقوقو څخه دفاع وي. زه به کوښښ وکړم چې دوی د خانانو او اربابانو د ظلم څخه وژغورم. که د دې کارګرانو یو پر څلورمه برخه هم ماته رای راکړي زه سل په سلو کښې وکیل کیږم.
هغه د ترکیې د پرمختګ لپاره ډیرې نقشې درلودې. یوازې یو عیب یې درلوده چې نالوستی (بیسواد) و، او نه یې شول کولای چې خپل راتلونکې پلانونه ولیکي، نو زما څخه یې هیله وکړه چې یوه وینا ورته ولیکم.
ما همدا کار وکړ او یوه اغیزمنه وینا مې ورته ولیکله، تر هغې چې مې په یاد دي دا ډول مطالب مې په هغې کښې ځای پر ځای کړي و:
ای ګرانو کارګرانو چې د ورکیدو لپاره پرته له سوریو جورابو څه نه لرۍ! ایا تاسو حق نه لرۍ د هغو جرابو څخه چې اوبې یې، په پښو کړئ؟ او هغه کورونه چې جوړوی یې پکې کینئ؟ په داسې حال کې چې نور یې اغوندي او ترې ګټه اخلي. نور له نورو لپاره کار کول او د هغوی لپاره ګټور واقع کیدل بس دي.

دوی ستاسي له مزدورۍ، څخه،اپارتمانونه، ماڼۍ او ماشینونه اخلي. په داسې حال کې چې تاسې په بېوزلۍ او لوږه کې ژوند تېروئ. باید چې هر څومره ژر چې کېږي د هغوی د ظلم ټغر ټول کړئ.

هغه وخت نه شو کېدلای چې داسې خبرې وکړي ( خو اوس ګورې چې کوم یې). سرې زما وینا خوښه کړه او د نیم ساعت وروسته یې ۱۰ لیرې ماته راکړې وروسته پوه شوم چې هغه د وینا لپاره ۲۰ لیرې راکړې وي، خو زما دوست ۱۰ لیرې ترې خپله برخه ګرځولې وه، خدای (ج) دې خیرکړي لس لیرې هم لس لیرې وي نو، په هغه وخت کې ماهر داستان په ۲،۵ یا ۵ لیرې خرڅاوه، باور وکړئ که داسې وینا اخستونکي درلودای، زه حاضر وم چې د ورځې لس لس ویناوې ولیکم.

انفرادي کاندید هم د وینا په زده کولو پیل وکړ، خو چیرته وه هغه کوپړۍ چې داسې مطالب په ځان کې ځای کړي. د ټولو نه یې لا بده دا وه چې هغه به ستاسو او د هغوی ځای تل یو د بل سره غلطاوه، مثلاً" په هغ ځای کې چې باید ویلې یې وای:

کله چې هغوی پخپلو خیالي ماڼیو کې د ناز په خوب ویده وي تاسې د اور په بټیو کې یو خوا او بل خوا زغلئ. ویلې به یې: کله چې تاسې په خپلو خیالي ماڼیو کې د ناز په خوب ویده یاستۍ. هغوی د اور په بټیو کې یو خوا او بل خوا ځغلي.

په هر شکل چې و ومې نکړای شول چې هغه د وینا مطالب سم زده کړي. زما د انفرادي کاندید په نظر دا له ټولو نه غوره وینا وه چې هغه تر دغه وخته اورولې وه! خو له بده مرغه هغه لا د وینا دریمه کرښه نه وه اورولې چې د څارندویو لخوا ونیول شو،او پوځي مقاماتو ته حواله شو په هغه ځای کې یې د هغه نه د وینا لیکونکي د نوم او پتې پوښتنه کوې وه چې سمدلاسه یې ونیسي. خو هغه پوهیده که ما ونیسي نو باید ډېره موده په زندان کې کنګل اوبه وڅښم، نو ویلي یې و:

چې دا وینا راته د ډاك مخې ته یو لیکونکي لیکلې ده، چې زه هغه نه پیژنم.

هغه په دې اسانۍ د څارندویو د منګلو نه خلاصیدای نه شو، خو کله چې یې د هغه د پلورنځي پته، د هغه بوټونو شمیر چې هره ورځ یې بازار ته وړاندي کوي او د هغه د چکونو او بانکي اعتبار نه خبر شول، هغه یې د یو شرافتمند او با حیثیته هیوادوال په صفت ازاد کړ.

د ازادیدو وروسته یې ماته د پنځو، شپږو انقلابي ویناوو سپارښتنه وکړه. که څه هم هغه په انتخاباتو کې بریالی نه شو، خو هغه هسې یوه بدمرغي وه ځکه هغوی چې انتخاب شوي و د هغوی پوهه او شعور له ده څخه لوړ نه و!

په دې ډول زه او هغه سره اشنا شو، کله چې به یې وینا ته اړه پیدا کیده نو راساً به زما پسې راته.

یوه ورځ یې د لور د واده د مراسمو لپاره زما څخه وینا وغوښتـه. داسې معلومیده چې زوم یې د کومې شتمنې کورنۍ څخه دی، نو لـه دې کبلـه چې هغوی تـه وښیوی، چې دومره بې مغزه هم نه دی نو ځکه یې دا غوښتنه له ما څخه وکړه.
د هغه په زړه وینا مې ولیکله، کله چې یې غوښتل لاړ شي، د ډاکټرانو فیس غوندې یې د پنځوسو لیرو لوټ زما په میز کیښود، دا هغه وخت و چې زما هـره کیسـه یې پـه ډیـره خوښه په ۱۰۰ لیرو واخستله، پیسې مې ترې وانه خستې.
که وا دې نه خستې زه خفه کیږم او بیا بیخي درله نه راځم.
خوښه مو ستاسي خپل ځای دی، هر کله چې مو زړه وي راتلای شي.
څه وخت، وروسته بیا خبر شوم چې په هغې مجلس کې د هغه وینا د عجیبې سرګرمۍ او خندا سبب شوې وه. ځکه چې زمونږ له انفرادي کاندید څخه د وینا یو څه برخه هیریږي لاس جیب ته ننباسي او زما د وینـا د کـاغذ پر ځای، د خپلې هتۍ د بوټونـو لست لـه جیب څخه راباسي، چې په هغې کې د هغو کسانو یاد داشت و، چا تـه چې یې پـه دغـو ورځو کې بوټان ورکړي و. د هغې له مخې وینا ته داسې دوام ورکوي:
-زما ګرانو ، اوس چې ستاسي معصوم لاسونه یو د بل په لاس کې ګورم ستاسـو لپـاره د نیکمرغه سبا هیله کوم د داي سبا چې ۲۰ جوړې ښځینه ساده، ۳۰ جوړه بند لرونکي بوټان باید ښاغلی هیرستاکي ته چې زمونږ د کوڅې په پای کې دی ورکړم.
بیا یوه ورځ راپسې راغی او راته یې وویل:
ستا لمن مې نیولې ده، ستا کې لاسه هر څه کیږي، د زوی مې پنځه کاله کیـږي چې جرمني ته تللی دی چې انجنیر شی، اوس چې یې د زده کړې یـوازې یـو کـال پاتې دی، غواړي چې بیرته راستون شي. هر څومره چې مې ورته ولیکل چې دا یو کال نـور هـم تیر کړه چې انجنیر شې د خرڅ پسې مه ګرځه، خو نه یې مني، نو تـه ورتـه یـو غمګیـن شعر ولیکه ښایي تاثیر په وکړي. ما چې ورلـه یـو څه لیکونـه ولوستل متوجه شوم چې هغـه پرته له دې چې په پنځو کـالو کې انجنیر شوي نه دی، کـه پنځه شپږ زره کالـه نـور هـم درس ولولي، څه ترې نه جوړیږي، مقصد یـې یـوازې د پـلار څخه د پیسـو شکول دي او بس.
په دې باره کې مې یو مناسب شعر جوړ کړ او هغه ته مې ورکړ. دا وار یې هـم د مخکې په شان غوښتل چې پیسې راکړي.
نه یې اخلم.
هیله کوم، نور مې زړه نه کیږي چې دلته راشم.
زه او ته سره دوستان یو، تا هغه وخت چې زما لاس تنګ و، زما لاس ونیوه هر وخت چې دی زړه و دلته راتلای شې خو پیسې میسې به راته نه یادوې.

کلونه کیدل چې ترې ناخبره وم، تر څو چې یو څو ورځې مخکې په ژړیدلو سترګو راپسې راغې او ویې ویل:
د ښځې پلار مې خپل عمر تاته درکړې دی.
خدای(ج) دې وبښې، خدای (ج) دې وکړي چې دا مو وروستنی غم وي.
سبا سهار باید د فلانې جومات نه جنازه یوسو.
ډیر ښه ده، انشاالله په دې مراسمو کې به ګډون ته درشم.
زه غلم چې درڅخه یوه هیله وکړم.
امر وکړئ.
داسې وینا مې پکار ده چې د قبر په سر ولوستل شي.
سره د دې چې ډیر بوخت یم، خو ستاسو غوښتنه نه ردوم، په سترګو سبا مازدیګر راشه او وایې خله.
خو زه نه غواړم چې ویې لولم، ستاسې څخه هیله کوم چې تاسې ځان په زحمت کړې، حتما" زما دا غوښتنه نه ردوی؟
څه، زه یې ولولم، زه خو هغه خدای بخښلی هډو پیژنم نه.
هیله کوم، ته خو اوس هغه پخوانی بې نومه لیکوال نه یې. اوس دې ټول خلك پیژني. ستا وینا زما او زما د ښځې د پلار لپاره ویاړ دی. تا خو ویلي و چې موږ سره دوستان یاستو.
پوه شوم، چې هغه مې نه پریږدي، د ځان او د خپلې هتې له پاره هم غواړي چې له ما څخه تبلیغاتي ګټه واخلي.
له دې کبله چې کبرجن نه یم، او څوك له ځانه نه خفه کوم، هغه وخت مې په یاد و چې په لس لیرو به مې ورته وینا لیکله، نو که اوس مې ورته نه وی لیکلی، ویل به یې چې څومره بې مخه سړی یم.
ښه اوس چې ته دومره ټینګ یې، منم یې. خو ووایه، چې د ښځې میړه دې څه ځانګړتیاوې یا خواص درلودل؟ او څه کار یې کاوه؟
هیڅ د ستایلو ځای په کې نه و.
د ژوند قصه یې را ته وکړه.
خدای ﷻ دې وبښي، د هیواد له نامتو چاقو کښو څخه و. څو کرته له عسکرۍ څخه تښتیدلی و، تر څو یې په څلویښت کلنۍ کې په عسکري وکړه. هغه سره له دې هم له تیښتې ډډه ونه کړه، تر څو چې په پنځوس کلنۍ کې یې عسکري پای ته ورسوله. څو کرته هم د جګړو، وژلو او نورو جنایاتو له کبله په زندان کې اچول شوی و. خدای ﷻ دې وبښي، د وخت له بې شرفانو څخه و، ښه شو چې مړ شو او زموږ هیواد له یو اوورمکړي (میکروب) څخه خلاص شو.

د داسې يو سړي په قبر به زه څه وينا وکړم؟
ته کولی شي، او ستاسي پرته دا کار بل څوك نه شي کولی. زما او ستا د دوستۍ په خاطر، زما دا غوښتنه مه ردوه. د دغې ورځې په سبا هغه جومات ته چې بايد جنازه ترې راوتلې وی، ورغلم.
د هغه له جنازې پرته پنځه نورې جنازې هم په جومات کې پرتې وې، هر څه چې وشو د لمانځه وروسته امبولانسونو ته د پورته کولو په وخت کې وشو.
په جومات کې دومره ګڼه ګوڼه وه چې ښې او کيڼ لاس سره نه پيژندل کيدل. زه هم د هغو فشارونو له کبله چې د هر لوري راباندې راغلي و، غوښتل مې او که نه يو ټکسي ته چې همدغلته منتظر و ورجګ شوم.
څه به درته ووايم، د هغه اول نه زه يو ټکسي ته چې زمونږ د جنازې پوري يې اړه نه درلوده سپور شوی وم. کله چې هديرې ته ورسيدو او د خښولو مراسم پای ته ورسيدل او قاريانو د قرانکريم پر لوستلو پيل وکړ، پوه شوم چې د يوې ميرمنې قبر ته چې دې هيواد ته يې ډير خدمتونه کړيدي، ولاړ يم. هر څومره چې مې انفرادي کانديد ولټاوه پيدا مې نکړ. نو پوه شوم چې ځان يې بيا چيرته غلی کړی دی، او د نورو د سترګو نه لرې اوښکې تويوي. په دې کې مې هيڅ شك نه درلود، چې دا د بل چا قبر دی.
د هغه غنچو د ځای پرځای کيدو وروسته چې د سوداګرانو د پيوستون او د کسبه کارو د اتحاديې له خوا راوړای شوې وې، زما وار راورسيده. سمدلاسه مې ځان يو لوړ ځای ته ورساوه او په دې ډول مې خپله وينا پيل کړه:
خدای بخښلې د هيواد د سپورت ځلانده ځيرو ځخه و، چې په چاړه ويستلو(؟) کې يې په هيواد کې ريکارډ ټينګ کړی و. څه زوړ غوندې مې غوږ ته راغی خو ما هغه، د هغو خلکو د زړه خواله وبلله چې په دې ډول مراسمو کې يې يو د بل سره کوي.
خدای بخښلې د هيواد ډېر نوميالی هيواد پرست و او خپل لس کلن قيمتي عمر يې په عسکري او د خلکو په خدمت کې تير کړ.
زوړ لوړ شو او داسې غږونه مې غوږ ته راغلل چې "دايې لاڅوك دی؟" غلی شه ويې شړئ.......
خدای ښښلی د انتي ډموکراسۍ (د ډموکراسۍ پر ضد) په وخت کې کلونه په زندان کې پروت و. زوړ او ښکنځا هره شيبه ډيريده او حاضرين لکه غواړي چې ما په خپل منځ کې چخپيت کړي داسې يې د محاصرې کړۍ راتنګوله.
په همدې شيبه کې و چې زمونږ انفرادي کانديد لکه د ژغورنې د پرښتو غوندې له کوم ځای ځخه زما د ژغورنې لپاره راورسيد. او ويې ويل:
مړه، چيرته يې، دوه ساعته کيږي چې زه دَرپسې ګرځم، زمونږ قبر هغه خوا دی يوازې زمونږ او د دوی غنچې سره بدلې شوې دي. دوه غنچې مې دوست او درې غنچې ما

واخستې او د هغه د ښځې د پلار قبر ته لاړو، خو هلته څوك نه و، چې زه ورته خبرې وكړم.
زما دوست په قبر باندې د غنچو د ايښودو وروسته، سوالگرو ته يو څه پيسې وركړې او دواړه د هديرې د لوى ور نه راووتو او د ښار په لور روان شو. د لارې په اوږدو كې هغه ما ته مخ راواړوه او ويې ويل:
ريښتيا ډېر بد كار وشو، چې وينا مو ونه كړاى شوه.
څه مې كړي واى، گلونه، ټكسيان، خلك ټول ردوبدل شوي و، او ما نور څه نشو كولاى.
ما خو وينا ليكلې وه.
كولاى شم چې ستاسې څخه يوه هيله وكړم؟
هيله كوم مهرباني وكړئ.
اوس چې مو دا وينا ليكلې، كولاى شې چې هغه په يوه مهمه ورځپاڼه كې خپره كړې؟
د دې كبله چې ځان مې ترې خلاص كړى وي ورته وويل:
-البته، كه تاسې ويلې هم نه واى ما دا كار كاوه.
كله چې د موټر څخه كوز شولو او غوښتل مو چې د يو بل سره خداى په اماني وكړو ويې ويل:
غوښتل مې چې يو څه درته ووايم.
ووايه لږ زر كوه چې كار لرم.
نو، غوږ ونيسه، كله چې يې غوښتل چې په هغه قبر كې چې مونږ يې څنگ ته ولاړ و زما د ښځې پلار ښخ كوي، متوجه شوم چې د هغه په ځاى همغه ميرمن ښخوي. خو ما هيڅ غږ ونه كړ په زړه كې ويل، پرېږده چې ښخه يې كړي، څه كار ورسره لرى.

# په دې وسيله درته خپله مبارکي وړاندې کوم

وروسته له زرګونو کړاوونو څخه مې وکړای شول چې د ښاغلي بهاوالدين سره ټيليفوني تماس ونيسم. کله چې به د ښاغلي بهاوالدين، سکرتر د ټيليفون غوږۍ پورته کړه د دې لپاره چې پوه شي، چا چې ټيليفون کړی څه کاره دی، او څه مقام لري " د مهرباني وکړئ " د ويلو څخه وروسته به لږ شانته غلی کيده، د مقابل لوري د خبرو طرز ته به يې کتل، که مقابل لوري به په احترام او ادب سره خبرې کولې، ورته ويلې به يې چې غوږۍ مو په غوږ وي، او همداسې به يې غوږۍ په ټيليفون کيښودله، پرته له دې چې ښاغلي بهاوالدين خبر کړي، او مقابل لوري به ډېر وخت غوږۍ په لاس منتظر و، تر څو چې به ستړی شو او غوږۍ به يې کيښودله، دا څويم وار و چې هغه هم همداسې غوږۍ په لاس پاتې شوی و، خو دا پلا يې پيتلې و چې په عصبانيت سره وغږيږي او د خبرو طرز يې امرانه وي، د ټيليفون ګڼه يې ډايل کړه او ځواب ته منتظر و.

مهرباني وکړئ......

بهاوالدين شته؟

وبښئ تاسې.......

انډيوال مې دی.

هيله کوم يوه شيبه.

وروسته له څو شيبو نه ښاغلي بهاوالدين په امرانه لهجه وويل:

بلې!

ښاغلي بهاوالدين؟

پخپله يمه.

ډېر خوښ شوم چې بالاخره مې وکولای شول چې ستاسې سره .........

وبښئ، جناب عالي مې فکر ته رانغی.

هيله کوم، څرنګه مو خپل پخوانی دوست هير کړ.

ستاسې غږ ډېر اشنا دی، خو اداري کارونو مې اعصاب ډېر خراب کړيدي.

لږ فکر وکړی. زه ستاسې ټولګيوال وم.

ښه، ليندا رضا يې؟

نه قربان، ليندا رضا نه يمه، هغه په دې وختونو کې په سياسي کارونو بوخت دی، دومره وخت نه لري.

نه چې وکيل يې؟

نه، وکيل اووه کاله کيږي چې د يوې مياشتې لپاره اروپا ته تللی و تر اوسه بيرته نه دی راغلی.

ښه اوس پوه شوم، جګړه مار حسن یې.
بالکل سمه ده ....... اوس پوه شوم، هغوی چې وایې بهاوالدین کوپړی لري خو ماغزه نه، ډیره اشتباه کوي، که چیرې ډغسې وای، هیڅکله یې امکان نه درلوده چې ته دې زمونږ په ټولنه کې وزیر شوی وای.
ستاسي لطف دی.
تکلف یو لوري ته پریږدئ، غواړم چې یو څو شیبې لکه د پخوا په څیر سره خبرې وکړو.
والله، زه خو په دې وختونو کې دومره بوخت یم، چې پوښتنه مه کوه، ولې دلته نه راځې؟
بهاوالدین جانه، ته خو ما پیژنې، نه غواړم چې بد یې تعبیر کړې، که پلار مې هم کوم لوړ مقام ته ورسیږي، زر زر یې لیدو ته نه شم ورتلای، او مخصوصاً کله چې مې ورته کوم کار بند وي او ترې وغواړم چې راته اجرا یې کړي ډېر خجالت باسم په خپل لاس کې مې نه ده. همداسې بد اموخته شوی یم.
نه بابا دا فکرونه یو خوا ته کړه.
دومره پوهیږم چې ستاسو غوندې کسان په دولتي کارونو بوخت وي، نه غواړم چې د هغوی دا قیمتي وخت ضایع کړم، پوهیږې ولې؟
ولې؟
ځکه، کله چې ستاسې غوندې یو مهم سړي سره خبرې کوم، ښایې چې فکر یې بل کوم لوري ته لاړ شي او د هیواد ډېر مهم مسایل یې له یاده ووځي او ټول هیواد ته به یې تاوان ورسیږي، البته ټول زما په شان فکر نه کوي. کله چې یې کوم انډیوال یا د کورنۍ کوم غړی، کوم لوړ مقام ته ورسیږي، بیا سم له لاسه د ټلیفون غوږی پورته کوي او د پوښتنې په بهانه، د هغه نه د زرګونو کارونو توقع کوي.
نه قربان دومره یې سخته مه نیسه.
نه بیخي رښتیا وایم، داسې دوستان د ټلیفوني مزاحمتونو او په ورځپاڼو کې د مبارکیو په چاپولو، او بیا د هغې د ښودلو په وسیله لکه ستاسې غوندې د مهمو شخصیتونو قیمتي وخت ضایع کوي.
په یاد به مو وي کله چې وکیل شوئ؟
هوکې
په یاد مې دي، ولې هغه وخت ماته راښکاره نه شوې؟
پوهیږې چې ولې؟ که هغه وخت درغلای وای، ویلی به دې اوس چې وکیل شوم، راغلې.
نه بابا، دا څه خبرې دي چې کوی یې.

دا درته بي پردې وایم، چې که څوك د کوم کار د اجرا لپاره درغلل د کوټې څخه يې راوباسه، که دا زه هم یم، ته باید د هیواد ډېرو مهمو کارونو ته ورسیږې ستاسي وخت ډېر ارزښت لري. ما هم هغه وخت ډېر غوښتل چې ستاسي زيارت ته درشم، خو فکر مې وکړ چې ښايې بل فکر وکړې. خو کله چې مې پرون ستاسو سر تر پښو څېره په ورځپاڼه کې ولیده، زړه مې ووېل، چې دا وارې باید حتماً" درشم، تاسې د هیواد یو لایقه او د دې منصب وړ شخصیت یاستی، خدای دې ژوند درکړي.

ډېره مننه، ستاسې ډېر لطف دی.

نه ښاغلي، مونږ باید د ښاغلي لومړي وزیر څخه مننه وکړو، چې ستاسې غونډې مناسب شخصې يې د دې مقام لپاره غوره کړی دی، هیله مې درلوده چې پخپله ستاسې زیارت ته درشم او مبارکي درته ووایم خو له بده مرغه په دې ورځو کې ډېر بوخت یم.

انشاالله څه موده وروسته به خدمت ته درورسیږم، ډېره بخښنه غواړم که بي ادبی نه کیږي تاسو ته مې لږه توصیه درلوده.

هیله کوم مهرباني وکړئ.

لومړی دا چې، د هر کار له پیل څخه مخکې کوښښ وکړه چې د هغې کار ټولې خواوې وڅیړې چې بیا وروسته درته کوم کړاو جوړ نه کړي.

له دې اړخه بیخي ډاډه اوسه، هغوی چې زه يې د دې مقام لپاره غوره کړی یم زما ډېره ساتنه کوي.

په هر صورت، دې مقام ته ستاسې غوره کیدل اول د لومړي وزیر محترم حضور ته او بیا تاسې ته مبارکي وایم.

ډېره مننه، ستاسې وینا به د محترم لومړي وزیر حضورته ورسوم.

چې د یاده مې ونه وځي، ستاسي څخه مې یوه هیله لرله.

مهرباني وکړئ.

ته خو زما د ښځې خور یعني ښینه پیژنې؟

هو کې، ولې څه شویدي؟

که په یاد مو وي دري کاله مخکې یوه پیښه پرې وشوه.

نه، څه خو مې په یاد نه دي، ولې ټکر يې کړی و؟

نه یوه عشقي پیښه وه، او بلاخره يې د هغه هلك سره واده وکړ.

خدای(ج) دې نیکمرغه لري.

ډېره مننه، خو........

خو، یعني څه؟

هغه هلك بیکار دی.

درس يې لوستی دی؟
البته بيخې نالوستی نه دی، خو يوازې لومړنۍ زده کړه يې کړېده.
څه کار يې زده دی؟
که په څه کار پوهيدی، پخپله به مې چيرته مقرر کړی وای، له همدې کبله ستاسې مزاحم شوم، چې ستاسې له سيورې لاندې هغه ته هم کوم کار پيدا شي.
په درې، څلورو ورځو کې به يې د مقررۍ امر کورته درولېږم، که د کار د پيل لپاره کوم کوچنی ماموريت وي کوم مشکل خو به نه وي؟
تاسې پخپله ښه پوهيږئ، خو زمونږ د کورنۍ شرف هم لږ په نظر کې ونيسئ نو.
بل څه فرمايش مو نه درلود،
رحمت اغا هم څه جنجال لري، خو هغه به وروسته ته پرېږدو.
هغه چيرته کار کوي؟
هغه د ماليې په وزارت کې کار کاوه خو تور يې پرې ولګاوه چې د پيسو له سيف څخه يې پيسې غلا کړې دي.
ښه څه مهمه خبره نه ده، څو ورځې وروسته د محاسبې رئيس بدليږي، نوي رئيس ته به ووايم چې هغه ته يې پام وي، ربښتيا د رحمت اغا ورور څه کار کوي؟
د هغه هم وضعه ښه نه ده، که اجازه وي وروسته به د کورنۍ د بيکارانو لست درولېږم چې ورو ورو ورته کار پيدا کړئ.
سمه ده.
خو لږ په دې څوکيو کې دې فکر وي.
فکر دې بيخي راحت ساته.
ډيره مننه، له دې زيات وخت مو نه نيسم، خو چې له ياده مې ونه وځي يو عرض مې لره.
مهرباني وکړئ.
پدې وسيله تاسې، ښاغلي لومړي وزير او ټولو وزيرانو او رئيسانو ته چې ګوند لوبه (پارټي بازي) يې په هيواد کې منع کړې ده مبارکي وايم او د زړه له کومې ورته د اوږد عمر دعا کوم.
ډيره مننه.
هيله کوم، د خدای په امان.
د خدای په امان.

# رټل شوی زمکه

سمه معلومه نه ده، چې دا قیصه څه وخت تیره شوی ده، په لومړیو وختونو کې، په منځنیو وختونو کې او که په نننیو وختونو کې؟!

لنډه دا چې یو وخت د زمکې په مخ په یو هیواد کې چې جغرافیایي پراختیا یې د لاس د ورغوي په اندازه وه! وګړو ژوند کاوه، چې میاشتې میاشتې، کلونه او د ځینو یې په عمرونو تندي نه ؤ غوړیدلي، او موسکا یې بیخي له یاده وتلې وه. نورو د دغې سیمې نوم رټل شوی زمکه ایښی ؤ.

په دې هیواد کې به وګړو شپه او ورځ کار کاوه، او ډېر مزد یې اخیسته. ښځو به ورځ چوپه تیروله، خبرې یې نه وې خوښې!

سره له دې چې، دا زمکه له نعمتونو ډکه وه، خو وګړو به یې تل سرونه ښکته کړي ؤ، او لکه د غمځپلو خلکو په څیر به غلي تلل-راتلل. کشرانو به هیڅکه د مشرانو له وینا پرته څه کار نه کاوه. ادب او اطاعت د دوی عادت شوی ؤ، چې له پیړیو راهیسې ورته له نیکونو میراث رسیدلی ؤ.

دې وضعې کلونه دوام درلود، د هغوی لارښوونکي (رهبران) چې یو له بل پسې په تخت کښیناستل، هره ورځ به یې په ملت نور هم فشار ډېراوه. د پاچاهي تخت د پښو د ټینګ ساتلو لپاره به یې هره ورځ په ګړو مالیه زیاتوله، او نوي قوانین به یې وضع کول!!...

تر هغه ځایه چې هر موجود تر یو ټاکلي حد پورې فشار زغملی شي، د دې اوریدونکي او فرمانبردار ملت د زغم توان هم یوه ورځ پای ته ورسید. له دې کبله چې د لارښود امر، نه یې د سرغړونې توان نه درلود، د بلې لارې چارې د پیدا کیدو په فکر کې شول.

د هغوی یو روڼ اندي (روښان فکره) خلك راغونډ کړل، او وې ویل:

دوستانو د دې ظلم او فشار نه د خلاصون له پاره باید تاریخ ولولو، وګورو چې زموږ نیکونو د لارښووونکو د ظلم او ستم په وړاندې څه عکس العمل ښودلی، چې موږ هم هغه کار وکړو.

خلکو د هغه غوښتنه ومنله، کله یې چې د تاریخ ټول کتابونه ولوستل، دې پایلې (نتیجې) ته ورسیدل، چې د هغوی نیکونو د لارښودونکو د ظلم او ستم په مقابل کې پرته له چوپتیا او منفي مبارزې څخه بل څه نه دي کړي. هر څومره چې به د

لاربنوونکو ظلم او ستم ډېریده او هر څومره چې به یې ملت ربړاوه، د خلکو سر به نور هم ټیټیده، او د وچولي ګونجې به یې ډېریدلې.
ملت هم وپیتله چې همدا لار غوره کړي.
د لاربنود د ظلم او ستم په مقابل کې د هغوی ځیرې ځېلې شوې وې. دا ځپلتوب ورځ په ورځ ډېریده، تر څو چې د وګړو خندا او خوښي بیخي له یاده ووتله. خو د لاربنود او د انډیوالانو یې هیڅ خیال هم نه ؤ. هغوی غوښتل چې په هر قیمت چې وي باید د ملت وینې وزبیښي، او د هغوی نه یو څه لاس ته راوړي. ظلم او ستم ورځ په ورځ ډېریده.
بیا هم یوه ورځ یو روڼ اندي خلك راغونډ کړل، او وې وویل:
ملګرو موږ ناست یو او لاس مو د زنې لاندې ایښودی دی، په ځان مو ژوند حرام کړی، په دې مو زړه خوښ دی، چې منفي مبارزه کوو. خو د لاربنود او انډیوالانو یې هیڅ فکر هم نه ؤ. باید بل فکر وکړو، پرته له موږ نه په دې نړۍ کې نور وګړي هم شته، لاړ شو او وګورو، چې هغوی د خپلو لاربښودونکو سره څه کوي، چې موږ هم همهغسي کار وکړو.
وګړو بیا هم د هغه غوښتنه ومنله، او درې روڼ اندي یې غوره کړل، او درې ګاونډي هیوادونو ته یې ولیږل، چې لاړ شي او هلته وګوري، چې د دغه ځایونو خلك د لاربښودونکو د ظلم او ستم په وړاندې څه کوي، چې دوی یې هم زده کړي. دا درې کسه درې کاله په بهرنیو هیوادونو کې پاتې شول. د هغوی د کار او ژوند په اړه یې بشپړه څېړنه وکړه. کله چې په څه پوه شول، خپل هیواد ته راوګرځیدل.... چې خپلو هیوادوالو ته د مبارزې کولو لار وښایي. یوه ورځ وګړي د هغوی د خبرو د اوریدو له پاره راغونډ شوي ؤ، لومړي کس وویل:
هغه هیواد ته چې زه تللی وم، وګړي یې ټول خوښ او خولې یې له خندا نه ډکې وې. د هیچا په کې بڼه ځپلې او تندی ګونجې نه ؤ. وګړو له ګهیځ نه تر ماښامه د "هوپ تیرا نام" سندره ویله او نڅل یې... که موږ ښه ژوند او سوکالي غواړو، باید دا سندره زده کړو او د همیشنۍ ځپلتیا پر ځای تل وناڅو اوسندرې ووایو!...
دویم کس وویل:
هغه هیواد ته چې زه تللی وم، هلته د غم، غصې او خفګان نښه هم نه وه، د هغه ځای وګړو هم د "تیرا نام هوپ" سندره ویله او نڅل یې!...
د لاربنود د ظلم او ستم په وړاندې موږ هم باید وناڅو او سندرې ووایو!...
دریمګړي روڼ اندي وویل:

هغه هيواد ته چې زه تللی وم، وضع همداسې وه، خلکو د غم او ځپلتيا په ځای د ګهيځ نه تر ماښام پورې د "تام هوپ تيرا" سندره په خوله وه...که موږ هم غوښتي وي چې د لارښود اوامر له پښو لاندې کړو، بايد دا سندره زده کړو، او له ګهيځ نه تر ماښام پورې د دې سندرې سره وناځو!
وګړي چې د خپلو روڼ اندو استازو د راپور اوريدو حيران کړي وُ، وويل:
په نځا او سندرو خو نه شو کولی، چې د ظلم او ستم مقابله وکړو، موږ اصلاً ستاسې د خبرو په مانا پوه نه شو، آيا تاسو پخپله د دغو خبرو په مانا پوهيږئ؟
استازو وويل:
البته چې پوهيږو، داسې هم کيدی شي، چې په يو مطلب دې پوه نه شو، او چا ته دې لارښودنه وکړو!
نو وې وايې، چې موږ هم پوه شو...
لومړني سړي موضوع شرحه کړه:
ليدلي به مو وي، کله چې يو سپی يو لاروی ويني، ځومره غاپي؟! "هوپ تيرا نام" د همدې ښکاروندوی دی!...
دويم سړي وويل:
د "تيرا ناهوپ" مانا دا ده کله چې د تلې يو پلو کې ختې او په بل پلو کې سره زر واچوئ، د تلې ډنډه همغې لورې ته کږې، چې درنه وي، هغې ته سره زر يا ختې ځه فرق نه لري...دې حالت ته "تيرا نا هوپ" وايي.
دريم ګړي وويل:
د "هوپ تيرا" مانا داسې ده، چې کله يو ښاغلی او نوکر يې په تودوبې "حمام" کې لوځيږي، د هغوی تر مينځ هيڅ توپير نشته، او هيڅوك نه شي کولی، چې پوه شي چې کوم يو يې ښاغلی او کوم يو يې نوکر دی؟ دې وضعې ته "هوپ تيرا" وايي.
حاضرين د دې درې روڼ اندو له توضحياتو نه ډير خوښ او راضي شول، او په دې يې پريکړه وکړه، چې روڼ اندي دې دا ځه چې يې زده کړي دي، خلکو ته زده کړي، تر ځو وګړي لکه د نورې نړۍ د خلکو په څير د لارښود له ظلم او ستم مقابله وکړی شي!
له دغې ورځې وروسته په هره غونډه، جرګه، وينا ان په کوڅو او بازار کې د "هوپ تيرا !"، "تيراناهوپ" او "هوپ تيري" چغې اسمان ته رسيدلې....
د خلکو د ټنډو ګونجې ورو ورو وغوړيدې او د مخ کرښې يې ورو ورو اوارې شوې. وګړو نور د دې پر ځای چې سرونه ښکته واچوي په هره کوڅه او پس کوڅه کې به

یې دا سندرې ویلې او نڅل به یې. کله چې دا غږونه او چغې د لاړښود او انډیوالانو غوږونو ته یې ورسیدې، لومړی یې جټکه وخوړه، او په فکر کې ډوب شول. خوښي او سوکالي یې له منځه ولاړه او د خلکو د خوښۍ د دلیل د معلومولو لپاره په چُرت کې شول.

له همدې کبله د هغوی وریځې ښکته پرېوتې او وچولي یې ګونجي شول. ورځ په ورځ د خلکو خوښي او د لاړښود د تندې ګونجې زیاتیدلې. نور د لاړښود او د ملګرو د صبر او زغم کاسه په چپه کیدو شوه. نور چا د لاړښود امرونو ته ارزښت نه ورکاوه، وګړي نور د لاړښود له ګواښونو، ګوت څنډنو، ظلم او ستم نه، نه ډاریدل.

وګړو د لاړښود د ظلم او ستم په مقابل کې "هوپ تیرا" ویل، د "تیرا هوپ" سندره یې ویله، او د "هوپ تیري" سندرې سره یې نڅل...

لاړښود او انډیوالانو یې پریکړه وکړه، چې د وګړو د خوښۍ مخه ونیسي، فرمانونه یې صادر کړل، چې "هر څوک که ووایي او وناڅي پرته له محکمې به غرغره شي!" خو څه ګټه یې ونه کړه. لاړښود خو نشو کولی، چې ټول وګړي غرغره کړي، نو ورته په کار ؤ، چې کومه بله لاره او چاره ولټوي.

دا پلا د لاړښود یو انډیوال یو نوی او شیطاني نظر وړاندې کړ، د لاړښود هم همدا نظر خوښ شو، او له روڼ اندو څخه یو چې په سفر تللی ؤ، او وګړو ته یې دا جملې زده کړې وې، هغه یې د لاړښود ماڼۍ ته راوبله. لاړښود د هغه ډېر درناوی وکړ، او ورته یې وویل:

زموږ هم دا سندرې ډېرې خوښې شولې، او ډېره مزه مو ترې واخیسته. زړه مو غواړي چې ملت همیشه سندرې ووایي، او وناڅي. له همدې کبله مو ستاسې څخه یوه غوښتنه درلوده، له دې کبله چې د دې جملو ویل ډېر سخت او مشکل دي، او ټول نه شي کولی، چې دا سندره ووایي. ټو ترې خوند واخلي... که اسانې جملې پیدا کړی شې، پرته له دې چې څوک پرې پوه شي، موږ حاضر یو، چې ډوه سوه کڅوړې سره زر تا ته درکړو.

لومړنی روڼ اندی چې ګوري، دا غوښتنه په ښکاره منطقي او د ملت په ګټه ده، غوښتنه مني او وایي:

په ډېره مینه مې ومنله!...

له هغې ورځې وروسته د وګړو پام کیږي، چې له اصلي جملې نه دوه ټکي کم شوي دي، او یوازې "هوپ تیرا" پاتې ده، او د هغې مانا دا ده، چې یو سپی پرته له خاونده هر چا ته غاپي.

لاړښود دا پلا دويم روڼ اندی مانۍ ته رابلي، د هغه هم ډېر درناوی کوي، او د سندرې د لنډولو غوښتنه ورڅخه کوي، او دوه سوه کځوړې سره زر ورکوي!
دغه روڼ اندی هم د لاړښود غوښتنه مني، او خپله جمله د "تيرا هوپ" په شکل اصلاح کوي، چې د هغې مانا ده، کله چې ختې او سره زر وتلې، د تلې ډنډه هر لوري ته ښوريږي!
لاړښود دريمګړی روڼ اندی لکه د دوه نورو غولوي، او هغه هم خپلې جملې ته د "هوپ تيرې" په بڼه تغير ورکوي، يعنې په تودوبې کې د ښاغلي او نوکر لوځيدل!...
دا بدلونونه که څه هم جزيي دي، خو د وګړو په کړنه کې ډېر بدلون راولي. که څه هم وګړي خاندي، او له دې سندرې سره ناځي، خو ټول پوهيږي، چې د خوښۍ او خوشحالۍ اندازه يو څه کمه شوې ده.
هر څومره چې د ولس خوښي کميږي، هومره د لاړښود ټنډه غوړيږي.
لاړښود بيا مفکرين رابلي، لومړنی متفکر چې مانۍ ته راځي، له لومړي ځل څخه ډېر د هغه درناوی کوي او وايي:
ايا ممکنه ده، چې د خپلې جملې دوه نور ټکي هم کم کړې، چې وګړي په اسانۍ سره دا سندره زمزمه کړی شي! موږ حاضر يو چې تا ته درې سوه کځوړې سره زر درکړو. بيا هم روڼ اندی ځواب ورکوي:
په سترګو قربان!
همدا رنګه دويم او دريم متفکر د لاړښود غوښتنه مني. پخوانۍ جملې د "هوپ تې" "تې هوپ" او "هوپ تا" په بڼه تغير خوري. چې د هغوی مانا ده د سپي غپا، د سرو او ختو تلل او د خلکو د لوځيدلو تودوبې. وګړي بيا هم په سندرو او نڅا بوخت دي، خو په هغوی کې پخوانۍ خوښي نشته د هغوی څخه لذت نه اخلي او هره ورځ د هغوی مينه ورسره کميږي.
له بل پلوه هره ورځ د لاړښود تندی غوړيږي او له خپل برياليتوب نه خوند اخلي.
لاړښود د دريم ځل له پاره متفکرينو ته بلنه ورکوي او د سرو د کځوړو شمير ورته ډيروي او له هغوی څخه غواړي چې خلك دې يوازې "هوپ" ووايې.
روڼ اندي بيا هم دا غوښتنه مني، او جملې لنډيږي. خو وګړې نور د دې کلمو په مانو (معنو) نه پوهيږي، او خپګان يې پيل کيږي.
د وګړو خپګان او ځپلتيا او د لاړښود او انډيوالانو خوښي يې ورځ په ورځ ډيريږي. علت يې هم ښکاره دی ځکه چې اوس وګړي د دې کلمو په مانا نه پوهيږي، خو لاړښود او انډيوالان يې د هغې په مانا ښه پوهيږي.

# اور په اور

نه، زه دا داستان د کیسي په بڼه نه وایم، ځکه چې دا یوه ریښتینې کیسه ده دا پیښه چې څنګه پیښه شوې ده همغسې یې درته وایم.
د هغه وخت د مسیح میلاد نه وروسته او ځای یې هم یو د لوړ نومو(مشهورو) ځایونو څخه دی!!!
ښه اوس چې د کیسي ځای او وخت معلوم شو! رابه شو اصل مطلب ته.
هغه وخت چې مو وښود او هغه هیواد چې مو دروپېژانده په هغې کې یوه غټه شانډۍ (ګودام) وه. په دې شانډۍ کې ډېر زیات د خوراك او پوښاك جنسونه موجود و. خواړه لکه چنې، وریجې، کلول، مې، نسك او سابه یو لوري ته، غنم، وربشې، ګدن، غوړي، صابون او د کالیو او خولیو ټوکران بل لوري ته، هر څه په خپلو ځانګړو ځایونو کې پراته و.
د شانډۍ خاوند ډېر هوښیار، تجربه لرونکی او ذکي سړی و. کلونه یې کار کړی و او د هیڅ نه ډېر څه ته رسیدلی و. په دې ټول وخت داسې څوك نه و را پیدا شوی چې د هغه څخه دې یو دینار اضافه واخلي او یا دې د هغه د مال څخه یو ډکې بوس پټ کړي. خو د څو میاشتو راهیسې څو موږکان د هغه په شانډۍ کې پیدا شوي و او په ډېرې چټکۍ سره مخ په ډېریدو و. حیف او افسوس د دې هیواد په پیسو.
د هغه په شانډۍ کې یې بد حال جوړ کړی و چې دې وضعې د شانډۍ خاوند ډېر وارخطا او اوتر کړی و او هیڅ نه پوهیده چې څه وکړي.
موږکانو په هیڅ شي رحم نه کاوه، ټوکران یې ژویل، خواړه یې یو له بل سره ګډول، پوڅه (پنیر) او غوړي یې له کاره ویستلي و.
البته د شانډۍ تجربه لرونکی خاوند هم لاس تر زنې بیکاره نه و ناست. په ډېره بېړه یې د موږکانو د ورکولو لارې چارې کتلې، خو هیڅ ګټه یې نه درلوده، پوڅې ورځ په ورځ لړیدلې، پوښاك او ټوکران ورځ په ورځ څیرې او سورې کیدل.
د هغه شانډۍ د موږکانو د تمرین ډګر ګرځیدلی و او ټوله شپه او ورځ به پکې موږکان هغه خوا او دیخوا ځغاستل.
موږکان د ډېرو پوڅو، غوړو او نورو شیانو د خوړلو له کبله د پیشوګانو په اندازه لوی شوي او څه نه و پاتې چې د سپو قدر ته لوی شي!

د شانډۍ خاوند ډېر وژونکي ګنډير (زهر) موږکانو ته وشيندل، خو هيڅ ګټه يې ونکړه. څنګه ځيني خلك د ګنډيرو په خوړولو عادت کيږي نه، او د هغې په خوړلو نشه کيږي نه؟

موږکان هم د ګنډيرو په خوړلو عادت شوي و او که يوه ورځ به هغوی ته ګنډير ونه رسيدل د هغې زور به يې د شانډۍ له جنسونو څخه ويسته او ډېر تاوان به يې ورواړاوه. د شانډۍ خاوند څو غټې او تکړه پيشوګانې پيدا کړې او هغه يې په شانډۍ کې پريښودې چې موږکانو ته د خپل کار سزا ورکړي، خو موږکانو هغوی هم وخوړې. نور نو په هيڅ شي هم نه کيدل چې د موږکانو د يرغلونو مخه دې ونيولای شي. د شانډۍ خاوند د غټو لټونو د جوړولو په فکر کې شو چې د هغې په وسيله موږکان ونيسي، هره شپه به څو دانې موږکان په لټونو کې ننښتل، خو څه ګټه؟ د هغې څو چنده به نور زيږيدل!

محتکر نه غوښتل چې تسليم شي. له څه مودې فکر وروسته يې يو نوی فکر وکړ، يو څو اوسپنيزې غټې پنجرې يې جوړې کړې او هغه موږکان چې به د شپې په لټ کې ننښتي و هغه به يې په دې پنجرو کې اچول دې موږکانو ته يې خواړه نه ورکول او هغه به يې وږي ساتل يوه ورځ.....دوه ورځې......درې ورځې.......تيرې شوې موږکان چې په ډيرو خوړو اموخته شوي و يو بل ته اړم شول. هغوی چې به قوي و، کمزوري به يې خوړل، او ګيډې به يې ډکولې. په دې ډول موږکانو به د ورځې د درې-څلورو خپلو همجنسو خيټې ځيرولې، او خوړل به يې. د موږکانو پنجره د جګړې په ډګر بدله شوې وه. د وخت په تيريدو، په هره پنجره کې يو-يو غښتلی موږك پاتې شو، چې د خپلو همجنسانو د خوړلو عجيبه مينه ورسره پيدا شوې وه. تجربه لرونکي محتکر د پنجرو کړکۍ پرانستې او دا موږکان يې په شانډۍ کې واچول. په ډېر لږ وخت کې هغه موږکانو چې د خپلو همجنسانو خوړل يې عادت شوي و، له شانډۍ څخه د موږکانو نسل ورك کړ.



## د ختیځ د بیا رغونې اداره (کور)

## Khatiz Organization for Rehabilitation (KOR)

د ختیځ د بیا رغونې ادارې (کور) د خپرونو څانګې تر اوسه خپاره کړې دي:

۱. د سند باد پېښې، د ماشومانو لپاره په زړه پورې مصورې کیسې
۲. د طرابلس زمریان ، د لیبیا په مظلوم ولس د ایتالیایي یرغلګرو د ظلم انځورونکې قصه
۳. ولسي ملغلرې، د پښتو متلونو او ولسي قصو مجموعه
۴. لنډۍ، د ۴۰۰۰ په شاوخوا کې لنډۍ، راټولونکی سیدال غریبیار
۵. د خوب نړۍ، خوب د ساپوهنې له نظره
۶. د سینې ناروغي او توبرکلوز، د طب د زده کوونکو او ډاکترانو لپاره طبي کتاب
۷. تشخیصي راډیولوژي، د طب د زده کوونکو او ډاکترانو لپاره طبي کتاب
۸. جراحی اعصاب (جلد اول)، کتاب طبي برای محصلین طب و دکتوران جراح
۹. رهنمای عملي کاربرد دواها، کتاب رهنما برای نسخه نویسي درست ادویهٔ اساسي
۱۰. د کمپیوټر اساسات، ویندوز او کمپیوټري محاوره د کمپیوټر په اړه بشپړ معلومات
۱۱. The Ethenic Composition of Afghanistan
۱۲. اوښکې د بنو په سر، د ډاکتر محمد یونس مروت شعري ټولګه
۱۳. رهنمای عملی طبابت اطفال
۱۴. د جزا قانون شرحه، لومړی کتاب
۱۵. د درملو د استعمال عملی لارښود، ډاکتر مالتي وان بلومردر
۱۶. د اپینو لار، تاریخي قصه، استاد عبدالغفور بریښنا
۱۷. د اروا پوهنې ښوونځي، د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې د پوهنځي درسي کتاب
۱۸. نغوتې او نغوړې، ولسنامه نه شهنامه، لطیف جان بابي
۱۹. افغانستان: فیډرالیزم، محمد انعام واک
۲۰. د پرښتې خواب، د خو لنډو کیسو مجموعه، حفیظ الله تراب
۲۱. په لومړنیو ښوونځیو کې د ژبې د زده کړې لارښونې او ستراتیژي
۲۲. د هوښیارتیا تله
۲۳. خرمړی

د خپلو کتابونو د تصحیح، تایپ، ډیزاین او چاپ لپاره زموږ سره په دې پتو په تماس کې شئ:

Dr. M. Farid Bazger
G.P.O. Box 607, Peshawar, Pakistan

Tel. +92-91-841280, 845637, 45504 یا 844202 Fax. +92-91-841089
E-mail: kor_bazger@hotmail.com , farid_bazger@hotmail.com

او یا د دعوت د خپرونې له لارې: C/O M.Tariq Bazger

P.O.Box 289, 2001 Lillestrom, Norway
Phone: +47-90856195
Fax: +47-63875971
E.mail: dawatnet@start.no ,Website:http:/home.no.net/dawatnet



**Written by:**
**Aziz Naseen**

آریان پښتو کتابتون
2022
+971501455350
ARYAN PASHTO LIBRARY

ترکي لیکوال "عزیز نسین" په ځوانۍ کې
چې د دې کتاب د لیکلو په جرم
په پنځلس کاله قید محکوم شو.

# Dead Donkey

(A collection of
Social Stories
by famous Turkish writer)



**Translated by:**
**Dr. M.Farid Bazger**

د خټیځ د بیا رغوني اداره (کور)
Khatiz Organization for Rehabilitation(KOR)